# شهامت

امریکا دې !

د دوحې تړون ژمنې پوره کړي !

دیارلسم کال، پنځمه، پرلپسې ۸۵مه ګڼه،
رجب المرجب ۱۴۴۲هـ ق، فبروري ۲۰۲۱م

## که امریکا تړون مات کړ!

څه به تر لاسه او څه به له لاسه ورکړي؟



- د دوحې تړون او کابل اداره!
- د تړون ساتنه راته ولې مهمه ده؟
- پیـمان دوحه و اثرات مثبت آن بر منطقه
- د دوحې له تـړونه د اسلامي امارت لاسته راوړنې
- د دوحې تړون په تنفیذ کې د جانبینو کتې...!!
- د دوحې تړون؛ د افغانستان او امریکا امنیت تضمینولای شي؟
- د دوحې تړون لومړنی کلیزه، هیلې او اندیښنې !
- مانعین صلح وثبات درکشور کیها اند؟
- اسلام کې له کافرانو سره شوي تړونونه !

د دوحې تړون د ارزونې په ځای

باید د هغه نیمګړتیاوې ور پوره شي!

د افغانستان په نږدې تاریخ کې
د اشغال د خاتمې تړونونو ته لنډه کتنه

د دوحې تړون د لومړۍ کلیزې په مناسبت د سیمنار ګډونوالو ته

د افغانستان اسلامي امارت د مرستیال

## خلیفه ملا سراج الدین (حقاني) پیغام

د دعوت ارشاد او جلب و جذب کمېسیون مسؤولینو ته

## د مولوي امیر خان متقی د وینا متن

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، پنځمه، پرلپسې۵مه گڼه، رجب المرجب۱۴۴۲هق، فبروری۲۰۲۱م

## لـــړلیـــك


| گڼه | عـــنـــوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| 1 | سرليکنه........................................................................ | ۱ |
| 2 | د دوحې تړون په ویاړ د خلیفه صاحب ملا سراج الدین حقاني لخوا پیغام | ۳ |
| 3 | د دعوت و ارشاد ... کمېسیون مسئولینو ته د متقي صاحب وینا.... | ۴ |
| 4 | د دوحې تړون د ارزونې په ځآی باید دهغه نیمگړتیاوې په گوته شي | ۸ |
| 5 | د دوحې له تړونه د اسلامي امارت لاسته راوړنې !..................... | ۱۳ |
| 6 | د دوحې تړون په تنفیذ کې د جانبینو گټې !! ......................... | ۱۶ |
| 7 | د دوحې تړون او کابل اداره !...................................... | ۲۰ |
| 8 | که امریکا تړون مات کړي څه به ترلاسه او څه به له لاسه ورکړي؟ | ۲۳ |
| 9 | پیمان دوحه و اثرات مثبت آن برمنطقه ............................ | ۲۷ |
| 10 | د غدر قبیحه څېره ..................................................... | ۳۱ |
| 11 | د افغانستان په نږدې تاریخ کې د اشغال دخاتمې تړونونه ........... | ۳۳ |
| 12 | گلوریني پاڼې ............................................................ | ۳٦ |
| 13 | د دوحې تړون؛ د افغانستان او امریکا امنیت تضمینولای شي! ....... | ۳۸ |
| 14 | د دوحې تړون لومړنی کلیزه، هیلې او اندیښنې !...................... | ۴۱ |
| 15 | مانعین صلح وثبات درکشور کیها اند؟................................ | ۴۴ |
| 16 | اسلام کې له کافرانو سره شوي تړونونه ! .............................. | ۴۷ |
| 17 | د تړون نه تنفیذ به سیمه او نړۍ دواړه به بې ثباته کړي! ........... | ۵۱ |
| 18 | از ۲٦ دلو تا ۱۰ حوت ............................................... | ۵۳ |
| 19 | که د دوحې تړون مات شي! ............................................ | ۵۵ |
| 20 | د دوحې تړون د یوه کال په اوږدو کې ................................ | ۵٦ |
| 21 | د لویو لارو غمیزې مو کوم عصر ته ورگرځوي؟ ........................ | ۵۹ |
| 22 | د طالبانو لیک او د امریکا د دوو اندیښنو پر وخت ځواب یې !؟ ...... | ٦۵ |
| 23 | د حوت ۱۰مې په ویاړ د تحلیلي سیمینار یو تأثر !! .................... | ۷۰ |
| 24 | شهادت ، غزا ، او تړون درې واړه مو فتحې دي! ........................ | ۷۲ |


**دامتیازخاوند :**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیـر :**

ابو ظهیر

**کتـنـپـلاوی :**

لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

**بـیـــــه :**

یوه گڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

**تخنیکي مسؤل :**

تخنیکي څانگه

**یـــادونـــه**

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان برېښنالیک :Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

# امریکا دې!

## د دوحې تړون ژمنې پوره کړې !

هو! یو کال وړاندې د قطر هیواد په پلازمینه (دوحه) کې د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي دفتر او د امریکا متحده ایالاتو د حکومت ترمنځ د اشغال پای ته رسولو په اړه کې یو تاریخي هوکړه لیک لاسلیک شو.په کوم کې چې د امریکا متحده ایالاتو حکومت د اشغالو پای ته رسولوپه برخه کې لاندې مهمې ژمنې وکړې چې:

له افغانستانه به خپل ټول ځواکونه وباسي.

بندیان به ازادوي.

او تورلیست نه به د اسلامي امارت د غړو نومونه وباسي.

که څه هم تردې مهاله دیادو مسؤولیتونو په سرته رسولو کې امریکا ځیني مثبت گامونه هم پورته کړي دي، لکه خپل لوی شمیر عسکر ویستل،، ډرونه بریدونه او شپیني عملیات بندول او د دواړو غاړونه شپږ زره بندیان ازادول او همدا راز د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره زمینه برابرول، دا هغه پرمختگونه اولاسته راوړنې یادیږي چې د یاد هوکړه لیک دلاسلیکولو محصول گڼل کیږي خو پردې علاوه په هوکړه لیک کې د نورو یادو شو یو شمیر ژمنو په پوره کولو کې یې هغسې چې لازم وه اوده امریکا خپل پوره مسؤولیت ندی اداء کړی.

د بندیانو خوشي کولو په لړکې که څه هم تردې مهاله د امریکا په متو د ولاړې کابل اداري لخوا پنځه زره طالبان او د افغانستان اسلامي امارت لخوا دکابل اداري زر تنه بندیان خوشي شوکړای شوي دي، خو پردې علاوه لا تراوسه هغه اووه زره نور بندیان ندي خوشي کړای شوي، دکومو خوشي کولو په اړه چې امریکا د دوحې په تړون کې ژمنه کړې وه حال داچې د هغوی کورنۍ او خپلوان په ډیره ور خطایي سره د هغوی د خوشي کولو منتظر دي .

همدا راز امریکا ژمنه کړېوه چې د۲۰۲۰ زکال د مې ۱۷ مې نیټې پورې به تورلیست څخه د افغانستان اسلامي امارت دغړو نومونو د ویستو کوښښ کوي، خو تردې مهاله نه د تورلیست نه دافغانستان اسلامي امارت د غړو

نومونه وویستل شول اونه پرهغوی باندې لګیدلي بندیزونه او قیوادت لغوه شول کوم چي دېخوا پـه ځیـر هغسـې پـه تورلیست کې پاته دي او دا د دوحې تړون د کړو ژمنوڅخه د تخلف او وربانديې دنه عمل ښکاره بېلګه ده.

هر چي په ا فغانستان اسلامي امارت پورې د ژمنو پوره کول اړه لري ،تراوسه داسې شواهد او قـراین شـتون نلـري چي وښيي امارت کومې د اسې دلې یا فرد ته په افغانستان کې دشـتون اجـازه ورکـړې ده چـې هغـه د امریکـا متحـده ایالاتو امنیت ته ګواښ دی! او نه په راتلونکي کې بـه چاتـه اجـازه ورکـړې چـې هغـه دې د امریکـا او یـا د هغـې د متحدینو امنیت ته ګواښونه پیدا کړي.

نوغرض دا دی چې د افغانسـتان اسلامي امارت دکړو ژمنتیاوو څخه یو ادنی تخلـف هـم نـدی کـړی، تـردې چـې دوحې تړون د ژمنو پوره پلي کولو په موخه یې د تیر یوکال راهیسـې لوی جنګي عملیات او بریدونـه متوقـف ګرځـولي دي څو مقابل جهت ته دتړون د تخریب او ماتولو بهانه په لاس ورنشي، چې دا کار د سولې اوثبات دټینګښت په برخـه کې داسلامي امارت د صادقانه عزم او قوي ارادې ښکارندوي کوي.

نو ښه داده چې امریکایان د دې پرځای چې اسلامي امارت ته د پړې ګوته و نیسي، باید هغوی پخپله ذمه اخیسـتې مسؤلیتونه سرته ورسوي، دا چې په وروستیو کې امریکا کې د سیاسي بدلون راتلو وروسـته د رسنیو پـه قـول: دامریکـا نوی ولسمشر غواړي د دوحې په تړون باندې بیا کتنه وکړي او نوې ارزونه یې وکړي د سـیاسي چـارو کتونکـو پـه انـد: دامریکا دحکومت لخوا د بیاکتنې یا ارزونې دغه اراده تردېره مجهوله ده، ښکاره نده چې امریکا دکومې اړتیا له مخې غواړي په تړون بیا کتنه وکړي؟ هو! که امریکا غواړي چې دا ځانته معلومه کړي چې په هـوکړه لیـک بانـدې څـومره عمل شوی دی او څومره نقض شوی دی ؟ نو دا بیا پرځای ګام دی، ځکه هغه وجوهات اولاملونه پیژندل پکار دي دکومو له امله چې د تړون په ژمنو باندې عمل د ځنډ او خند سره ښکاردی.

اوکه وربانديې بیا کتنه د یاد تړون د لغوه کولو مفهوم و لري نو دا کار به نه یـواځې پـه افغانسـتان او منطقـه کـې دامریکا اعتماد ته زیان ورسوي بلکې دا ګام به په نړیوال دګر کې هم دامریکا لپاره یو اخلاقي شکسـت ثابـت شي او له دې وروسته به په نړۍ کې دامریکا سیاسي اعتبار زیات ټکان وخوري او هم به یې د نړیوالو ترمنځ په قول او عمل کې شته تضادات نور هم را بربنډ شي،ورته په کتو به بیا څـوک دیتـه زړه ښـه نکـړي چـې کینـي دامریکـا سره دي د سیاسي ستونزمنو قضایاوو د حل و فصل په موخه دغه ډول هوکړې لاسلیک بامعنی ګام وبولي، هرڅوک بـه دامریکـا د قول، کردار او عمل ترمنځ د تضاد واټن په لیدو امریکا باندې نورهم بې باوره شي او په راتلونکي کې به یې سیاسي رول او کر دار ته نړیوال د لا شک اوفریب په نظر سره وګوري.

## د افغانستان اسلامي امارت د مرستیال

# الحاج خلیفه ملا «سراج الدین حقاني» حفظه الله پیغام

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علی رسول الكريم امابعد! قدرمنو قلموالو ورونو!

تر هر څه وړاندې تاسو ته د دې تاریخي ورځې او تاریخي توافقنامې د لومړۍ کلیزې په مناسبت مبارکي وایم.

همدارنګه د هیواد د ازادۍ په لاره کې د روانو جهادي، سیاسي او فرهنګي بریاوو دې هم درته مبارک وي.

که حالات مساعد وای ضرور به مې په دې مجلس کې ګډون درسره کړی وای خو في الحال به په دې پیغام اکتفاء وکړو.

په دې لار کې چې زموږ څومره خواږه ملګري شهیدان شوي دي، هغوی ټولو لره د خدای تعالی نه په جنت کې لوړې درجې او ورپاتې کورنیو ته یې جمیل صبر او نعم البدل غواړم! څرنګه چې تاسو ښه پوهیږئ چې زموږ او ستاسو د دې سپیڅلي صف پرسیاسي، جهادي اوفرهنګي وحدت نن تقریباً ټوله نړۍ اعتراف کوي، دوستان او دښمنان دواړه پرې معترف دي، چې دا یو نه ماتیدونکی فکري، عقیدوي او ملي صف دی، نو ضروري ده چې موږ نور هم پرخپلمنځي یووالی او وحدت باندې اعتصام وکړو.

خپلې هغه بریاوې چې د توري په ډګر کې د سرښندونکو مجاهدینو د سپیڅلو وینو په برکت ترلاسه شوې؛ د هغوی د حفاظت لپاره نور هم خپلو مسئولیتونو ته متوجه سو. او دا ترهرڅه زیات د اهل قلم او اهل علم ورونو مسئولیت جوړیږي.

زه په دې اعتراف کوم چې تاسو غونډې اهل قلم مجاهدینو د سنګر د مجاهدینو ترڅنګ ستر قلمي جهاد ترسره کړی، نن ورځ چې زموږ د سپیڅلو سرښندونکو مجاهدینو د قربانیو خارق العاده داستانونه د دنیا والو ترغوږونو او سترګو رسیږي؛ په دې کې د فرهنګي ډګر اهل قلم مجاهدین هم پوره برخه لري، چې زموږ د دې تاریخي جهاد د بریا داستان به د تاریخ په پاڼو کې د همدې قلموالو ورونو له برکته ثبتیږي.

زه تاسو ته داد درکوم چې تاسو د دین او وطن د آزادۍ په لاره کې د عملي جهاد ترڅنګ د ژبې او قلم د جهاد ویاړ هم لرئ. چې بدله به یې د الله په نزد ډېره اوچته وي.

خو د یو شي یادونه زه هم د ځان دپاره او هم ستاسو لپاره ضروري ګڼم، هغه دا چې زموږ او ستاسو دا قربانۍ به هله ښه ثمره راوړي چې په دې سپیڅلې عبادت (جهاد) کې مو نیت خالص د الله تعالی لپاره وي، او د عبادت په نیت په دې لاره کې برخه واخلو او دا په پام کې ولرو چې موږ به الله تعالی ته د زرې، زرې حساب ورکوونکي هم یو، څومره بدله چې له الله غواړو، همداسې مو امتحان هم سخت دی.

اسلامي امارت د خپلې ژمنې له مخې د توافق نامې د عملي کولو پوره کوشش کړی دی، حالات یې کنټرول ساتلي دي، له توافق نامې وروسته په بهرنیانو باندې یو برید هم ندی شوی، چې دا زمونږ په خپل عهد باندې د وفاء دلیل دی، مګر د مقابل لوري تخلفات او غلطۍ په شمېر کې له زرو څخه اوړي، همدا راز د امریکا نوي حکومت په لوی لاس د بې اعتمادۍ فضاء جوړه کړې ده، که چېرته د توافق نامې د عملي کولو باور غواړي بیا دې د تړون په ارزونه کې نه هېروي چې د نقض په صورت کې به عواقب ډېر ورته خراب وي بیا هم مونږ په دنیا غږ کوو چې په لوی لاس دې جنګ ته لاره نه هواریږي او جوړ شوی اعتماد دې په بې اعتمادۍ نه بدلیږي.

په آخر کې یوځل بیا د فرهنګي کمیسون مسئولینو او ټولو کارکوونکو ته د دې سیمینار د رابللو او ټولو مطبوعاتي هڅو کې د بریا دعا کوم، تاسو او په دې سیمینار کې ټولو ګډونوالو ورونو ته د دې ویاړمنې ورځې چې د هیواد د اشغال د خاتمې تاریخي تړون پکې لاسلیک شوی؛ او تاسو یې نن د لومړۍ کلیزې په پار سره را غونډ شوي یاست، لمانځنه یې کوئ؛ مبارکي وایم، الله پاک دې دا توافقنامه زموږ او ستاسو د ځوریدلي ولس د سوکالۍ پیلامه او د هیواد د تلپاتې استقلال وسیله وګرځوي.

ستاسو علمي او فرهنګي هڅې د ډېرې ستاینې وړ دي، الله تعالی دې پخپل دربار کې مقبولې وګرځوي. آمین

والسلام

د افغانستان د اسلامي امارت مرستیال

خلیفه سراج الدین حقاني

## د دعوتُ ارشاد او جلب و جذب کمېسيون مسؤولينو ته

# د مولوي امير خان متقي صيب د وينا متن

**درنو او قدرمنو لوستونکو!**

لکه څنګه چې خبر ياست په دې وروستيو کې د اسلامي امارت د مشرتابه د حکم پر اساس د اسلامي امارت د رهبرۍ شورۍ غړي محترم مولوي امير خان (متقي) صاحب د دعوتُ ارشاد او جلب او جذب کميسيون د نوي مسؤول په توګه ټاکل شوی دی، چې په همدې مناسبت يوه پرتمينه غونډه جوړه او هغې ته د اسلامي امارت يو شمير درنو مسؤولينو ارزښتناکې ويناوې وکړې .

پرځای بولو چې د يادو ويناوو له سلسلې څخه د دعوتُ ارشاد او جلب او جذب کميسون د نوي ټاکل شوی مشر محترم مولوي امير خان متقي صاحب وينا متن د شهامت مجلې له درنو لوستونکو سره شريک کړو. **په درنښت اداره**

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين أما بعد:

فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

[ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ] النحل125 صدق الله العظيم.

د مجلس درنو حاضرينو، علماء کرامو، مشايخو او د امارت درنو مشرانو!

له هرڅه نه مخکې تاسې ټولو ته ښه راغلاست وايو، او له الله تعالی نه شکر ګذاره يو چې هر وخت مونږ او تاسې په داسې محافلو کې سره يوځای کوي چې هلته مو فکر، طرحه او پلان ټول د راتلونکي ديني خدمت ، د خپل وطن د ازادۍ او د اسلامي نظام د حاکميت لپاره وي.

د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې تغير او تبديل يو معمول دی چې مشرتابه کوم ځای چاته مناسب وګڼي هغه د خپل لزوم ديد له مخې همالته تعينوي.

دا د خدای تعالی احسان دی چې په دې تغيراتو کې نه د انديوالۍ ، نه د قوم او نه کوم بل داسې لحاظ کيږي چې هغه نامشروع وي.

له ما نه مخکې چې په دې اداره کې چا خدمت کړی دی، لکه محترم مولوي صاحب عبد الکبير ، محترم حاجي ملا محمد حسن اخوند، محترم مولوي ناني صاحب او محترم ملا عبدالمنان عمري صاحب د ټولو خدمتونه قابل قدر او الله تعالی دې ورته قبول کړي.

واقعا د دعوت او ارشاد اداره يوه درنه اداره او د ستر خدمت ځای دی، او تربل هر وخت يې اوس زيات خدمت ته ضرورت هم دی.

خدای تعالی دې د اسلامي امارت مشرتابه ته اجرونه ورکړي چې دې مهمې ادارې ته يې تل زياته توجه کړې هغه يې يوه بنيادي اداره، يوه د خدمت اداره، او د اسلامي دعوت يوه مهمه مرکزي اداره ګڼلې ده.

تاسې فکر وکړئ په اسلامي امارت کې د اسلامي امارت د واکمنۍ په وخت کې ترټولو لوی مسوولين تر امير المؤمنين مرحوم رالاندې حاجي معاون صاحب الله دې پرې ورحميږي ملا محمد رباني، بيا د هغه نه رالاندې زمونږ درې مشران داسې مشران تير شوي دي چې هغوی د ټولو وزيرانو مشرتوب کړی، د وزيرانو د شورۍ مرستيالي او مسؤليت ورله غاړې شوی او د رياست الوزراء ( دصدر اعظمي) په منصب يې کار کړی دی .

دغه مهم جهادي او ټولنيز شخصيتونه عبارت دي له حاجي ملا محمد حسن اخوند الله تعالی دې صحت او عافيت ورنصيب کړي، محترم مولوي عبد الکبير صاحب الله تعالی

دې ژوندی لرې، محترم مولوي نانی صاحب الله تعالی دې اوږد عمر او صحت ورنصیب کړي.

دا درې کسان د وزیرانو د شورې په راس کې پاتې شوي وو او د دعوت او ارشاد کمیسیون مشرتوب هم په تیرو کلونو کې په نوبت سره همدغه دریو مشرانو کړی.

همداراز محترم ورور ملاعبدالمنان عمري صاحب چې د اسلامي امارت د تأسیسي مشر عالیقدر امیرالمؤمنین درنې کورنۍ ته انتساب لري د اسلامي امارت په اعضاوو کې له مهمو غړیو څخه ګڼل کیږي د دعوتُ ارشاد کمیسیون د مسؤل په توګه وظیفه تر سره کړې .

په هر حال زما دا په یاد دي چې شهید منصور صاحب رحمه الله چې کله یې د دعوت او ارشاد په تشکیلاتو کې د جلب او جذب شعبه اضافه کړه نو مرحوم ملا صاحب الله تعالی دې پرې ورحمیږي، هغه ته حال راولیږه چې په امارت کې خو اوس ترټولو مشر او سپین ږیری سړی محترم حاجي ملا محمد حسن اخوند دی هغه دې د دې کمیسیون مشرتوب حتما په غاړه واخلي ځکه که څوک له مخالف صف نه راووځي د هغوی به وریاندې اعتماد زیات وي.

هماغه و چې محترم ملا محمد حسن اخوند بیا د ملاصاحب مرحوم د دغه ارجحیت له مخې د دعوتُ ارشاد او جلب وجذب کمیسیون مشرتوب قبول او نور ملګري یې همکار شول.

نن الحمد لله د دې ادارې برکت دی چې په زرګونو هغه کسان چې د ناپوهۍ له امله یې د باطل لاره نیولې وه د همدې دعوتي ادارې د هلوځلو له امله له مخالف صف څخه راووځي او له مجاهدینو سره یوځای کیږي، یا کورونو ته ځي او خپل عادي ژوند پیلوي.

دا ډیره لویه خبره ده، دا ستاسې سعادت دی، دا ستاسې نیکبختي ده، چې الله تعالی د دین دومره لوی کار درڅخه اخیستی دی.

زه دا عادت نه لرم چې یوې ادارې ته ورشم او هلته د نورو ورونو پر کړیو خدمتونو سترګې پټې کړم؛ بلکې ټول مسؤل ورونه چې دلته ناست دي تر ما یې خدمت ډیر کړی . تر مایې اهلیت زیات دی، تر ما یې علمیت زیات دی، تر مایې ډیر تکلیفونه ګاللي، سترپاوې یې تیرې کړې او پر دې لاره کې یې پرځان ډیر خطرونه منلي.

نو د دوی ټولو خدمت ته به د قدر په سترګه ګورو، الله تعالی دې ټولو ته د نور خدمت توفیق هم ورکړي.

دا اداره چې اوس تاسې وینئ ورونو، چې سیاسي پروسه روانه ده، همداسې په څنګ کې ورسره نظامي عملیات روان دي او دې ته ډیر زیات ضرورت دی چې د دعوت په سلسله کې هم زیات کار وشي، هغه تیر ایستل شوی کسان چې دښمن خطاء کړي دي، هغوی ته رهنمایي وکړو هغوی باندې رحم وکړو، هغوی باندې شفقت وکړو، هغه څوک چې په مخالف صف کې ولاړ دي د دې ملک بچیان دي د دې ملک انسانان دي، دلته یې اولادونه دي دلته یې کورونه دي، دلته یې ماشومان دي، د دې پرځای چې هغه وژل کیږي او اخرت یې هم خرابیږي که دا سمې لارې ته راشي دا څومره د خوشالي خبره ده، له هر یو سره باید دا فکر وي چې هغه چا ته چې زه دعوت ورکوم دومره خواخوږي ورسره ولرم چې په خپل کور کې یې له چا سره لرم، لکه داسې چې مې نه خوښیږي چې زما ورور دې په باطل صف کې ولاړ وي همداسې باید د هر کس لپاره چې په هغه صف کې ولاړ وي کوښښ وکړو چې هغه له هغه صف نه راووځي، له هغې لارې نه راووځي، د حق او عدل لارې ته راشي، له مخالفت نه لاس واخلي، د اشغال له ملاتړ نه لاس واخلي.

ورونو، موږ او تاسې ته ډیره ښه زمینه مساعده ده، ډیر ښه امکانات الله تعالی راکړي دي تاسې وګورئ له مخالفینو سره د دنیا له ۵۰ ملکونو نه زیات ملکونه ملګري دي د دنیا ټکنالوژي ورسره ده اقتصاد ورسره دی، امکانات ورسره دي وسلې او مهمات ورسره دي، خو د مخالف صف یو کس د دعوت په نامه، د فعالیت په نامه له کابل نه دباندې نشي-وتلی، د کابل ولسوالیو چهار اسیاب، موسهي، پغمان، شکردره او ګل درې ته نشي تللی.

او ته که له هلمنده روان شې که په موټر سایکل ځې، که موټر کې ځې، که پیاده ځې که یوازې ځې که پنځه او لس ملګري درسره وي، کندهار ته ولاړ شه، زابل ته لاړ شه، غزني

ته ولاړ شه، پکتيکا، پکتيا او خوست ته لاړ شه، وردګو ته لاړ شه، څه پسې مشرقي ته واوړه آن تر حصارک خوګيانو پورې، څه څوک دې مخې ته نه دريږي، حتی د يوې توپنګچي ضرورت نشته چې ته يې درسره وګرځوې، څومره زمينه مساعده ده، دا بل طرف ته روان شه له هلمنده نيمروز ته، فراه ته، هرات ته، بادغيس ته، فارياب ته، سرپل ته، او جوزجان ته بيا زه پسې تر مزاره، بغلان، کندز، تخار ان تر ماورا د کوکچې او درقد پورې څوک دې مخې ته نه دريږي، په هر جومات کې دعوت کوه، په هر کلي کې دعوت کوه، په هر بازار کې دعوت کوه، او هرچا ته د حق خبره کوه، هرڅوک له بدو راګرځوه، دا څومره ښه زمينه درته مساعده ده، او مخالفين خوران له خپل مرکز، له خپلې پوستې د باندې نسي راوتلی.

نو ګورئ دا سهولت چې الله تعالی راوستی دی له دې څخه مونږ تاسې بايد ښه استفاده وکړو، زمونږ تاسې څومره برحقه داعيه ده الحمد لله، مونږ چې خلک دعوت کوو د الله تعالی دين ته يې دعوتوو، د اسلامي نظام لپاره يې دعوتوو، د اسلامي خاورې او د وطن د ازادی لپاره يې دعوتوو، مخالفين چې څوک دعوتوي په دعوت کې دا خبره ورته کوي چې تاسې د واشنګټن او نيورياک ساتونکي ياست، تاسې د پرديو د ارزښتونو ساتونکي ياست .

الحمد لله داعيه هم برحقه ده ناره مو هم برحقه ده او ملګري هم په حق باندې ولاړ دي، رهبري مو علماء کرام کوي، مشران يې کوي، شيوخ يې کوي دا څومره د خدای تعالی لوی احسان دی، مونږ او تاسې په صف کې که د چا زوی شهيد شوی وي ورور يې شهيد شوی وي، څوک بندي سوی وي، چې کله په مجلس کې معرفي کيږي افتخارورباندې کيږي چې د فلانکي زوی شهيد شوی دی، دا د فلاني شهيد پلار دی، دا د فلاني شهيد ورور دی..

خو په مقابل صف کې څوک داسې نشي ويلای چې دا د فلاني اربکي پلار دی يا د دې دوه زامن په اربکيانو کې دي يا يې يو زوی په اربکيانو کې دی، بلکې ورباندې شرميږي، نو دا دخدای تعالی احسان دی هم مو داعيه حقه ده، هم مو صف منظم دی، هم مو اتحاد او اتفاق قوي دی.

نو په داسې سلسله کې بايد ډير کوشش وکړو چې څنګه د اسلامي نظام په مخکې خنډونه چې پراته دي هغه لرې کړو، مفسرين د دې آيت په تفسير کې ليکي چې حتی لا تکون فتنة وايي هر هغه شی فتنه دی چې د اسلامي نظام په مخ کې خنډ وي ، نو څومره فتنې چې دي بايد د لرې کولو لپاره يې هلې ځلې وکړو، د له منځه وړلو لپاره يې دعوت وچلوو، کور کور ته ورشو، دروازه دروازه وټکوو ولسوالی په ولسوالی وګرځو چې د مجاهدينو متې راباندې قوي شي، امارت الحمد لله څومره ښه پاليسي لري، څومره ښه پراخ تشکيلات لري، د دعوت دروازه يې خلاصه کړې که څوک دعوت مني، رادې شي غاړه کې به ګلان ورواچوو، که څوک سياسي لاره راسره وړي مذاکرات کوي توافق کوي په معقوله طريقه تګ راسره کوي هغوی ته مو سياسي دروازه خلاصه کړې ده يو ډير قوي مزبوت مذاکراتي ټيم چې علماء او شيوخ او مشران پکې شامل دي هغه ورته جوړ شوی دی او که څوک نه دعوت مني، نه د سياست په لار لار راسره وړي نو د هغوی لپاره بيا ملا تړلي مجاهدين شپه او ورځ په سنګرونو کې ورته پراته دي، هغوی بيا له هغې لارې نه فعاليت کوي.

الحمد لله زمونږ او تاسې کاروانه په ټولو برخو کې ډير ښه روان دي، او الله تعالی به يې نور هم ښه کړي، تاسې ګورئ ترټولو غوره مخلوق انبياء دي، پيغمبران دي، موسی عليه السلام په هغه وخت کې د الله تعالی ترټولو غوره بنده و او فرعون ترټولو سرکشه دښمن و خو دهغه باوجود الله تعالی خپل

پیغمبر ته وایي چې ته ورشه فرعون ته نرمه خبره وکړه هغه ته پسته خبره وکړه، نو ترټولو هغه سخت ترین دښمن چې د خدایي دعوه یې کړې وه الله تعالی خپل پیغمبر ته امر کوي چې پسته او نرمه خبره ورته وکړه، موږ، تاسې هم باید په ډېره نرمی سره، په ډېر شفقت سره هر کار کې چې یو فعالیت کوو قدم اخلو نو الله تعالی ته به ډېرې زاری کوو.

مذاکراتي ټیم ته امیر المؤمنین شیخ صاحب (الله تعالی دې عمر دراز ورکړي) هدایات رالیږلي و چې تاسې کله مجلس ته ورځئ نو دوه دوه رکعته نفل لمونځ ورته کوئ چې الله تعالی مو په هغه مجلس کې برکت واچوي، نو موږ او تاسې به هم په هغه لاره قدمونه ږدو هغه لاره به تعقیبوو په هغه سلسله به رفتار کوو.

بل ورونو زموږ او تاسې خو ډېر کار له علماء کرامو سره ده، دا اداره د علماء کرامو اداره ده، د مشایخو اداره ده دا مشرتابه ته محترمه اداره ده، د علماوو به ډېر قدر کوو، احترام به یې کوو، او په دې کار کې به یې کوښښ کوو چې زیات نه زیات راسره همکار شي، زموږ نور کمیسیونونه دي محدود تشکیلات یې دي خو دعوت او ارشاد هغه اداره ده چې د افغانستان ټولو ولایاتو او ولسوالیو ته او ټولو کلیو ته یې تشکیل غزیدلی ده، او نه تنها په خپل صف کې دننه بلکه له مخالفینو سره یې سروکار ده چې هغوی به راتسلیموي هغوی ته به ډاډ ورکوي، هغوی ته به اطمینان ورکوي څوک چې تسلیم شي څوک چې له مخالفت څخه لاس واخلي د هغوی د امنیت لپاره به کوښښ کوي هغوی سره به په هغه کړې وعده باندې د وفا کوښښ کوي نو دا یوه ډېره اوږده سلسله ده، په دې کې به له ټول ملت نه همکاري غواړو، له علماء کرامو نه به یې غواړو، له ملګرو نه به یې غواړو.

زه وایم چې له تیرو تجربو نه ګټه واخلو او خدای ناخواسته دومره سادګي ونه کړو چې کار له صفر نه شروع کړو، بلکه کار الحمد لله یو حد ته رسیدلی دی، تر ډېره حده ډېر پراخ خدمتونه شوي دي، دا اعلاناتو ته کله کله ګورئ تقریبا اوس د میاشتې له زرو نه تر پنځلس سوه پورې په قلم لیکلي کسان د دښمن له صف څخه راووځي، تسلیمیږي، دا چې ۱۵۰۰ کسان هره میاشت تسلیمیږي، نو څومره نور به خپلو کورونو ته ځي، څومره به هغه وي چې زموږ او تاسې له قلم څخه پاتې وي په خپله وتلي لار یې بدله کړې ده، نو دا ډېر لوی کار ده الله تعالی دې له موږ او تاسې څخه د دین کار واخلي، الله تعالی مو دې په دې لاره کې کامیاب کړي الله تعالی دې هغه خدمت له موږ نه واخلي چې مشرتابه یې په موږه اعتماد کړی ده، او له موږ نه توقع لري او الله تعالی ته مسوول یو.

تر ټولو مهمه خبره دا ده که غفلت وکړو خدای تعالی ته به مسوول یو په دې ملت کې ډېرو خلکو قرباني ورکړي ولس قرباني ورکړي دي، ملت له یتیمانو ډک دی، له غریبانو ډک دی، د دربدره مهاجرو او مسافرو وطن دی.

الله تعالی دې توفیق راکړي چې د دوی خدمت په صحیح طریقه سره وکړو او الله تعالی دې موږ او تاسې ته یو له بل سره د ښې همکارۍ توفیق راکړي الله تعالی دې ټولو ته توفیق رانصیب کړي.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

عبدالرحیم (ثاقب)
لیکوال او سیاسي شنونکی

# د دوحې تړون د ارزونې په ځای

## باید د هغه نیمګړتیاوې ورپوره شي !

د امریکا د متحده ایالاتو د نوي منتخب ولسمشر له ټاکنې سره سم هم د امریکا په دننه او هم له هغې نه بهر د ځینو کړیو لخوا د دوحې تړون د بیا کتنې غوښتنې راپورته کړل شوې.

پر دې چې د دوحې تړون بیاکتنه د چا لخوا او کومو موخو لپاره ترسره کیږي وروسته خبره کوو ، په پیل کې غواړو د تړون مواد او د اړونده لوریو لخوا د هغو پر عملي کولو لېږ مکث وکړو.

په تړون کې اساسي مواد څه دي؟

### د امریکایانو پر ذمه:

۱- له افغانستان څخه د ټولو امریکایي او د هغوی د متحدینو پوځي ځواکونو وتل.

۲- په دوو مرحلو کې د ټولو طالب زندانیانو خلاصون.

۳- له تور لیست څخه د اسلامي امارت د چارواکو د نومونو حذفول.

۴- د افغانستان څمکنۍ بشپړتیا په رسمیت پیژندل او د هغه په کورنیو چارو کې د امریکا او د متحدینو مداخله نه کول.

### د إسلامي امارت پر ذمه:

۱- اسلامي امارت به د ځان په شمول هیڅ ډلې او یا فرد ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت وګواښي.

۲- إسلامي امارت به ښکاره پیغام خپروي چې دوی به نه له هغه چاسره مرسته کوي چې امریکا او د هغوی متحدینو ته ګواښ پېښوي او نه به هغوی ته په افغانستان کې ځای ورکوي.

۳- إسلامي امارت به په افغانستان کې د تړون د ژمنو مطابق د امریکا او د هغوی د متحدینو د امنیت له ګواښلو څخه د هرې ډلې یا فرد مخنیوی کوي، او د نظامي فعالیتونو تر سره کولو لپاره به یې کوربه توب نه کوي.

۴ـ إسلامي امارت به له هر هغه چا سره چې په افغانستان کې پناه اخلي یا د استوګنې غوښتنه کوي، د مهاجرت د نړیوالو قوانینو او په تړون کې د شویو ژمنو سره سم چلند کوي، او هغو بهرنیانو ته به کوم چې د امریکا او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي، افغانستان ته د ورننوتلو لپاره ویزه، پاسپورټ، او نور قانوني اسناد نه ورکوي.

د پورتنیو موادو عملي کول د تړون پر دواړو لوریو پوشان الزامیت لري. راځئ وګورو چې هر لوري څېله برخه مواد څومره عملي کړي دي؟

## امریکایي لوری:

د تړون په متن کې په وضاحت سره ویل شوي چې د تړون له اعلان سره سم به په څوارلسو (۱۴) میاشتو کې امریکایان خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه باسي.

چې په دې برخه کې امریکایانو له خپل لوري د ورکړل شویو اعلاناتو له مخې له څو ادو څخه خپل پوځیان ایستلي او د دوي د احصائیو له مخې فعلا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شمیر (2500) تنه دی.

په تړون کې د شوي ژمنې له مخې د کابل اداري له زندانونو څخه د امریکایانو په دستور ۵۰۰۰ طالب زندانیانو خوشي کړل شول.

## د اسلامي امارت لوری:

اسلامي امارت هم د خپلې ژمنې مطابق لاندې اجراآت ترسره کړي:

د تړون له لاسلیک کیدو سره سم یې پر امریکایي ادو او د ادو د تخلیې پر مهال پر امریکایي وسائطو او پرسونلو باندې پوځي عملیات متوقف کړل.

په تړون کې له شوې ژمنې سره مطابق یې (۱۰۰۰) د کابل اداري اسیران له بنده خلاص کړل.

له بین الافغاني جهتونو سره یې بین الافغاني مذاکرات پیل کړل.

د کابل اداري د ځواکونو پر خلاف یې د کلنیو پوځي عملیاتو اعلانول متوقف او پر لویو ښارونو یې د سترو تهاجمي بریدونو کچه محدوده کړه.

## اوس جنجال پر څه دی ؟

اوس چې د تړون پر لاسلیک کیدو پوره یو کال تیریږي د اسلامي امارت او امریکایي لوري ترمنځ د تړون د موادو د عملي کیدو او نه عملي کیدو پر سر جنجال راپورته شوي او دواړه لوري یو بل په بشړ ډول د تړون په نه عملي کولو تورنوي.

اسلامي امارت وایي چې امریکایي لوري د تړون د متن په لومړۍ برخې کې په لاندې ډول ژمنه کړې:

(( د: د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به متحده ایالتونه د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، د غړو په خلاف د متحده ایالتونو د اوسنیو بندیزونو او د جایزې لیست د اداري بیا کتنې بهیر په دې هدف پیل کړي چې دغه بندیزونه به د ۸/محرم/۱۴۴۲هـ ق – ۲۵/اسد/۱۳۹۹هـ ش – ۱۵/ اګست/ ۲۰۲۰م تاریخ پورې لرې کړي.

هـ : د بین الافغاني مذاکراتو له پیل سره به متحده ایالتونه د ملګرو ملتونو د امنیت شورى له نورو غړو او افغانستان سره په دې هدف ډیپلوماتیکې هڅې پیل کړي چې د ۲۴/رمضان/۱۴۴۱هـ ق – ۲۸/ثور/۱۳۹۹ هـ ش – ۱۷/مې/۲۰۲۰م تاریخ پورې د بندیزونو له نوملړ څخه د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، د غړو نومونه وایستل شي.))

خو اوس چې پر دې تاریخ نیږدې اووه میاشتې تیرې شوې نه د اسلامي امارت پر غړیو د امریکا لخوا لګیدلي بندیزونه رفع شوي او نه یې هم نومونه د ملګرو ملتونو د امنیت شورى له تورلیست څخه ایستل شوي او نه هم د اسلامي امارت نور هغه (۷۰۰۰) بندیان خلاص شوي چې په تړون کې یې د امریکایانو لخوا د خلاصولو ژمنه شوې.

امریکایي لوری ادعاء لري چې د تړون د ضمائمو شپږمه ماده صراحت لري چې دواړه لوري (اسلامي امارت- کابل اداره) به کوښښ کوي چې په تدریجي ډول به په اصطلاح تاوتریخوالی تدریجا راکموي .

((۶- د دې موافقتنامې تر لاسلیک وروسته به دواړه خواوې کوښښ کوي چې د سرتاسري سولې د راتلو په خاطر په تدریج سره تاوتریخوالی راکم کړي، او د ملکیانو ساتنې ته به خاصه توجه کوي.دواړه جهتونه به کوښښ کوي چې په ټول افغانستان کې د بریدونو شمیر زیات نه کړي.))

خو د بین الافغاني مذاکراتو تر لومړي پړاو پیلېدو وروسته لیدل کیږي چې په افغانستان کې تاو تریخوالی زیات شوی چې له امله یې هره ورځ د هیواد په لویو ښارونو په تیره کابل ښار کې په لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوړي.

چې له همدې امله د ملګرو ملتونو د وروستي رپوټ له مخې په تیرکال کې د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې خواو شا درې زره کسان مړه او په زرګونو نور ژوبل شوي.

دا ملکي تلفات د هوايي بریدونو، پر ولسي- سیمو د هوانونو او توغندیو توغولو ، ماینونو ، تهاجمي بریدونو او هدفي وژنو په ترڅ کې تر سره شوي.

که څه هم چې د ملګرو ملتونو په راپور کې په غرضي ډول اسلامي امارت د ۴۵ سلنې ملکي تلفاتو مسؤل ګڼل شوی خو که په واقعبینانه توګه هغه خونړۍ پېښې وڅیړل شي چې د یادو تلفاتو لامل شوی بیا به څرګنده به شي چې د هغوی اساسي لامل امریکايي خواکونه او کابل اداره دي او که اسلامي امارت؟

## د تاوتریخوالي ډیرې پیښې چیرته شوې؟

که د دوحې تړون تر لاسلیکېدو وروسته د تاوتریخوالي د زیاتیدو پیښو ته وکتل شي نو تر ټولو ډیرې هغه یې په کابل ښار کې شوې کوم چې ډیره ساحه یې تر دولتي واکمنې لاندې او د امنیت ساتلو په نوم ورکې زرګونه بهرنې پوځیان همدلته ځای پر ځای دي.

غواړو په کابل ښار کې د تاوتریخوالي د زیاتوب ځینې مهمې پیښې یې د موضوع د وضاحت لپاره دلته یادې کړو.

د ۱۳۹۹ کال د ثور د میاشتې په ۲۳ نیټه د کابل د دشتي برچي پر ښځینه روغتون برید چې خواو شا (۴۵) تنه ورکې ووژل شول.

د ۱۳۹۹ کال د جوزا پر ۱۳ د وزیر اکبرخان جامع مسجد پر امام استاد ایاز نیازي انفجاري برید.

د ۱۳۹۹ کال د جوزا پر ۲۳ د شیر شاه سوري جامع مسجد پر امام مولوی عزیزالله (مفلح)انفجاری برید چې له امله (۱۱) کسانو ته مرګ ژوبله ورسیده.

د ۱۳۹۹ کال اسد د میاشتې پر ۲۸ نیټه پر کابل ښار د ۱۲ میزایلو لومړی راکیټي برید ترسره شو چې له امله یې ۱۱ تنه ژوبل شول. د ۱۳۹۹ کال د اسد په ۲۹ نیټه د سولې پر یوه پلوي استاد عبدالباقي امین انفجاري برید.

د ۱۳۹۹ کال د عقرب پر ۱۷ نیټه د یما سیاوش پر لیږدونکي موټر انفجاري برید چې له امله یې د سیاوش په شمول درې کسان ووژل شول.

د ۱۳۹۹ کال د عقرب د میاشتې په ۳ نیټه پر کوثر دانش کورس خونړی برید چې له امله یې (۷۵) مړه او ژوبل شول.

د ۱۳۹۹ کال د عقرب د میاشتې په ۱۲ پرکابل پوهنتون خونړی برید چې په ترڅ کې یې (۳۰) کسانو ته مرګ ژوبه واوښتله.

د ۱۳۹۹ کال د قوس د میاشتې په لومړۍ نیټه پر کابل ښار د ۲۳ میزایلو دوهم توغندویي برید وشو چې له امله یې (۴۰) کسانو ته مرګ ژوبله واوښتله.

د ۱۳۹۹ کال د جدی د میاشتې پر دریمه د آزادو انتخاباتو د ټولنې پر مشر یوسف رشید انفجاري برید.

د ۱۳۹۹ کال د دلوې د میاشتې په ۱۷ د جمعیت اصلاح پر مشر محمد عاطف انفجاري برید وشو.

د ۱۳۹۹ د دلوې په ۳۰ نیټې د کابل پوهنتون پر استاد مبشر مسلمار انفجاري برید وشو.

## ولې په کابل ښار کې د تاوتریخوالي زیاتوالی؟

سره له دې چې کابل د هیواد د پلازمینې پـه توګـه هغـه ښار دی چې د ټول هیواد په نسبت یې ډیره برخـه د کابـل د اداري تر واکمنۍ لاندې ده او همدا راز تر ټولـو ډیـر زیـات بهرني ځواکونه همدلته میشت دي خوا بیـا هـم لیـدل کیـږي چې د ټول هیـواد پـه کچـه کابـل ښـار تـر ټولـو نـاامن او د تاوتریخوالي ډیر واقعات دلته پېښیږي.

د تاوتریخوالي د پېښو ګراپ دقیقا هغه مهـال تـر ټولـو لوړې کچې ته هسک شـو چـې کلـه د روان کـال د میـزان د میاشتې په ۲۴ نېټه امرالله صالح د کابل ښار امنیت دنـده پـر غاړه واخیستله.

په کابل کې د سختو امنیتي تدابیرو تر څنګ د یاد ښار په واټونو او همداراز د هغه په لویشت ، لویشت ساحه کـې د څار او مراقبت داسې کامرې نصب دي چې د هر سړي یـو ډیرعادي حرکت هم څارلی شي مګـر د دې هرڅـه بـاوجود نیسږدې هـره ورځ یـاد ښـار د دوو او دریـو بمـي چـاودنو او امنیتي پېښو شاهد وي.

په کابل ښار کې ډیری پخواني امنیتي افسران ، د پارلمان وکیلان او حتی عام کابل ښاریان په دغو ورځنیو پېښـو کـې دولت په تیره امرالله صالح ښکیل ګڼي.

او د ښکیلتیا لامل یې هم دا بولي چې څرنګه چې کابـل ښار د هیواد په سطحه هغه سیمه ده چـې اکثریـت نړیـوالې رسنۍ دلته شتون لري او د تاوتریخوالې هره پېښه په هماغـه لحظه کې ټولې نړۍ ته منعکـسوي.

داچې د دوحې تړون له مخې د راتلونکې مـی ــ ثـور ــ میاشتې په را رسیدو سره به ټول بهرني پوځیان لـه افغانسـتانه وځي او دا خبره د کابل اداري لپاره د یـوه بالفعـل انتحـار پـه توګه تلقي کیږي نو هغوی کوښښ کوي چې په هره ممکنـه وسیله وي د تړون د ناکامولو هڅه وکـړي تـر څـو د بهرنیـو ځواکونو په پاتې کیدو سره د هغوی د بقاء شـیبې څـه نـورې هم اوږدې شي.

همدا راز د دوحې په تـړون کـې د کابـل اداره د امریکایـانو لخوا په کلي ډول له پامـه غورځـول شـوې ، هغـوی کوښـښ کوي دا تړون ناکام او په راتلونکې بل تړون او یـا هـم د دې تړون په بیا ارزونه کې په یوه ډول نه یـوه ډول ځـان مطـرح کړي.

څکه نو کوښښ کوي چې له خپل لوري په کابـل ښـار کې د خپلو اړونده ډلو ( داعش او نـورو اجـرتي قـاتلانو پـه وسیله پر علماوو او سیاسي فعـالانو داسـې بریدونـه تـر سره کړي چې له یوې خوا خپل سیاسي مخالفین ورباندې له منځه یوسي او له بلې خـوایې پـه تبلیغـاتي لحـاظ پـره پـر اسـلامي امارت ور واچوي.

له بل لوري د کابل اداري رسمي لـوړ پـوړي چـارواکي لکه د اشرف غني د مرستیال په توګه امرالله صالح، د هغـه د ملي امنیت مشاور حمدالله محب ، د ملي امنیت د شـورا مهـم غړی جنرال دوستم په ښکاره داسې څرګنـدونې کـوي چـې تاوتریخوالی زیات او د ډیرو خلګو وینې و بهیږي.

د بیلګې په ډول امرالله صـالح د روان کـال د جـدي د میاشتې په (۲۹) د په اصطلاح شورای عالي حاکمیـت قـانون غونډه کې وویل چې د اسلامي امارت نیول شوي بندیان بایـد اعدام شي.(٤)

که دکابل ښار همدې ټولو خونړیـو پېښـو تسلسـل تـه وکتل شي هغه یو هم پوځي هدف نه دی، بلکې مولـوي ایـاز نیازي، مولوي عزیزالله مفلح، استاد عبدالباقي (امین) اسـتاد محمد عاطف او استاد مبشر مسلمیار ټول هغـه اشـخاص دي چې په خپلو بیانیو او موعظو کې به یې په ښکاره د کابل پـر اداري نیوکې کولې.

دا به کوم منطق وي چې اسلامي امـارت پـه مسـاجدو کې هغه علماء په نښه کړي چې هغوی د رژیم مفاسد خلګو ته بیانوي او پر هغوی نیوکې کوي؟

## كه د دوحې تړون له سره وارزول شي؟

اوس راځو دیته چې که د دوحي تړون له سره وارزول شي امریکا او په افغانستان کې د سولې له ټینګښت سره به څه مرسته وکړي؟

سره له دې چې هم د امریکایي چارواکو او هم د کابل اداري لخوا د دوحې تړون د بیا ارزونې خبرې کیږي خو د ارزونې څرنګوالی یې نه دی معلوم چې څه ډول به وي؟

مثلا که د تړون په بیا ارزونه کې د هغه د پلي کیدو کمیت او کیفیت معلومیږي چې د کوم لوري لخوا څومره عملي او څومره نقض شوی دا پر ځای خبره ده ، او نه ده چې دا معلومه شي چې هغه څومره عملي شوی.

او که بیا ارزونه د هغه د لغو کیدو په معنی وي دا به د امریکا هغه معاهداتي اعتبار زیان من کړي چې له ډیرو هیوادونه سره همدا شانته نور ډیر امنیتي معاهدات لري.

مونږ ولیدل چې د امریکا پخواني ولسمشر- ډونلډ ترمپ له ایران سره د بارک اوباما له لوري لاسلیک شوی اتومي تړون لغو کړ خو نن یې فعلي ولسمشر جوبایدن بیرته بیا ځلي لاسلیکولو ته اړ دی.

که اوسني امریکایي ولسمشر له اسلامي امارت سره د دوحې تړون لغو کړي بیا به په نړۍ کې هیڅوک له امریکایانو سره دغه شان تړونونو لاسلیکولو ته زړه ښه نه کړي.

## نتیجه:

د امریکا لپاره د هغه تړون لغو کول چې د سپینې ماڼۍ د کلونو سیاسي هلوځلو په نتیجه کې رامنځته شوی په افغانستان کې داسې بې ثباتي او نا امني ته لاره پرانیزي چې بیا به نه امریکایان ، نه ملګري ملتونه او نه هم د دې تړون اسانچاري او منځګړي د هغې د کابو کولو توان ولري.

دې تړون د هغه په پلي کیدو کې له نیمګړتیاوو سره سره د سولې د تحقق په لاره کې کافي مزل کړی (۶۰۰۰) اسیران د هغه په وسیله خلاص شول، بین الافغاني مذاکرات پیل شول، په نسبي دول د اسلامي امارت او کابل اداري ترمنځ د مخامخ خبرو او تفاهم فضا میسره شوه او ....

که له دې ټولو لاسته راوړنو سره سره بیا هم دا تړون لغو کیږي بیا به ډیر وخت او جُهد ته ضرورت وي چې بیاځې همدومره پرمختګ ته زمینه سازي وشي.

لهذا د امریکا نوې اداري ته په کار ده چې د تړون د بیا ارزونې پر ځای د هغه د تطبیق په لاره کې د شته موانعو په لیرې کولو غور وکړي او هرڅومره ژرچې ممکن وي د افغانستان اشغال ته د پای ټکي کیږدي.

ځکه افغانستان د سریښو ډنډ دی څومره چې ورکې امریکایان ځنډیږي په هغه اندازه به له ماتې او تاوان سره مخ کیږي.

پای

(https://www.bbc.com/persian/afghanistan-55701312) (1)

د دې مقالې د ییښو په لیکه کې له نن ټکي آسیا، بي، بي، سي، طلوع نیوز او دویچه وله ویب پاڼو څخه استفاده شوې ده.




# د دوحې له تړونه

# د اسلامي امارت لاسته راوړنې

مولوي محمد ابراهیم نبیل

الحمدلله رب العالمین و العاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدٍ و علی آله و اصحابه اجمعینَ و بعد!

فقد قال الله تعالی فی محکم کتابه و هو اصدق القائلین :
أعوذ بالله من الشیطان الرجیم :

وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (26) [ الانفال ] صدق الله العظیم

د سیمنار نوم او مقتضا ته په پام مې خپله مقاله ( د دوحې له تړونه داسلامي امارت لاسته راوړنې) تر عنوان لاندې ترتیب کړې، هیله ده د پام وړ مو وګرځي .

تر هرڅه مخکې به دا خبره واضح کړو چې د اسلامي امارت لاسته راوړنې د دې بنسټ د مسؤلینو او اشخاصو لاسته راوړنې اوګڼې نه دي چې خیر او منفعت یې یواځې دوی ته رسیږي، بلکې د دوحې له تړونه ټولې لاسته راوړنې دافغانستان اود افغانستان دمسلمان ولس لاسته راوړنې دي،که څه هم په دې لار کې دافغانستان داسلامي امارت درهبري له مقامه نیولې بیا تر ادنی فرده پورې ټولو نه هیرېدونکې قربانۍ ورکړې، خو له دې هم سترګې نه شي پټېدای چې مجاهدینو دغه منزل د ولس له ملاتړ او همکارۍ پرته هیڅکله هم نه شوای ترسره کولای، نو په دې توګه ویلای شو چې افغان مسلمان مجاهد ولس ترې په خو برابره زیاتې قربانۍ ورکړې .

د سمینار چاپیریال او ماحول غوښتنه کوي چې د دوحې له تړونه د افغانستان اسلامي امارت لاسته راوړنې مشخصاً په ګوته کړو د وخت نزاکت په نظر کې نیولو سره سره به کوشش وکړو چې په اجمال بسنه ونه شي او ترخپله وسه یې په تفصیل سره رواخلو ترڅو دمقالې حق ادا او ټولې لاسته راوړنې ښکې راونغاړل شي .

که په عمومي ډول په دغو لاسته راوړنو نظر واچوو نو په دوه ډوله یې ویشلی شو: لومړی سیاسي یا بهرنۍ او دویم نظامي یا کورنۍ لاسته راوړنې .

## د اشغال خاتمه :

که د دې تړون له ټولو ګټو او لاسته راوړنو تېر شو او په بشپړ تنفیذ سره یې یواځې داشغال پای او خاتمه په ګوته کړو؛ هغه لاسته راوړنه ده چې دافغانستان په تېر تاریخ او را وروسته کې به یې بېلګه او مثیل ترلاسه نه شي.د زبرځواکونو د انسان وژونکو پرمختللیو وسلو او د اتوم په زمانه کې چې پر اقتصاد هم د دوی قبضه وي؛ د خپلواکۍ رسمي وثیقه ترلاسه کول وړه او آسانه خبر نه ده.تر ټولو مهمه داچې د هر ډول پرمختګ، ښېرازۍ او هوساینې لومړی دروازه خپلواکي او استقلال ده، که استقلال ونه لرو له نړۍ سره دسیالۍ او پرمختګ هره هڅه بې ځایه، دتعقل او دوراندیشۍ خلاف عمل دی،ځکه خو اسلامي امارت په وار وار واضحه کړې چې زمونږ لومړیتوبونه اسلامي ارزښتونه او د هیواد علیا مصالح دي.

## په نړۍ کې سیاسي اعتبار

دسیاسي یا بهرنیو لاسته راوړنو په برخه کې د تړون په ترسره کېدو سره چې اسلامي امارت په نړۍ کې کوم حیثیت او اعتبار ترلاسه کړ. دسیاسي تنظیمونو په حیث څه چې ډېرو هیوادونو به هم دومره اعتبار او حیثیت نه وي ترلاسه کړی، ځکه دا تړون له یوه، دوو هیوادونو سره نه! بلکې په حقیقت

کې له ټول غرب، امریکا او اروپا سره هغه سیاسي معاهده ده چې دسیمې دهیوادونو، ملګرو ملتونو او امنیت شورا په ګډون د ټولو معتبرو سازمانونو حضور او ملاتړ یې په برخه و ، او سره له دې چې دکابل حکومت د دوی په لاسو جوړ حکومت و خو بیا یې هم دیو هیواد او ولس دنماینده او استازي په ډول دافغانستان له اسلامي امارت سره معامله ترسره کړه او دوی یې دهغوی حقیقي استازي وبلل، دنن په دنیا کې دغه سیاسي اعتبار دهیوادونو په سطحه دکلونو خورا کامیابې ډیپلوماسۍ په نتیجه کې هم نه ترلاسه کیږي، خو اسلامي امارت د یوې سیاسي معاهدې په ترڅ کې ترلاسه کړ .

### خپله سیاسي ځیرکتیا په دنیاوالو منل :

دغه راز د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ مقام، سیاسي کمیسیون او په ټوله کې د طالبانو سیاسي درایت او ځیرکتیا ټولې نړۍ ومنله بلکې په نړۍ کې ډېرو خوځښتونو او نورو نهضتونو ته یوه نمونه تګلاره او اسوه هم شوه .

### په افغانستان کې دنه مداخلې تضمین :

د تړون په متن کې په صراحت سره لیکل شوي چې " متحده ایالتونه او متحدین به یې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ په ضد له ځواک او ګواښ څخه کار نه اخلي او نه به یې په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي" دافغانستان د خپلواکۍ او استقلال وثیقه همدا ده دا هغه وثیقه ده چې دنړۍ په تاریخ کې به چاته نه وي ورکړل شوې او که ورکړل شوې وي هغه به بیا هم افغانستان وي، په نړیواله رسمي سطحه په هیواد کې دنه مداخلې سند تر ټولو مهمه لاسته راوړنه ده چې دافغانستان اسلامي امارت افغانستان ته ترلاسه کړه

دنظامي یا کورنیو لاسته راوړنو په برخه کې هم ډېر څه شته چې اسلامي امارت په خورا ځراکت او دکامیابې ډیپلوماسۍ په نتیجه کې ترلاسه کړي چې ځینې به یې مشخصاً په ګوته کړو:

### د بندیانو خلاصون :

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده دتړون په ړومبنیو بندونو کې د ړومبي شرط په توګه د (۵۰۰۰) بندیانو خلاصون ځای په ځای شوی و ، که څه هم د دې بند په ترسره کېدو کې تاخیر راغی او لکه څنګه چې د تړون غوښتنه وه په هغه بڼه ترسره نه شو، خو خپلو کورونو ته د دغو بندیانو راستنېدل اوله زندانه خلاصون یې هغه لاسته راوړنه ده که خدای مه کړه تړون نور په ټوله معنی عملي هم نه شي له خپل ټول نړیوال حیثیت سره سره یې په دې ارزي چې یواځینی محصول یې همدا دبندیانو خلاصون شي، په ربښتیا چې اسلامي امارت دخپلو افرادو او ماتحتو مجاهدینو ژوند او صحت ته خورا زیاته پاملرنه لري او په دې برخه کې جدیت یې ډېر ښکاره دی .

### د ډرون حملو بندېدل :

دامریکایي اشغال په وړاندې مقاومت ډېرې لوړې ژورې او سختې مرحلې په مخ کې لرلې، په دې کې شک نه شته چې امریکا او ناټو په نظامي لحاظ د دې عصر-تر ټولو پرمختللي قوتونه دي، هغه وسائل او وسلې چې د دوی عسکر پرې سمبال دي مقابل او سیال به یې څوک نه وي، ځمکنې او هوایي تجهیزات یې ډېر پرمختللي او مدرن دي ، د دوی د دې جنګي اوزارو په وړاندې مقابله خورا سخته او ستونزمنه وه، خو هوایي بمبار او په ځانګړي ډول ډرون حملې یې دیادولو وړ دي چې له شک پرته ډېرې خطرناکې او اغېزناکې وې، دتړون په ترسره کېدو سره تر ډېره د دې حملو بندېدل مجاهدینو ته مهمه او حیاتي لاسته راوړنه ده .

### د شپني عملیاتو توقف :

له دې سره په څنګ کې د تړون له مخې دشپنیو عملیاتو توقف هم هغه مهم او ارزښتمن ګام دی چې په عملي کېدو سره یې زمونږ ولس دآرام ساه واخیسته اوملکي تلفات چې عمده لامل یې بمبار او شپني عملیات و تر ډېره حده کم شول، مجاهدین چې په وسلو سمبال او دغه ډول پېښو ته په تیارسۍ کې وي له دې عملیاتو تر ډېره نه متضرر کېدل، خو عام ولس چې د دغسې حملو په وړاندې یې هیڅ دفع نه لرله ډېرې قرباني یې همدوی وو .

### د نظامي افرادو د تلفاتو کمې :

لکه څنګه چې امریکایان دتړون له مخې مصؤن شوي، په ورته ډول د مجاهدینو او نظامي افرادو په مرګ ژوبله کې هم تخفیف راغلی او دتړون د لاسلیک له ورځې راهیسې که څه

هم ځای ځای سرغړونې شوې، خو په ټوله کې له دې ارخه داسلامي امارت دنظامي افرادو او مجاهدینو په تلفاتو کې دپام وړ کمی راغلی .

## له تور لست څخه د نومونو ویستل :

دامریکا دیرغل له بیلابیلو حملو او بندیزونو څخه یو هم په تورلست کې د اسلامي امارت د مسؤلینو نومونـه شـاملول و ، له هغوی سره د شوې معاهدې له لاسته راوړنو څخه یوه هـم لـه دې لست څخه دنومونو ویستل دي، کـه څـه هـم پـه دې برخـه کې ټول کار نه دی تمام شوی او دځینو مسؤلینو نومونه لاهم په دې لست کې شامل دي، ولې د ځینو نومونو ویستل، ښکاره ده چې لاسته راوړنه ده او مونږ وینـو چـې ډېری مشـران بیلابیـل خارجي سفرونه هم ترسره کوي .

## د افغانستان هر ډول پرمختګ زمینه سازي :

د دوحې تړون چې په ټوله کې دامن او سولې رامنځته کېدو ته لومړی اساسي قدم دی پـه عمـلي کېـدو سره يـې ټولـو اساسي پرمختګونو او خوښیو ته لاره هواریږي او پاتـه نـاخوالې اوناورینونه ورسره له منځه ځي . د دې تـړون پـه انعقـاد سره پـه هیواد کې هر ډول پرمختګ ته لاره هواره شوه، کـه چیرتـه ټـول په ټوله عملي شي شک نشته چې د دې هیواد دپرمختـګ اولـه سیالو هیوادو سره دسیالی اساس به همدا تړون وي .

## د افغان ولس ښېرازي، هوسايي، ....

د تړون د ځینو مادو په عملي کېدو سره چې مخکـې يـې هم یادونه وشوه دافغان مسلمان ولـس نسـبي هوسـاینه رامنځتـه شوې چې تریوحده له کړاوونو ، تهدید او مرګ ژوبلې څخه پـه کرار شول . خوکه په بشپړ ډول عملي شي او ټولې خواوې ورته خپله ژمنتیا وښیي نوله شک پرته چې دهیواد په ټولو برخـو کـې بـه زمـونږ ټـول ولـس ورسره آرام اوراحـت شي، خکـه امـن بـه رامنځته شي اودامن په رامنځته کېدو سره به دا خوربـدلی ولـس له کړاوونو او خوره خـلاص شي. نـو ویـلای شـو چـې دافغـان ولس هوساینه اوسوکالي هم د دې تړون نغده لاسته راوړنه ده .

## پـه افغانسـتان کـې د ټولشـموله اسـلامي نظـام قايمېدو ته زمينه سازي :

د اسلامي نظام قائمېـدل داسـلامي امـارت تـر ټولـو سـتر اواساسي هدف دی داسې هدف چې له نشـأته یـې تـردې دمـه ټولې خوراې، قرباني او کړاوونه د دې هدف دترسره کېدو لپاره وې ، په تړون کې دامادہ په ځای کول چې " متحـده ایالتونـه او د افغانستان اسلامي امارت... یو له بل سره مثبتې اړیکې غـواړي او هیله لري چې د متحده ایالتونو او د بين الافغـاني ډیـالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته د نـوي افغـان اسلامي حکومت تر منځ اړیکې مثبتې وي" د دې هدف د ترسره کېـدو په لار کې لومړی قدم او مهمه لاسته راوړنه ده . لـه دې پرتـه لـه همدې داعیې سره تر تړونه رسېدل داسلامي نظام رامنځته کېدو ته پخپله یوه زمينه سازي ده چې دابیا پـه خپلـه د تـړون ترحـده یوه لاسته راوړنه ده .

د دوحـې د تـړون لاسـلیک او بیـا پـه داسـې مجلـل ډول مراسـمو کـې چـې نـړدې د ټـولې بارسـوخه او مؤثرې نـړۍ د هیوادونو د خارجه وزیرانـو او سـفیرانو پـه سـطحه دیپلوماتـانو پکې ګډون درلود په حقوقي ډول د اسلامي امارت پـه رسـمیت پېژندنه ده، نه تنها په رسمیت پېژندنـه، بلکـې د اسـلامي امـارت داعیه برحقه ګڼل دي او ټولې هغـه دعـوې یـې حقیقـت مـومي چې له اشغال سره د مقاومت په دوره کې یې غبږ پورته کړی . په دې ډول داسلامي امـارت او امریکـا تـرمنځ د دوحـې تـړون داسلامي امارت ډېره ستره بریا ده .

د دوحې له تړونه داسلامي امارت لاسته راوړنـو پـه برخـه کې مې دغه یوځوټکي راټول دي ، مـا پـه خپـل فکـر د دې وړ بللي چې ستاسو په مخکې يې عـرض کـړم، خـودا مـې هـم زړه مني چې تاکلي موضوع ته به کافي نه وي اولکه څنګه چې پـه کار وه هغسې مې دموضوع حق نه دی اداکړی .

په پای کې د دې سیمنار د دایرولو ابتکار ستایم، په رښتیا هم په دغسې زماني مقطع کـې دغسـې اجتماع ډېـره ضروري اوپه افغانستان کې دسولې او امـن درامنځتـه کېـدو پـه لار کـې خورا مثبت ګام دی .

الله تعالی دې نور زمونږ هیواد دامن زانګو کـړي اومتعـال ذات دې دغه خوربدلي ولس ته هوسایي وړ په برخه کړي .

# د دوحې تړون په تنفیذ کې د جانبینو کټې...!!

موسی فرهاد

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !!

الحمدلله حمداً کثیراً طیباً مُبارکاً فِیه، کَمَا یُحِبُّ رَبُّنا ان یُحمَدَ وَیَنبغِي لَهُ...امابعد.

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم

« وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ »— صدق الله العظیم.

د ډېرو درنو او قدرمنو حاضرینو ! مشرانو، همځولو او کشرانو !

موږ او تاسو نن ورځ دلته د یوې تاریخي شیبې د تجلیل او یادښت لپاره را غونډ سوي یو، که څه هم د موقع تقاضا خو دا ده چې دلته باید د فاتح او مغلوب لوري ترمنځ تفکیک وکړل شي، مګر تر دې قضاوت فی الحال موږ تیریږو، او دا پریکړه ځمکنیو واقعیتونو او راتلونکي تاریخ ته پرېږدو، دا ځکه چې بشري فطرت دا دی چې شکست خورده هم د بریو دعوا لري.

انګریزي استعمار پخپل زعم دا نه تعبیروي چې د افغانانو د توري په وړاندې یې شکست خوړلی، او د امپراتورۍ زوال یې له همدې تورزنو جهادي غرونو او درونه، پیل شوی، بلکې وایي چې پخپله خوښه یې د ډیورنډ لاین او بیا د هندوستان د ویشلو د یو توافق په پایله کې له دې سیمې پښې سپکې کړې.

روسان هم وانمود کوي چې دوی د جنیوا د تعاهد په آساس له افغانستانه وتلي.

عیناً همدا خبره نبایي نن سبا هم زمزمه شي، چې ګویا راغلي فقط د همدومره مودې او همدومره اهدافو ترلاسه کولو لپاره وو. وبس.

مګر ځمکني حقایق بیا بل څه وایي چې هر باشعوره وګړی یې ادراک کولای سي.

دلته زموږ هدف د هغو مفاداتو ذکر کول دی، چې د دوحې د تړون له لاسلیک وروسته، د هغه په تنفیذ کې جانبینو ته رسیږي، خو د دې لپاره لومړی یوې ځغلنده کتنې ته اړتیا سته چې امریکا څنګه دلته راغله، څه یې غوښتل، څه یې وکړل، څه یې ترلاسه کړل، او څنګه بالآخره د دوحې تړون رامنځ ته شو؟

د یولسم ستمبر پېښه په نیویارک کې رامنځ ته سوه، علل چې یې هرڅه او عامل چې یې هرڅوک وو؛ خو سزاء یې افغانستان، عراق بلکې ټولې اسلامي نړۍ ته ورکول سوه.

هغوی چې په لومړیو کې څنګه اټکل کړی وو؛ پایلې یې له هغه نه بلکل 180 درجې برعکس او منفي راووتې. څومره مالي، ځاني او سیاسي زیان چې امریکا د افغانستان په جګړه کې لیدلی؛ ښایي د دوی د راتلونکو نسلونو لپاره یې د تاریخي شکستونو یوه نمونه جوړه سي.

سره له دې چې افغان ولس یې هم په اور کې د ژوندي سوځولو ترحده وځوراوه.

د امریکا او د دوی د لویدیځو ائتلافیانو له لاسه د نړۍ زیاتره بشریت ته، عموماً مسلمانانو ته، خصوصاً افغان بیچاره ولس ته دا نړۍ د اور په سره تبۍ.

بدله شوه، یو یشتمه پیړۍ پر هغوی په داسي حال کې را دبره سوه، چې امریکا فقط اېتم بم نه دی وړباندي کارولی، نور یې تر هغه را لاندي د موړپلار په نامه نیمه اټومي او فاسفورس بمونه، او نور هر ډول بیولوژیکي او کیمیاوي وسلې وړباندي وکارولي.

د اوبو پرڅای یې د انساني وینو ویالي وبهولي. سوکالۍ او آرامـي یـې تـري ولوټلـه، د وطـن پـالنې احسـاس لرونکـې انسـانان یـې د ګوانتنـامو غونـډي وحشي جزیرو کې بند کړل، د آزادۍ ورکولو پرڅای یې ځیني وګړي د زور، زر او ډالر په مټ وپلورل، تر ننه د غلامانو په څېر کار تري اخلي، او د خپلو خلکو پرضد یې جنګوي.

خلاصه دا چې د وخت استعمارګران هم ظلم کوي، وحشت کوي، یرغل کوي، د نورو خپلواکي له منځه وړي، عزت او کرامت یې لوټي، بشري حقونه تر پښو لاندي کوي، مالي استثمار کوي، وژني او ربړوني کوي، خو له دې هرڅه سره سره، ځان عادل او منصف هم ګڼي..؟!

هوښیاران وایي، په ظالمانو کې تر ټولو بدترین ظالم هغه انسان دی چې له ظلم کولو سره سره ځان بیا هم عادل، منصف او مظلوم ورته ښکاري.

لکه قرآن کریم چې یې ښه تصویر وړاندي کړی: « وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ»–البقرة،11)

بهر حال د افغانستان هغه خونړۍ جګړه چې د ۲۰۰۱کال په آخر کې د اشغال له امله رامنځ ته شوې وه؛ دا جګړه، یوې لسیزې ته په نږدې کیدو وه چې امریکایي کارپوهان له خپلې جنګي ستراتیژۍ څخه مایوسه شول، هڅې یې پیل کړې ترڅو د اسلامي امارت له لوري همیشه وړاندیز شوې فارمولې (مذاکراتو) ته مراجعه وکړي، او په دې توګه له ناګټونکې جنګ نه داسي ځان خلاص کړي چې ورسره یې نړیوال وجاهت هم

یوه اندازه خوندي وي ظاهره خبره ده چې داسي یو کامیاب آپشن، دوی فقط د مذاکراتو پر میز موندلای سوای.

له همدې ځایه وه چې د یو نیم کال اوږدې مودې، خو کامیابو خبرو اترو په پایله کې د امریکا او اسلامي امارت ترمنځ د دوحې تړون په نامه د اشغال د خاتمې توافقنامه لاسلیک سوه.

دا چې دا توافق د جانبینو مخصوصاً د امریکایي جانب لپاره څومره بدیهي ګټې لري؛ په دې کې خو هیڅ شک نسته او نه ورڅخه انکار کیدای سي چې د جنګ پرڅای مسئله په خبرو حل کیږي. امریکایان او ائتلافیان یې بیرته خپلو وطنو ته ستنیږي، د مرګ له صحنې ځان وباسي. هم خپل ژوند ژغوري او هم له هغه بشري جنایاتو لاس اخلي چې د بې ګناه افغان ولس په قتل عام سره یې دا شل کاله ترسره کول دا راز له بې شمېره جنګي مصارفو او د وسایلو له بې خرته استهلاک څخه خپل هیوادونه ساتي.

دا خو یې هغه بدیهي ګټې دي چې انکار ورڅخه ناممکن دی، مګر هغه عمده او ستري ګټې چې امریکایانو د نظامي تیري په اراده، د یرغل په ابتدا او بیا د اشغال په دوام کې غوښتل ترلاسه کړي؛ طبعي ده چې هغه به له لاسه ورکوي، اما یو ښه بدیل یې موندلای شي خو فقط د دوحې تړون د تنفیذ له لاري، نه د جګړې او اشغال د دوام له طریقه.

امریکا چې په پټو سترګو پر افغانستان برید کاوه، هیڅ ډول سازش او نرمي یې نه منله. ښکاره خبره ده چې د دوی د ستراتیژیک استعماري اهداف ډېر اوچت ول، د ترلاسه کولو لپاره یې حالات هم مساعد ورته برېښیدل، ځکه چې د برید لپاره یوه پلمه په لاس ورغلې وه، که څه هم کمزوري بهانه وه، او د طالبانو حکومت ډېر کمځواکه ورته ښکاریده، لهذا د افغانستان په اشغال کې هغوی تقریباً نیمه آسیا

مستعمره کولای شوای. د نیمي آسیا ولکه کول؛ ظاهره خبره ده چې د امریکا د واک غځوني او زبرځواکی لپاره ستره لاسته وروړنه وه.

خو له عواقبو یې دومره ناسنجیده وو ، د امریکایي کارپوهانو له اوسني ندامت نه څرګندیږي چې که دوی دا جګړه د نیمي لسیزي لپاره هم متصوره کړې وای؛ ممکن هیڅ برید یې نه وای کړی، خو اوس دوی دوې لسیزي په جګړه کې داسي ښکیل پاتي شول چې هیڅ تصور یې نه کاوه.

مالي او ځاني تلفات یې دومره وګالل چې د دوی خپلي اداري یې په اړه داسي وایي:

د امریکا د ټیکس یا ګمرکي محصولاتو د اداري د یو راپور له مخي؛ هغه امریکا چې یو وخت یې په پرلپسې توګه په هره یوه ثانیه کې 752 ډالره ګټل، ولي اوس یې د ګټي پرځای، زیان ته مخه کړې، د جګړې له کبله د هري ثانیې په تیریدو سره 231 ډالره مالي زیان ورته رسیږي.

ځکه چې د جنګ د هري ورځي پوځي مصارف له 25 نه تر 28 میلیونه ډالرو پوري رسیږي. چې په دوه لسیزو کې دومره لوی مصارف خورا ملاماتوونکي ثابتیدای شي.

د الجزیرې د 2016م کال د یو راپور په آساس په یوه نیمه لسیزه کې د امریکایي یرغل له لاسه په افغانستان عراق او نورو سیمو کې 600 شپږسوه زره پوځي او ملکي وګړي تلف شوي، تر 7 میلیونه زیات وګړي مهاجرت او بې کورۍ ته اړ شوي. او په همدې موده کې امریکا ته تر 13$ تریلیونه ډالرو مالي زیان رسیدلی دی
.

نو دې ټولو تخمیني او سرسري احصائیو ته په کتو، سړی دې نتیجې ته رسیدلای شي چې امریکایي واکمنو ډېره ناسنجیده پریکړه کړې وه چې پر اسلامي نړۍ خصوصاً پر افغانستان یې یوه ناروا جګړه پیل کړي. داسي یو بې هدفه او ناکامه جګړه چې اوس دوی خپله په دې باور دي چې هیڅکله به یې د ګټلو خوب رښتیا نشي. پرته له دې چې ورځ تر بلې یې زیاته مرګ ژوبله وزغمي، ملا ماتوونکی مالي زیان یې وګالي او بالاخره نړیوال غرور او حیثیت یې له خاورو سره خاوري شي.

لکه څنګه چې مو یادونه وکړه چې اوس امریکایي واکمن پخپله هم پرخپله پریکړه ندامت ښیي، د بیلګې په توګه به یې یوه وړه خبره درته ذکر کړم:

د ۲۰۱۷م کال د مئ په میاشت کې د امریکا د کانګرس دوه غړي، (ولټرېبي جونز او ورسره جون ګرام ایندې)، د کانګریس د ودانۍ پر مخامخ د تصویرونو یو اوږد لیست را ځوړند کړ په دې لیست کې د 568 وژل شویو سمندري پوځیانو عسکونه وو، دا تقریباً ټول د یوې سیمي یعني یوې ولسوالۍ خلک وو، د کومي ولسوالۍ چې د کانګرس دغه غړی ولټرجونز هم اوسیدونکی دی. او دا پوځیان ټول د افغانستان او عراق په جګړه کې وژل شوي وو.

د کانګرس دغه غړی چې آرټودوکس عیسایي دی؛ له خپلو نورو شریکانو سره په ګډه خبري غونډه راوغوښتله او خلکو ته یې وویل، زه تر هرڅه وړاندي له الله څخه غوارم چې ما وبخښي، وای ما ډېره ستره غلطي وکړه چې بوش ته مې پر افغانستان او عراق د جګړې په حق کې رایه ورکړه.

دوی وویل، موږ به نور د کانګرس له لاري داسي قانوني هڅې پیل کړو چې نور د امریکایي ولس د مالیې پیسې په افغانستان کې پر پوځي عملیاتو او انسان وژنې ونه لګیږي.

ولټر جونز په ژړا د هغه ۵۷۸ وژل شویو عسکرو لیست ته وکتل، ویې ویل دا ټول زما د سیمي زما د ولسوالۍ وژل شوي ځوانان دي. موږ ډېره ستره تیروتنه وکړه چې خپل ځوانان مو مرګ ته ولیږل.

د کانګرس د غړو دا خبرې او دا واقعه مورډ یوې بیلګې په توګه یاده کړه چې په امریکا کې هم اوس بیخي لوی اکثریت پر خپلو استعماري جګړو پښیمانه ښکاري او ځان تاواني ګڼي.

کله چې دوی خپله اعتراف کوي چې دې پرغلو نه، نه یوازې دا چې د دوی هغه ستراتیژیک اهداف یې ورته ونشوای ګټلای، بلکې برعکس تر اټکل پورته اخلاقي، مالي، ځاني، او د حیثیت زیان یې ورته واړاوه او دوام یې نور هم نقصانات ورته زیاتولای شي؛ نو طبعي ده چې بدیله لاره یې همدا تړون او تفاهم دی چې دوی له ناکامې جګړې خلاصولی شي.

دا چې د دې تړون له طریقه به د دوی لویه بدیله لاسته راوړنه څه وي؛ په لاندې ډول یې ذکر کولای شو:

امریکا او ورسره د ناټو موجوده ائتلاف په حیث د یو زبرځواک د تاریخ په اوږدو کې د دې لیوالتیا لرله چې په جنوبي او منځنۍ آسیا کې داسې ریښې ولري چې د خپلو بالقوه یا بالفعله حریفانو په سترګو کې تیره اغزی ثابت شي او یا لږ تر لږه د خپلو حریفانو د پراختیا غوښتنې په مخکې دفاعي خط ولري خو دا کار هیڅکله ورته ممکن نه شو، فقط یو ځل چې د شوروي یرغل په وړاندې د مجاهدینو په مالي، تسلیحاتي او اخلاقي تنګه کې لویدیځوالو ته دا زمینه مساعده شوه، خو هغه هم نیمګړې.

ځکه چې د هغه وخت له جهادي مقاومت سره د امریکا او غرب دوستانه هم پر دوه مخې بنا وه، تر بریا وروسته یې نه یوازې د مجاهدینو سره دیپلوماتیک روابط ونه ساتل، بلکې د تخریب او فاصلو پیدا کولو او کمزورې کولو لاره یې ونیوه.

له همدې ځایه وه چې بیا هم د امریکا او لویدیځ هغه آساسي ارمان پوره نشو، او په دې سیمه کې یې له هر ډول مؤثر شتون څخه ځان بې برخې باله

تر دې چې د ناین الیون یا یوولسم سپتمبر د واقعې په پلمه یې د عملي هجوم پریکړه وکړه، عملاً یې دې کار ته را ودانګل، چې پس له دوو لسیزو هغه هم ناکام بریښي.

اوس که دوی بیرته د مخکنیو تیرې کوونکو په څیر او د خپلو تیرو اشتباهاتو په تکرار سره عقب نشیني کوي؛ ممکن تر پخوا زیات د خپلو ارمانونو په ترلاسه کولو کې پاتې راشي.

خو که چیرې د دوحې د شوې تاریخي تړون په پوره تنفیذ سره د یو دیپلوماتیک سیال او بشري دعویدار په توګه چلن وکړي، شایې چې دا کار یې د هغه ارمان په ترلاسه کولو کې اغیزمن ثابت شي چې دوی یې په دې سیمه کې خصوصاً په افغاني جغرافیه کې په لټه کې ول، البته په دومره واضح توپیر چې په خوا به یې په استعمارګرانه، دوه مخې استخباراتي، غیربشري او غیر دیپلوماتیک شکل ترلاسه کول غوښتل؛ او همیشه به له ناکامۍ سره مخ ول، خو اوس به یې د دې برعکس د یو بشري دیپلوماتیک سیال په توګه دومره اغیزمن شتون وي چې هیڅکله به دا جغرافیه نه د دوی د ګټو خلاف کاریږي او نه به دوی ته د پخوا په شان د دې زمینه سازه وي چې نور ورڅخه خطر محسوس کړي.

او دا واقعیت دی ځکه چې اسلامي امارت پر همداسې یو ریښتیني سیاست باور لري او په همدې کې د خپل هیواد، خپل ولس او خپل راتلونکي بقا ویني.

زه فکر کوم دا هغه ستره لاسته راوړنه ده چې هم د افغانستان پخیر ده او هم د امریکا او د امریکا د لویدیځو اندیوالانو په ګټه ده. ومن الله التوفیق

هیله ده چې خسته سوي نه یاست.

ستاسو له توجه څخه یو جهان مننه

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

# د دوحې تړون او کابل اداره!

م -عزيزي



هر چاته لکه لمر روښانه ده، بلکې دوست او دښمن وربانـدې ګـواه او شـاهد دی چـې نـږدې دوه لسـيزې وړانـدې ږومبی امریکایانو او اشرباڼو يې دافغانستان په حريم او حرمت يرغل راوړ، زرګونه مجهز پوځيـان يـې د افغانسـتان پـه پاکه خاوره ښکته کړل، يو رښتينی اسلامي نظام يې ړنګ کړ، وروسته بيا امريکـا د المـان پـه بـون ښـار کـې د هغـو يـو شمیر جهاد فروشو ډلو ټپلو ، له ترکیب څخه چې د کمونيستي رژيم له سقوط وروسته يـې د افغـان مقـدس جهـاد پـاک ارمانونه په اوبو لاهو کړل، د شر او فساد او خپل منځي جګړو په لمبو يې افغانستان لولپه کړ، د هغوی د استازو او هـم د غرب په کلبونو او رستورانتونو کې د را لويو شويو افغان نما څېرو په ګډون د افغانستان لپـاره يـو تـالېختي رژيـم رسـم، جوړ او بيا يې په الوتکو کې کابل ته راوړ، ځوک يې ارګ ته دننه کړل، ځوک يې وزيران کړل او چاته يـې ولايتونـه اونورې مهمې دندې وسپارلې.

د افغانانو به کله هم هېر نشي چې د امريکايانو په حلقه بګوش غلامانو کې د جهاد او مجاهدينو يـو شـمېر داسـې قائدين او رهبران هم شامل وو، چې ځانونو ته يې په فقه، شريعت او حديثو کې له پوهاندی او پروفيسـوری ښـکته پـه بل څه نه قانع کېدل؛ خو چې کله امريکايانو ورته د ډالـرو بنډلونـه وشـرقول لـه هـرډول هـرکلي، فتـواوو عـلاوه يـې د امريکايانو د بې باون الوتکو له ججورو څخه د خرواړونو بمونو په ناتار سره يواځې دا وويل ، چې دابمونه زيات واړه او کمکي کمکي دي، بايد تر دې درانه او زيات ويجاړونکي وکارولی شي، تر څو د ده د ناترسه هوس له مخې، ډېر افغانان ووژل شي او ډېرې لمبې د افغانستان په ستمديده سينه کې بلې شي، د جهاد يو بل رهبر او پوهاند داسې هـم و، چـې کلـه د امريکا د هغه وخت ولسمشر جورج ډبليو بوش کابل ته په دوره راغلی و، ددې لپاره چې ځـان بـه نمـبر ون غـلام ثابـت کړي؛ په ارګ کې په خپله ماته او ګوډه انګريزي ژبه بوش ته وويل،

ښاغليه!

ځان هسې مه ستومانه کوئ، خپل قيمتي عسکر او تکنالوژي بې ځايه مه استعمالوئ، ته ماته د سي اي اې خاص ټيم راولېږه، چې د امت په کچه هغه مجاهدين درته يو يو وښيم چې افغانستان ته آن د روسانو د يرغل پر مهـال راغـلي وو، د هغوئ ځالې، ادرسونه او کوائف يوازې ما ته ښه معلوم دي.

وروڼو! چې د جهاد په نامه د ځينو رهبرانـو دا حـال وو، لـه پخوانيـو کمونيسـتانو، ګلـم جمانـو، جبـاري ملېشـو، پانکيانو او د غرب په فحاش خانو کې د ستر شوو، ديمکراټانو او جمهوريتپالو به کوم کرغېړن داسـتانونه لازم وي چـې ستاسې حضور ته کېږدو او څه ګيله به ورنه وکړو؟

خلاصه خبره داده ، چې دغسې لوېدلې او پلورل شوې څېرې امریکایانو خپلو ناوړه اهدافو ته د رسېدو لپاره پرافغان ولس حاکمانې او مسلطې کړلې، د تېرو دوو لسیزو په دوران کې د کرزي له دورو رانیولې بیا د ع او غ تر ادارو او د امرالله صالح او محب د شش و نیم او دولسنیمو بجو تر غوبل پورې ټولو ته که وکتل شي؛ هر یوه یو تر بل زیات کوښښ کړی تر څو خپلو بادارانو ته د غلامۍ د ښه اظهار او ثابتولو لپاره د افغان ولس په مرۍ پښه کېږدي، د دیني شعائرو توهین او سپکاوی وکړي، دژبې، سمت، نژاد او ډول ډول داخلي تراژیدیو تخمونه وشیندي، د قومونو او ملیتونو تر منځ د نفاق او تجزیې اوروونه بل کړي، دفساد، ابتذال، فحاشۍ او بداخلاقۍ ریکارډ قائم کړي.

مونږ اوتاسي د تیرو دوه لسیزو په موده کې ولیدل، که به د امریکا او ناټو قواوو هر څومره وحشت او بربریت ترسره کړ، مظلوم او بې وزله افغانان به یې په چاپو، بمباریو، ډرون بریدونو او نورو وحشتونو کې له تېغه تېر کړل، په رومبي قدم کې به د کابل رژیم اجرتي او کرایي قاتلانو دا هر څه په ځان منل چې دا کار دوی کړی، وروسته به چې پړه او مسؤلیت امریکایانو ومانه دوئ به زیږې سترګي ونیولې، دغه راز ډیر ځله به چې امریکایي عسکر ووژل شول، د هغوی د مرګ ژوبلې نسبت به یې هم ځانته کاوه چې په فلانۍ پېښه کې خارجي عسکر نه، بلکې د ملي اردو عسکر وژل شوي دا کارونه دوی د دې لپاره کول، چې د افغانستان له جګړې څخه د امریکایانو او غربیانو زړه تور نشي، روحیه یې ونه لوېږي او و نه وایي چې نور دا جګړه د ګټلو نه ده،

په همدې خاطر له نورو هر ډول اسلام او افغان ضد ګامونو سربېره دېته هم تیار شول چې د یوه امنیتي تړون په شکل کې د تل لپاره په رسمي ډول د افغانستان د خرځلاو قباله امریکایانو ته وسپاري.

د نړۍ د دوهم مفکر هغه وضاحت او اعلان خو د هر افغان په ذهن کې انګازې کوي، چې خپل بادار ته د چاپلوسي په خاطر ، د اجیرې اردو منصبدارانو او جنرالانو ته وویل، چې تاسې د امریکا د نیویارک ښار او واشنګټن د لارو کوڅو ساتونکي یاست او ستاسو له برکته ده چې د امریکا په ښارونو حملې نه دي شوي،

شل کاله وړاندې د اسلامي امارت مؤسس مرحوم ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله امریکایانو ته ویلي و، چې د افغانستان د اشغال او هضمولو تېروتنه مه کوئ، له افغان ولس او اسلامي امارت سره د زور او جبر پنجې نرمولو ته زړه ښه نه کړئ، دا سمه ده چې له ښارونو او دولتي ودانیو به مجاهدین څنډې ته کړئ، ولې له خپلې برحقې داعیې څخه به هغوی د مرګ تر وروستۍ سلګۍ پورې وروسته او بېرته نشي کړای .

نولس کاله وروسته د فقیر او ملنګ ملا محمدعمر مجاهد نورالله مرقده پیشګویي یوه یوه ربښتیا شوه، د امریکا مغرور ماغزه سد او سر ته ورغلل که څه هم غلامانو، مفکرینو، وزیرانو، پارلماني چارواکو او اربکیانو یې په کوکو او بغارو امریکایانو ته وژړل چې! ګورئ ګورئ د سولې او خبرو لار و نه نیسئ، که تاسې دا کار وکړ د افغانستان د اشغال د ختمې موافقه مو لاسلیک کړه مونږ به څه کوو؟ زمونږ سرنوشت به بیا څنګه وي؟

خو خبره له حبرې تېره وه، جنګي حربو او ستراتیژیو سر خوړلی وو، مجرب جنرالان شاګرځ شوي وو، ډالرو اغیز له لاسه ورکړی وه، عسکر ټول په رواني رنځونو اخته شوي وو د سیاسي مکارو محللینو اتکلونه سربداله شوي و او تبلیغاتي زهرجنو دستګاوو اوخیاطانو څخه لوری لودن ورک وو، نو هماغه وو چې امریکا د خپل ځان د نجات او ابدي تباهي څخه د ژغورلو په موخه له اسلامي امارت سره د سولې، تفاهم او دیپلوماسي لار ونیوله، امارت د

ديني او ملي ارزښتونو د دفاع په موخه ۱۸ مياشتې د مېز په سر له امريکايانو سره خبرې او مناقشې وکړې، چې د الله تعالى په خاص نصرت تېر کال د کب په لسمه نېټه د يوه نړيوال تاريخي کنفرانس په مخکې امريکا چمتو شوه، چې له اسلامي امارت سره د اشغال د خاتمې تړون لاسليک او په افغانستان کې د امن ثبات او يوه اسلامي نظام د ټينګښت هوکړې ته غاړه کېږدي.

د کابل اداري چارواکو، چې د دې تاريخي تړون په لاسليک سره خپله څېره په اوبو کې وليده نو له هرې ممکنې لارې يې هڅه وکړه چې د تړون عملي کېدو مخه ونيسي.

په هره کچه يې هڅې پيل کړې ترڅو د افغانستان د اشغال دوام ته د افغانانو اړتيا وښيي، او د امريکا اوناټو د قواوو په پاتې کېدو سره خپل نامشروع واک ته بقاء ورکړي.

د کابل اداره ددې تړون د تطبيق څخه له دې امله ويره لري، چې واک، چور چپاول يې، د فساد او تورې مافيا راج يې له منځه ځي، ټول ترسره کړي جنايات يې سترګو ته درېږي. ويره لري که افغان ولس راسره حساب کتاب پيل کړي دوئ به څه کوي، خپله امريکا ورته تياره نده چې پناه ورکړي، نو په خارجي ميدان کې د امريکا نوي دولت، اروپايي ټولنې او د ناټو سازمان ته يې په مسلسل ډول دا سلګۍ ووهلې، چې د دوحې په تړون دې له سره غور وشي، په داخل کې يې د علماوو، مذهبي او روحاني شخصيتونو، د پوهنتونونو د استادانو، ژورناليستانو او ليکوالانو مرموزو وژنو او په مذهبي او علمي مرکزونو يې بريدونو ته لاس واچاوه ترڅو فضا نړۍ ته کړکېچنه، له تاوتريخوالي ډکه وښيي او هغوی ته دا پيغام ورکړي، چې دوحې تړون ته اسلامي امارت اعتنا نه ده کړې دا دی وګورئ د جنګ شېوه يې بدله کړې، هره ورځ دومره خلک په مرموزو چاودنو او بريدونو کې دوی وژني، خو داسې برېښي چې د شړېدلې اداري ټولې منډې تړړې بې ځايه وې د امريکا نوي دولت هم کومه اعتنا ورته ونکړه، حتی د رژيم د مشر مسلسله هڅه داوه چې د امريکا نوي پاچا بائډن ته د تليفون له لارې مبارکي ورکړي او ضمنا ورته و وايي چې زاري زاري جګې جګې، دومره ووايه چې خپل پوځيان د يوکال لپاره نور په افغانستان کې ساتي ځکه حالات ډېر خراب او تراب دي؛ ولې تراوسه د سپيني ماڼۍ تلفون د مفکر په وړاندې مصروف او په اصطلاح بيزي ده، د ناټو سازمان ته د رژيم ډېر اميد وو چې که څه وکړي؛ د هغوئ د دفاع وزيرانو په وروستۍ غونډه کې هم چا د دې خبري اطمنان او ډاډ ورنکړ چې د دوحې تړون په ځای به کوم بل تړون او هوکړې باندې غور کيږي، د ناټو سرمنشي د غونډي په پای کې وويل چې ټول به د روانې شوې سوله ييزې پروسې کاميابۍ ته کار کوي هغه پروسه چې د دوحې له تړون څخه سرچينه اخلي.

د پای کره او ثابته خبره دا ده چې د دوحې تړون په وړاندې که د کابل رژيم او نورې کړۍ هرڅومره حربې او توطيې په کار او لار واچوي نتيجه او ثمره ځکه نلري چې د امريکا، سيمې، اسلامي امارت، افغانستان او حتی ټولې نړۍ ګټه، مصلحت او خير يوازې د دوحې د تړون په تطبيق او ماده په ماده عملي کولو کې ده، په څه ډول چې د تړون نيمايي مهمې برخې پلې او عملي شوې، د کابل اداره که په يوه سترګه ژاړي او که په بله خاندي پاتي حصې او بندونه به يې هم مني. (ان شاالله تعالی)

# که امریکا تړون مات کړ!
## څه به ترلاسه ؟ او څه به له لاسه ورکړي؟

م: شمس الدين منصور

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد الله رب العالمين والصلوة والسلام علی خير خلقه سيدنا و مولانا محمد وعلى اله وصحبه اجمعين و على من تبعهم باحسان الى يوم الدين

وبعد!

**د دې تاريخي، علمي او سياسي تحليلي مجلس درنو ګډونوالو ورونو!**

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

خوښ يم چې ما نه وړاندې څو تنو د علم، تحقيق، سياست او فرهنګي ميدان محترمو شاه سهورانو او مخکښانو ورونو پخپلو بـا محتـوا عالمانـه مقـالوکې پـه يـولړ مهمـو موضوعاتوباندې ښه په بصيرت سره فاضلانه اوعالمانه رڼاواچوله او ډېرګټور علمي مفاهيم اوجامع معلومات يې وړاندې کړل چې هغوی ته د ښتن تعالی څخه مزيد سياسي بصيرت او دعلمي ترقی توفيق غواړم.

قدرمنو ورونو!څنګه چې تاسوته بهتره معلومه ده لـه نن څخه يوکال وړاندې يعنې د۲۰۲۰زکال دفرورۍ پـه ۲۹مـه نيټـه چې دکب دلسمې نيټې سره سـمون خوري زموږ د ګران هيواد (افغانستان) نـه د اشغال دخاتمې پـه اړه د افغانستان اسلامي امـارت د سـياسي دفـتر اسـتازو او د امريکـا متحـده ايـالاتو د حکومت استازو لخوا داسلامي اوعربي هيواد( قطر) په پلازمينه( دوحه) کې د نړيوالو په حضورکې يو تاريخي هوکړه ليک لاسليک شو، دکوم پـه تـرڅ کـې چـې تـردې مهالـه پـه زرګونـو امريکـايي عسکر وتـلي اوهـم د دواړو لوريـو څخـه د٦٠ زره تـه زيـات بنديان ازادشوي دي.

يقيناً افغان ولس لره يـاده هـوکړه لـه دې پلوه د ډاډ وړ وه؛ اوده؛ چې د زرګونو امريکايي عسکرو په وتو اود زرګونو بنديانو پـه ازاديدو سربيره له امله يې په هيواد کې شپيني عمليات ودريدل، د ډرون بريدونه بندشول او دافغانانو ترمنځ بين الافغاني مذاکرات هم پيل شول.

البته افغان ولس به هغه مهال پـوره ډاډ ترلاسه کړي چې کله ديـادې هـوکړې دژمنې سره سـم دروان ۲۰۲۱ زکـال د مـی مياشتې ترپايه دامريکايي عسکرو پـه ګـډون هيـواد کـې ميشت ټول بهرني ځواکونه افغانستان تخليه کړي او بيرتـه خپلو، خپلو هيوادونو ته ستانه شي.

هو! دتير يوکال په دوران کې کـه څـه هـم دامريکايـانو لـه لورې د ياد تړون دژمنوڅخه تخطی او سرغړونـې هـم ډيـرې وې بيا هم افغان ولس له دې پلوه ورتـه خوشبين و اودی،چې د۱۴ مياشتو وروسته به که خدای کول افغانستان د بهـرني اشغال لـه سلطې څخه په وتلوبيا دازادۍ ساه واخلي او افغان ملت به دنړۍ د سيالو ملتونو او ولسونو تـرمنځ بيرتـه خپـل بايللی بـرم او مقام ترلاسه کړي .

### ايا د افغانستان اسلامي امارت دوحې ته ژمن دی؟

اوس دا چې د افغانستان اسلامي امارت د دوحې پـه تـړون کې له خپل اړخ نه په کرو ژمنو او تعاهدونو په ماضي کـې څـومره ژمن پاتـه شوی دی؟ اويه راتلونکي کې ورته څومره ژمنتيا لـري؟او د رعايتولو يا تطبيقولو پـه لړکـې يـې تـر کـوم حـده خپـل ديـني او

اخلاقي مسؤليت احساسوي؟ او درعايتولو په اړه يې نړيوالو او خپل ولس ته له خپل لوري نه څه ډول ډاډ اوباور ورکوي؟ بناً ضروري بولم چې دلته د درنو دوستانو په وړاندې دافغانستان اسلامي امارت د مرستيال الحاج خليفه صيب ( ملاسراج الدين حقاني حفظه الله) د وروستي وينا يو اقتباس کت مټ ولولم:

الحاج خليفه صيب حفظه الله وايي: د دوحې توافقنامې په جريان کې جناب شيخ صيب «امیرالمؤمنين حفظه الله» له ځورا زيات دقت څخه کار اخيستی، په نظامي امورو کې مو هغه دومره مصروف نه دی ليدلی لکه په سياسي امورو کې.

که يوه معمولي جزيه او سطحي خبره هم وي، رهبري شورى ته يې راجع کوي او د رهبري شورى وروسته يې مشايخو کرامو ته راجع کوي له هغه وروسته چې کله په کامل اطمينان سره د شريعت له لابراتوار نه ووځي ؛ قطر دفتر ته يې ليږي.

او دا چې درگرده امريکايان له توافق نامې څخه سرغړونې کوي، مثلا: په يو ځای کې چاپه اچولې او په بل ځای کې بمبار کړی په دې اړه

شيخ صاحب حفظه الله وايي: موږ په شريعت منګولې لګولې دي، موږ ته د اسلام مقدس دين معتبر دی، د اسلام په ټول تاريخ کې چېرته هم مسلمانانو معاهدې ندې نقض او ماتې کړې ، بلکې کفارو لومړی معاهدې نقض کړې او ور څخه يې سرغړونې کړي دي، بيا هم که چېرې موږ دمجبوريت په وجه معاهده ماتوله نو په غدر او دوکه به يې نه ماتوو، څنګه چې ټوله دنيا مو د معاهدې لاس ليکلو پر مهال راجمع کړې وه، هغسې به بيا نړۍ راجمع کړو چې موږ په دغو ټکو( امريکا) له تا سره معاهده کړې وه، اوس چې تا ماته کړه زموږ لخوا هم د فلاني تاريخ څخه وروسته درسره ماته ده.

محترم خليفه صيب وړاندې وايي:حاصل داچې فی الحال شيخ صاحب حفظه الله ټولو مسؤولينو او قوماندانانو ته دا هدايت او توصيه کوي چې د معاهدې کامل خيال او رعايت وساتئ.

خليفه صيب دشيخ صيب حفظه الله له خولې دا هم وايي :که موږ لس ولايتونه په غدر يا دوکه فتحه کړو، دا زموږ لپاره

کاميابي نه ده ، زکه چې الله تعالی پرې ناراضه کېږي او د اسلام او مسلمانانو تاريخ پرې داغدار کېږي.

دپورتني اقتباس الفاظ د دې ښکارندوی دي چې دافغانستان اسلامي امارت د دوحې په تړون کې له خپل اړخ نه د ټولو کړوژمنو د لحاظولو او تطبيقولو په اړه ښه روښانه مسير او معقول سياسي دريځ لري اوپه دې لړکې داسلامي شريعت مزاج (چې دعهد نقض نه زغمي) نه يوازې په کلکه توګه رعايتوي بلکې ساتنه يې خپله ديني فريضه اواخلاقي وجيبه هم بولي.

هرچې د بل جهت يعنې دامريکا د متحده ايالاتو دحکومت دريځ دی، تردې مهاله که څه هم رسماً سپينې مانۍ د ياد تړون د راتلونکې په باره کې واضح موقف يا دريځ ندی ښکاره کړی، البته يوشمير نړيوالي رسنيو د بايډن اداري چارواکو له خولې داسې راپورونه خپاره کړي دي چې ګواکې د امريکا د متحده ايالاتونو نوی ولسمشر او د هغه حکومت غواړي د دوحې د تړون له سره بيا ارزونه او کتنه وکړي ليکن ښکاره ده چې د افغان ولس مطلق اکثريت د دوحې په تړون کې هرډول ترميم و تغير کول افغانستان کې دجګړې او اشغال د غځولو په معنی تعبيروي او په ټوله منطقه اوسيمه کې د نورو نا امنيو اوبې ثباتيو د خورولو مردود جسارت اوبد پيغام ګڼي.

ولې پوهېږو! چې ځينې مغرضې کړۍ او ګوداګيان په هيواد کې دامنيت وثبات ټينګښت خپلو شومو اغراضو لره دخطرزنګ بولي هغوی له وړاندې څخه ديته تيار په کمين کې وو او دي چې څو د جعلي دلايلو اوپلمو په تراشلو سره د دوحې تړون لغوه کړي او په افغانستان کې دامريکايي ځواکونو د اشغال موده نوره هم و غځوي .

هو! داشغال مودې غځولو په اړه د افعانستان اسلامي امارت موقف واضح اوجوت دی چې له افغانستانه دامريکا په ګډون دټولو خارجي اشغالګرو ځواکونو وتل د دوحې د هو کړه ليک اصلي روح او مهمه عوښتنه ده .

ورونو! موږ وينو چې يوشمير رسنۍ د دروغو په خپرولو سره قصداً غواړي چې د دوحې تړون څخه د سرغړونو تورونه په اسلامي امارت پورې کړې حال داچې هغوی داسې شواهد

اوقراین په لاس کې نلري چې وښيي چیرې اوکله دافغانستان اسلامي امارت د تړون څخه د تخلف مرتکب شوی دی تاسو وړاندې وارېدل چې دتړون رعایتولو پـه اړه د امیـر المؤمنین شیخ صیب حفظه الله دریځ قاطع دی چې د اسلام په ټول تاریخ کې چېرته هـم مسلمانانو د معاهداتوپـه ماتولو کې لومړیتوب نـدی کړی،همیشه کفارو معاهدات نقض کړې دي او که کله ضرور ت پیښ هم شو نو هیڅکله بـه یـې پـه غـدر او دوکـه کولـو سره نـه ماتوو.

## که امریکا عسکر ونه باسي ؟

پاتې شوه دا، که د امریکا نوی حکومت ربښتیا هـم د روان ۲۰۲۱ زکال د مې میاشتې ترپایه خپل ځواکونه ونـه باسي، نوبـه پایله کې به امریکا څه ترلاسه کړي ؟ ایا خپل شکست به په بري باندې بدل کړای شي ؟ په دې اړه اړتیا ده چې ماضي تـه پـه سر وربښکاره کولـو سره معلومـه کـړو چـې هرکلـه امریکـا دغـه ډول اشتبهات یا تیروتنې تکرار کړي دي په پایله یې کې څه ترلاسـه کړي؟ اوڅه یې له لاسه ورکړي دي؟

کله چې په ۱۹۶۹ زکې امریکا د شمالي ویـت نـام پخـلاف پراخه جګړه پیل کړه اوپـه مقابـل کـې یـې د شمالي ویت نـام د مقاومت جبهې دامریکا پـه وړانـدې خپـل مقاومـت پـراخ اوشـدید کـړ، له زیاتې غوسې نـه دامریکـا د هغـه مهـال ولسمشر جانسـن داکتوبر په ۳۱مه نیټه د قوي بمبارد حکم وکـړ، د هغـه مهـال پـه تاریخ کې بې ترټولو زیات وحشتناک بمبارد شروع کـړ، د کـوم پـه خواب کې چې د ویتنام جنګیالیو هم پـه خـوابي تنـدریزو بریـدونو لاسـونه پـورې کـړل،اوپـه امریکـایي پوځیـانو یـې دومـره دقیـق اوپربکنده بریدونه ترسره کړل چې له ډاره یې دامریکایي پوځیـانو مورالونه دومره پربوتل چې هغوی به د جګړې د نوم اوریدو څخه هم ډاریدل، دیته په کتو د امریکا دننه د جګړې په مخالفت کې د خلکو یویو سیلاب راپورته شو،یواځي د نیویـارک ښار پـه یـوه لاریون کې پنځوس لکه خلکو د ولسمشر جانسـن د پریکـړې پـر ضد لاریون وکړ،تردې چې جانسن پخپل ولس کې دومـره منفـور اونامنلی شو چې په همدې کـال د ولسمشرۍ پـه ټـاکنوکې یـې دګډون څخه ډډه وکړه ، د هغه وروسته ( رچـرډ نکسـن) دامریکـا نوی ولسمشرشو، همه چې کله واک ترلاسه کړ نوبـه وړانـدې یـې لکه د بایدن پشان دوه لارې وې، یوه لار داوه چې دویتنام څخـه خپل ټول پوځیان وباسي او دوهمه داوه: که دی هم دجانسن پـه پیروۍ کې دجګړې لارغوره کړي؟ دلومړۍ لارې یعنې دپوځیـانو ویستو په پریکړه کولو کې یې اندیښنه درلوده چې څنګـه لـومړی امریکایي پوځي له ویتنام څخه ووځي ورسره به دامریکا د نړیوال (سپرپاورتوب) غرور مات شي او پـه نـړۍ بانـدې بـه دامریکایـانو دواکمنۍ کولو خوبونـه وتښتي او د دوهمې لارې پـه غـوره کولـو کې ورسره د نورو تلفاتو اوزیانونو دزعملو اندیښنه وه چې هسې نـه امریکایان بـه نـور تلفـات ورکـول و نشي۔ زغملـی، بـالاخر داوړده سوچ او غور وروسته یې دوهمه لاریعنې د جګړې د دوام پریکـړه وکړه، ویتنام ته یې نورتازه دمې ځواکونه واستول دبماردونو سلسله یې نوره هم زیاته اوچتکه کړه، تردې پورې چې یواځې دویتنام په دوه مهموښارونو( هنویې، اوهایې فونګ)یې په یـوولس ورځـوکې دیولک نه زیات بمونه استعمال کړل، دکومـو مجموعـه وزن چې په هیروشیما باندې دتوغول شویو اتومي بمونو څخه پنځـه واره زیات وو، دیته پـه کتـو سره ولسمشر نکسـن ویـل: دومـره زیـاتو بمونو داستعمال وروسته د کوم قوم ژونـدي پاتـه کیـدل ناشـونې دي او پاته لاداچې هغه دې ازادي ترلاسـه کـړي! لـیکن څـومره چې امریکا پخپل وحشت اوظلم کې زیاتوالی کاوه هغومره یې پـه وړاندې ویتنام کې مقاومت پیاوړی اوغښتلی کیده، تردې چې پـه ۱۹۷۳ زکې دجنوري میاشتې پـه ۲۷مـه نیټـه امریکا خپلـه ماتـې اومنله او دخپلو پوځونو دویستلو اعلان یې وکړ په نړۍ کې تـردې مهاله دا ویاړ هم دامریکا په برخه دی چې هغـه دمقبوضـه هیـواد نه په زیاته چټکۍ سره دخپلو پوځیـانو ویسـتو کـې سـاری نلـري نوهغه مهال هم ایلـه دوه میاشـتې تیـرې وې چـې د۱۹۷۳ زکـال دمارچ پـه ۲۹مـه نیټـه دامریکـا وروسـتی پـوځي کنـډک پـه ډیـره بدرنګۍ سره دویت نام نه ووت.

## دویتنام او افغانستان پرتلنه!

څنګـه چـې امریکـا دویـت نـام پـه جنـوب کـې د خپـل یـو لاسپوځي اوګوډاګي رژیم د شتون څخه دفاع کوله یا په بل تعبیر څنګه چې امریکا دویتنام په جنوبي برخه باندې خپل یولاسپوځي رژیم تحمیل کړی و، په ورته شکل یې نن پـه افغانسـتان بانـدې هم جبراً یوه ګوډاګي اداره تحمیل کړې ده، څنګـه چـې دجنوبي ویتنـام تپـل شـوی رژیـم دویتنـام دخلکـو استازی او دهغـوی د

ملاتړخخه برخمن نه و، په ورته توګه افغانستان باندې تپل شوې اداره هم دافغان ولس استازې او د ملاتړخخه برخمنه اداره نده، څنګه چې په ویتنام کې داشغال پرمهال دویت نام دجغرافیې زیاته سلنه دازادي غوښتونکو په لاس کې وه، همسې افغانستان کې دامریکایي اشغال په موجودیت کې دهیواد دجعرافیې زیاته برخه دافغانستان داسلامي امارت ترحاکمیت اونفوذ لاندې ده، څنګه چې دامریکا دننه دویتنام جګړې پخلاف خلکولاریونونه کول او دویت نام څخه یې د پوځونو دویستو غوښتنه کوله نن هم دامریکا دننه دامریکایانو زیاته سلنه دجګړې د دوام مخالفت کوي او ژرترژره دخپلو پوځیانو دبیرته ورستیدو غوښتنه کوي.

## یوه بله نکته !

درنو ملګرو !دلته یوه بله نکته هم دپام وړده، هغه دا چې امریکا اونړیوال باید دا وفهموي چې دافغانستان معروضي حالات د نورې نړۍ سره څه چې داسلامي هیوادونو د سیاسي حالاتو او د هغوی د ژوندانه د اسلوب سره هم توپیرلري، زکه دلته څلویښت کلنې جګړې افغانستان او افغانان د بېلابېلو ستونزو او مشکلاتو له زغملو سره روږ دي کړي دي که امریکا په دې تمه وي چې دفشارونو اویا جګړې په غځولو سره به افغانان نور د مقاومت زغم اویا حوصله ونلري او په مقابل کې به یې دوی بری ترلاسه کړای شي دا دافغانستان او افغانانو دمیراني تاریخ نه د دوی ناخبرې ښیي نو زموږ مشوره دا ده چې د افغانانو تاریخ دې له سره بیا ولولي.

## که امریکا امن غواړي؟

بله داچې که واقعاً نړیوال په افغانستان اوسیمه کې امنیت غواړي، یا په بل تعبیر که امریکا اونړیوالوته په افغانستان او ټوله منطقه کې امنیت ارزښت ولري اویا دثبات او ټیکاوه سره علاقمندي و لري نو بیا دې دکوم څنډ پرته امریکا د دوحې تړون دژمنو سره سم د روان ۲۰۲۱ زکال د مې میاشتې ترپایه خپل ټول پوځیان وباسي او دافغان ولس دناپیلۍ ازادۍ، خپلواکۍ ارادې او استقلال ترلاسه کولو احترام وکړي.

## د افغانستان کنټرولولو صلاحیت کوم جهت لري؟

داچې افغانان د اشغال د پای وروسته د نورو ناخوالو او نادودو په کوم بل ګرادب کې کینوزي افغانستان کې یو داسې کامیاب اوپیاوړي حکومت ته اړتیا ده چې هغه دافغان ولس د دین، فکر اوعقیدې نه د دفاع کولو ترڅنګ دافغانستان ملي خپلواکۍ او استقلال ساتلو ته هم ژمنتیا ولري هغه د افغاني پرګنو دعنعناتو اوملي ارزښتونو ته په احترام دافغانستان دننه د ملي وحدت د رامنځته کولو او دافغانستان دارضي تمامیت ساتلو ا هلیت، صلاحیت او قابلیت ولري اوس پوښتنه داده چې دومره اهلیت، صلاحیت او قابلیت څوک لري؟ښکاره ده چې هم هغه جهت یا لوری به د دې وړتیا، اهلیت، صلاحیت او قابلیت ولري کوم لوري چې په دوحه کې له امریکا سره دسولې هوکړه لاسلیک کړه، کوم چې پخپلو پربکړو کولو کې پوره خپلواک، ازاد او دافغان ولس د قاطع اکثریت د ملاتړ څخه برخمن دی، کوم لوری چې دوحې هوکړه لیک کې دکړو ژمنو د پوره پلې کولو صلاحیت لري. نو اړتیاده چې نړیوال او امریکا دا واقعیتونه په پام کې ونیسي اود دوحې تړون دژمنو په عملي کولو کې د لیت ولعل څخه کار وانخلي او په دې دې ژور غور اوسوچ وکړي چې د دغه ډول علني ژمنو څخه تیښته، یا په اړه یې نړۍ ته دوکه ورکول به نړۍ ته کوم ډول پیغام ولیږدوي؟ د دې لپاره چې د نړۍ په هره برخه کې دامن او سولې لپاره کیدونکي کوښښونه رنګ راوړي اوپه نړۍ کې د خلکو د باور او اعتبار وړ و ګرځي دامریکا نوی حکومت دې د مې میاشتې ترپایه افغانستان څخه د پوځونو ویستلو په لړکې د امریکاد پخواني دولت کړې ژمنې عملي کړي او هغو ټولو تعاهداتو اوژمنوته دې وفادار پاته شي په کومو باندې چې دکب د لسمې نیټې په ورځ د امضاشوي هوکړه لیک په متن کې دافغانستان اسلامي امارت او دامریکا د متحده ایالاتو ترمنځ توافق راغلی دی، زکه چې د پوځونو ویستل دشل کلنې بدمرغه جګړې په بل اورباندې داوبو شیندلو مترادف عمل دی او نه ویستل یې دشل کلنې جګړې په اورباندې دتیلو اچولو مترادف عمل دی موږ وایو امریکا دې په پوره هوښیارۍ سره د سولې او د جګړې دپای ته رسولو لپاره معقوله لاره غوره کړي، په پای کې که امریکایان د دوحې تړون لغوه کړي او د جګړې د دوام لاره کړي نو ورته د هیواد د لوی شاعر په ژبه وایم:

**شکونه هیڅ ندي پکار په دریابي خاموشۍ**  
**سمندر تل کې توپانونه تل ژوندي ساتي**  
**دا زادۍ په شیرینۍ شیندي د وینو برسات**  
**ناګار چې هرڅه کوي مینه فرهادي ساتي**

له توجه څخه مو نړۍ مننه

# پیمان دوحه واثرات مثبت آن بر منطقه

مفتی انعام الله سمنگانی

بسم الله الرحمن الرحیم

حمد و سپاسِ بی‌کران خدائی را که فرموده است: وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ، و درود و سلام بر قافله‌سالار عدل و عدالت، صاحب صلح حدیبیه، و بر یاران و جان‌برکفان راهش تا ابد. و بعد؛

نخبه و دانای شرق، دکتور محمد اقبال لاهوری چه خوش گفته است:

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا
در گشاد او گشاد آسیا

افغانستان، یا آن دلِ پیکر آسیا، در چند دهه‌ی گذشته نه تنها برای افغان‌ها، بلکه برای منطقه و جهان هم دردسری بوده، و به تعبیری دیگر؛ درد افغانستان، درد جهان‌سوز، و اثرات و پیامدهای آن، فراگیر بوده‌است. اما پیمان تاریخی دوحه، فرصت نادری را فراهم کرده است که افغانستان، ژئوگرافی آینده‌ی سیاسی، امنیتی و اقتصادی را، به منفعت جهان و منطقه، تغییر دهد. البته؛ این وابستگی دارد به پای‌بندی واقعی سائر جهت‌های مستقل و غیر مستقلِ این پیمان، به تعهدات‌شان.

منطقه ما، در مدت بیست ساله اشغال کنونی افغانستان، با چهار بحران عمده‌ی امنیتی، اجتماعی، سیاسی و اقتصادی، مواجه بوده‌است. می‌خواهم در این مقاله، تحت عناوین چهارگانه، که عبارتند از : ۱ - پیمان دوحه و بحران امنیتی منطقه، ۲ - پیمان دوحه و بحران اجتماعی منطقه، ۳ - پیمان دوحه و بحران سیاسی منطقه، و ۴ - پیمان دوحه و بحران اقتصادی منطقه، پیمان دوحه را راه‌حل برای پایان‌دادن این بحران‌ها ثابت کنم؛ و در اخیر تحت عنوان تتمه، گفته های خود را در چند سطرهای کوتاه خلاصه نمایم.

به امید اینکه توجه شما عزیزان را تا پایان با خود داشته‌باشم.

### پیمان دوحه و بحران امنیتی منطقه:

نمی‌دانم این از بلندی نصیب و یا شوری بخت افغانستان است که در جوار و کنار چهار کشورهای اتمی (پاکستان، چین، هند و روسیه) قرار دارد! از کشور پنجم (ایران) هم خبری دقیق نیست که تلاش های مستمر آن به ثمر رسیده و یا هنوز دوام دارد. اما شاید این بسنده نبود، از همین‌ست که سه قدرت اتمی دیگر به نام‌های ایالات متحده امریکا، بریتانیا و فرانسه هم، به مثل مهمان‌های ناخوانده، وارد منطقه و به‌خصوص افغانستان می‌شوند و آتش هولناک جنگ را درین خطه‌ی بَلاخیز، دلغ می‌سازند. آیا این بی‌باکی قدرت‌های اتمی غرب را، که مدعیان و اجاره‌داران حقوق بشر، پدر و مادر جمهوریت و پاسداران سیکولاریسم هستند، می‌توان توجیه نمود؟ هرگز و هرگز نه .

این یقینا بازی با آتشی بود که می‌توانست تمام این منطقه را به ویرانه تبدیل کند. این آتشِ سوزان نوزده سال کامل دلغ ماند و هنوز هم خاموش نشده است. اگرچه بیش‌ترین هزینه‌ی آن را افغانستان و افغان‌ها پرداختند؛ اما منطقه هم هیچ‌گاه خود را از شعله‌های هولناک آن مصون نپنداشته است. منطقه می‌دانست که این آتش خانمان‌سوز دامن‌گیر آن‌ها هم شده می‌تواند.

برای اینکه این آتش مهیب، مهیب‌تر نشود و بلکه با خاموش ساختن آن، آینده‌ی منطقه و جهان، مصون باشد، لازم است تا فرصت به‌دست آمده‌ی پیمان دوحه را، که به‌تاریخ دهم حوت سال گذشته میان امارت

اسلامی و ایالات متحده امریکا امضا شد، نباید بی‌باکانه از دست داد. برای بازگرداندن وضعیت عادی در منطقه، باید امریکا، سازمان نظامی ناتو و سائر متحدان‌شان، با ارج گذاری به تعهدات این پیمان، اشغال دو دهه‌ی افغانستان را پایان دهند. بلی! کشورهای هفت‌گانه‌ی اتمی به‌ویژه امریکا، بریتانیا و فرانسه باید درک کنند که دوام و گسترش آتش جنگ در افغانستان، چه پیامدها و تهدیدهای وحشتناکی، می تواند برای امنیت و مصونیت منطقه و جهان داشته باشد .

**پیمان دوحه و بحران اجتماعی منطقه:**

اگرچه کشورهای این منطقه از گذشته‌ها، نزاع و تنش‌های بین‌خودی داشته‌اند، مانند معضل دیرین پاکستان و هند، چین و هند و سائر معضل‌های خورد و بزرگ دیگر؛ یا چنانکه هند درین روزها هم‌زمان با کشورهای نیپال، پاکستان و چین، در موارد مختلفی دست‌وگریبان بوده‌اند. اما افغانستانِ اشغال‌شده و مستعمره، میدان دیگری را برای رقابت‌های منفی این کشورها مهیا ساخت. این رقابت‌های ناسالم، که به شکل سیستماتیک از داخل خاک افغانستان انجام می‌یافت و هنوز می‌یابد، نه تنها بر مشکلات افغان‌ها بیفزود، بلکه اوضاع منطقه را هم پرتنش‌تر و خطرناک‌تر ساخت. قدرت‌های منطقه، ملیاردها دالر را در این جنگ غیر مستقیم خود، در افغانستان هزینه کردند؛ اما دریغا سودی! نه افغانستان را نفعی عاید شد؛ نه افغان‌ها و نه هم خودشان بهره‌ای بردند. همان‌گونه که حضور نظامی قدرت‌های اتمی غرب، منطقه را پرآشوب کرد، این رقابت‌های ناسالم نیز وضعیت منطقه را غیر عادی ساخت و بی‌باوری‌ها و نگرانی‌های زیادی را بین افغانستان و کشورهای منطقه به‌میان آورد.

کشورهای منطقه در حالی مشغول رقابت‌های ناسالم با استفاده از افغانستان مستعمره بودند، که به اساس یک گزارش سالانه در ۲۰۰۶ میلادی؛ ۴۰ در صد مردم فقیر جهان در آسیای جنوبی، که تنها یک بخشی از این منطقه است، زندگی می‌کنند. در حالی که آسیای جنوبی ۲۲ در صد جمعیت جهان را تشکیل می‌دهد. گویا گراف فقر در آسیای جنوبی، دو برابر گراف جمعیت آن است. هم‌چنان راپور پارسال سازمان ملل متحد نشان می‌دهد که حدود دو و نیم‌صد ملیون کودک، تنها در آسیای جنوبی زیر خط فقر زندگی می‌کنند، که مایه‌ی نگرانی بزرگی برای جامعه‌ی بشری است. اما کشورهای این خطه، به‌جای تلاش برای پایین آوردن گراف فقر و گرسنگی در مملکت های خود، در پی این بودند که از راه افغانستان بی‌صاحب، یکدیگر را زیر بیاورند و در منطقه دستِ‌بالایی داشته باشند.

اما اگر پیمان دوحه به شکل واقعی جامه عمل پوشانده شود و در نتیجه‌ی آن، نظام مستقل، با کفایت و با درایت اسلامی در افغانستان حاکم گردد، افغانستانِ آزاد می‌تواند این رقابت‌های ناسالم را نقطه‌ی پایان بگذارد، نقش سازنده و مؤثری را برای آینده‌ی بهتر منطقه و جهان ایفا کند؛ و به‌جای فصل، نقطه‌ی وصلی بین سائر کشورهای منطقه گردد.

**پیمان دوحه و بحران سیاسی منطقه:**

در دو دهه‌ی اشغال؛ نداشتن سیاست مستقلانه و دمدمی بودن مواقف اداره‌ی بی‌اختیار و چندسره‌ی کابل در قبال منطقه، بی‌اعتمادی‌ای را به میان آورده است که در نتیجه‌ی آن؛ امروز از یکسو افغانستان هیچ اعتباری در سیاست‌های درون منطقه‌ای ندارد و از سوی دیگر؛ تفاهم منطقوی هم در قبال سیاست‌های جهانی، به‌شدت جریحه‌دار شده است. منطقه به‌این باور است که سیاست خارجی افغانستانِ مستعمره، از سوی آنانی‌که از هزاران کیلومتر دور هجوم آورده و افغانستان را اشغال کرده‌اند، به‌مانند ابزار و بازیچه، به‌نفع خود، به‌کار برده می‌شود؛ که برای افغانستان و منطقه به‌جز زیان هیچ سودی ندارد. واقعیت موجود نیز چنین است که امروزه افغانستان به‌گونه‌ی بی‌پیشینه‌ای در معاملات منطقه کاملا در زاویه قرار گرفته‌است. عجب این‌ست که مقامات غرض‌آشنا و دست‌نشانده کابل، بر تیرگی روابط با منطقه، چنان می‌بالند و می‌نازند، گویا کارنامه و یا شهکاری انجام داده‌اند!

اما در صورت عملی‌شدن پیمان دوحه، افغانستان به‌حیث یک جهت مسئول و مستقل می‌تواند با اولویت‌دادن به منافع ملی خود - که یقینا با سرنوشت منطقه گره خورده است - این وضعیت را دگرگون سازد. عدم مداخله در امور سائر کشورها و ندادن اجازه برای مداخله‌ی دیگران در امور افغانستان، اصلی است که امارت اسلامی به‌طور مکرر در بیانیه‌های رسمی خود ابراز داشته است. عملی‌شدن این اصل می‌تواند وضعیت اضطراری‌ای را که سال‌هاست در مرزهای هزاران کیلومتری منطقه - به‌خصوص همسایه‌های افغانستان - حاکم است و نیروی بیش از حد نظامی و اقتصادی منطقه را هزینه کرده است، مداوا کند. نمایندگان واقعی افغان‌ها می‌توانند با از‌بین‌بردن مسافت‌های ساختگی و بی‌معنای بین منطقه، این خطه را کوچه‌ی مثالی و نمونه‌ای در قریه‌ی جهانی بسازند.

آری، ایجاد اجماع منطقوی در برابر حضور نظامی آمریکا و متحدانش در افغانستان، از بین‌بردن سکوت جهانی در باره‌ی اشغال این خاک و بالاخره مذاکرات نتیجه‌بخش و بارآور با ایالات‌متحده برای پایان دادن اشغال، نشان‌دهنده‌ی قدرت فوق‌العاده‌ی سیاسی، دیپلوماسی و منطقی طالبان و در مجموع افغان‌هاست؛ که باید برای افغانستان، منطقه و جهان به فال نیک گرفته شود. این توانایی سیاسی و منطقی افغان‌ها چراغ امید را برافروخته است که افغانستانِ پسا اشغال می‌تواند نقش عمده‌ای را برای آینده‌ی بهتر منطقه، ایفا نماید.

برخلاف آنچه پروپاگند می‌شد، گویا طالبان، تنها مشکل امریکا و غرب نیست؛ بلکه منطقه نیز تاب حضور پرشور و حیثیت محوری طالبان در افغانستان را ندارد؛ اما طالبان در مذاکرات هجده ماهه با ایالات متحده، و در جریان یکساله‌ی تطبیق پیمان دوحه، به اثبات رسانده اند که ضمن اولویت دادن به ارزش‌های دینی و منافع ملی خود، می‌توانند با سیاست دوراندیشانه و مبتکرانه‌شان، قناعت منطقه را هم فراهم کنند. بلی، افغان‌ها می‌دانند که روابط سازنده و استوار بر احترام متقابل، ضرورت مبرم برای امنیت و توسعه‌ی افغانستان و منطقه است.

از همین است حلقات مغرضی که طالبان را بار دوش منطقه می‌دانستند و از مفاهمه و معامله‌ناپذیری آن‌ها شاکی بودند، امروز از سفرهای پیهم و منظم هیئت‌های دفتر سیاسی طالبان به کشورهای مختلف منطقه، و همچنان از دیپلماسی فعال و دید و بازدیدهای اثرگذارشان به‌داد آمده‌اند و تلاش‌های آن‌ها برای تفاهم بین المنطقه را، جامه‌های رنگارنگ و دل‌خواه می‌پوشانند! حال این‌ست که باید این هماهنگی طالبان و کشورهای منطقه پس از پیمان دوحه؛ موجب اطمینان همه‌ی جوانب می‌شد و مورد استقبال همگان قرار می‌گرفت. البته - به استثنا از این حلقه‌ی بدخواه و بد طینت - یقینا که پیمان دوحه، سبب خاطرجمعی تمامی خیرخواهان منطقه و جهان گردیده است.

**پیمان دوحه و بحران اقتصادی منطقه:**

آگاهان و دانشوران به این باورند که قرن نوزده، قرن اروپایی‌ها و قرن بیست، قرن امریکایی‌ها بود؛ اما قرن ۲۱، قرن آسیایی‌شدن جهان و قرن اقتصاد است. مهم اینست که اولین و دومین جمعیت‌های بزرگ، دومین و پنجمین اقتصادهای بزرگ جهانی، در آسیا و به‌خصوص در منطقه‌ی ما، قرار دارند. اما مهم‌تر این‌ست که برنامه‌های توسعه‌ی اقتصادی این دو اقتصاد بزرگ جهان، که قدرت تغییر ماهیت اقتصاد جهانی در آینده نزدیک را دارند و چشم امیدی برای اقتصادهای مترقی

جهان اند، بدون افغانستان نمی‌توانند به نحوه‌ی احسن شرمنده تعبیر شود.

با عملی‌شدن پیمان دوحه، افغانستان آینده و آزاد، می‌تواند در آسیایی‌شدن جهان و اقتصاد، نقش سالم، ارزنده و عمده‌ای را داشته‌باشد. هم‌چنان افغانستان مستقل می‌تواند با استفاده‌ی خوب از این فرصت های اقتصادی؛ گام‌های مؤثر و جدی را برای مبارزه با بحران روزافزون فقر و بیکاری در سطح افغانستان و منطقه بردارد. در حالی که هم‌اکنون به اساس راپور بانک جهانی، بیش از نیمی از جمعیت افغانستان زیر خط فقر زندگی می‌کنند و با چنانکه اشرف غنی، رئیس ارگ می‌گوید: ٪۹۰ افغان‌ها زیر خط فقر قرار دارند.

پس از خروج ده‌ها هزار نیروهای اشغالگر خارجی در پایان سال ۲۰۱۴ میلادی، اقتصاد جنگی که از سال های ۲۰۰۲ و ۲۰۰۳ در افغانستان به میان آمده بود و رشد اقتصادی کشور ما را بسیار بالا نشان می‌داد، از بین رفت و اکنون سال‌هاست که افغانستان با رکود اقتصادی مواجه است .

دولت آینده‌ی اسلامی افغانستان می‌تواند با تمرکز به ایجاد، تشکیل و توسعه‌ی زیربناهای اقتصادی کشور، اقتصاد افغانستان را به پا ایستاده کند و سهم فعال در توسعه‌ی اقتصادی منطقه هم داشته باشد. افغانستان بار دوش و خار چشم منطقه نه، بلکه شریک و رقیب دوست منطقه، در عرصه‌ی اقتصاد خواهد بود.

**تتمه:**

در کل، نظام و دولت واقعی اسلامی به‌رهبری افغان‌ها - اگر خواست خدا بود و در افغانستان حاکم گردید - می‌تواند با موازین بلند اخلاق اسلامی هم‌چون: لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ و آیت کریمه‌ی وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا، به جامعه‌ی بشری و به‌خصوص منطقه، نشان بدهد که همسایه‌داری خوب، یعنی چه؟ و این واقعیت انکار ناپذیر است که منطقه‌ی ما مدت‌هاست ذائقه‌ی همسایه‌داری خوب را نچشیده‌است. دولت مستقل افغانستان این فلسفه را سمسطه ثابت خواهد کرد که "منفعت خود را در زیان دیگران باید جُست". افغانستان آزاد بدون اندک معامله‌گری بر ارزش‌های دینی و ملی خود، نقش ستودنی در صلح و ثبات منطقه خواهد داشت. افغانستان بازیچه و ملعبه‌ی دیگران نه، بلکه وفادار و پابرجا به همه‌ی تعهدات منطقوی و بین‌المللی خود خواهد بود.

مؤرخان و سیرت‌نویسان متفق اند که پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم در کشوری به‌دنیا آمد، که درآن‌جا هیچ‌گاه سیستم منظم حکومت‌داری تجربه نشده‌بود؛ اما پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم قانون و نظامی را برپا نمود که دولت بزرگ اسلامی را به‌خوبی پیش برد و تا زمانیکه آن قانون و نظام عملی بود، دولت مسلمانان، بهترین و مهذب‌ترین دولت جهان بود. پیروان آن سرور کائنات صلی‌الله‌علیه‌وسلم ثابت خواهند نمود که نقوش و بنیادهای ماندگار آن سیستم دولت داری، امروزه هم نسخه‌ی کیمیا برای پیش‌برد جامعه‌ی بشریت است.

به امید اینکه سائر جهت‌ها به پیمان دهم حوت دوحه متعهد بمانند و معضل بیست ساله و بلکه چهل‌وسه ساله‌ی افغانستان و منطقه پایان یابد .

فیلسوف محبوب ما محمد اقبال لاهوری علیه‌الرحمه در «زبور عجم» دل فگار ما را چنین مژده‌ی جان‌افزا می‌دهد:

فکر رنگینم کند نذر تهیدستانِ شرق
پاره‌ء لعلی که دارم از بدخشان شما
می‌رسد مردی که زنجیر غلامان بشکند
دیده‌ام از روزن دیوار زندان شما
حلقه گرد من زنید ای پیکران آب و گِل
آتشی در سینه دارم از نیاکان شما

و من الله التوفیق.

# دغدر قبیحه څېره

کله چې درسول الله صلی الله علیه وسلم او د مکې دمشرکانو ترمنځ د حديبې سوله رامنځته شوه نو دعربو دمخالفت له امله چې د اسلام د دعوت او د احکامو دتبلیغ مخه ډب وه ددې ترون په برکت د دعوت او تبلیغ بندې لارې خلاصې او عالم ته د اسلام د پیغام رسولو ښه موکه ترلاسه شوه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم د نړۍ دستر طاقت روم بادشاه هرقل؛ دنړۍ دوهم ستر طاقت فارس بادشاه کسرا؛ دحبشې بادشاه نجاشي؛ دمصر بادشاه مقوقس؛ دبحرين بادشاه منذربن ساوا؛ دعمان بادشاه جيفر؛ ديمامې مشر هوزه بن علي او د دمشق اميرحارث غساني په څېر دنړۍ ټولو لويو طاقتونو او مشهورو حاکمانو ته اسلام ته د را داخلېدلو لپاره خطونه ولېږل.

دروم بادشاه قيصر ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د سيدنا دحيه کلبي په لاس خط لېږلی و.

په فارس باندې د روميانو د سترې فتحې د شکر ادا کولو په موخه قيصر پدې ورځو کې حمص نه بيت المقدس ته په پښو راغلی و؛ دحيه کلبي د بُصرا دامير له لارې بيت المقدس کې دروم مشر قيصر ته را ورسېد او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خط مبارک یې ورکړ؛ دقیصر او دحيه کلبي ترمنځ دلندو خبرو او د دحيه کلبي له لورې قيصرته درسول الله صلی الله دمختصر تعارف نه پس قيصر د دحيه کلبي نه وخت وغوښت؛ سبا ته یې ددې خط د جواب ورکولو وعده ورسره وکړه او امر یې وکړ چې دده ( رسول الله صلی الله علیه وسلم) دقوم نه چې څوک زموږ مملکت ته راغلي وي ماته یې راولئ تر څو ترې صحيح احوال معلوم کړم.

په زړه پورې دا وه چې پدې ورځو کې دقریشو یوه ۳۰ کسیزه قافله دابو سفیان (چې لا مسلمان شوی نه و) په مشرۍ کې دتجارت لپاره شام ته راغلې او دوئ په غزه کې مېشت وو؛ ابو سفيان او ملګري یې دغزې نه دقيصر دربار ته بوتلل شول.

دا په ډېره لوړه سويه مجلس و؛ د روم دولتي مشران: قسيسين او رهبان ټول حاضر وو.

قيصر دترجمان په وساطت ابو سفيان او ملګري یې مخاطب کړل او ترې یې وپوښتل چې دنبوت دې مدعي ته دنسب په لحاظ په تاسو کې تر ټولو زيات نږدې څوک دی؟ ابو سفيان ووېل زه! قيصر ووېل ته ماته نږدې کېنه اونورو قريشو ته یې دده نه شاته دکېناستو حکم وکړ او ورته یې ووېل: له ده نه څه پوښتنې کوم که یې دروغ ووېل تاسو یې تکذيب وکړئ ( دروغ یې ونيسئ! )

ابو سفيان وایې: که دا وېره نه وای چې دوئ به زما تکذيب وکړي او دروغ به مې نقل کړي نو خامخا به مې دروغ ويلي وای.

قيصر د ابو سفيان نه ۱۰ پوښتنې کړيدي؛ پدې ۱۰ پوښتنو کې يوه دا وه چې آيا دی (رسول الله صلی الله علیه وسلم) عهد ماتوي؟ ابو سفيان ووېل نه! تر اوسه یې کله غهد نه دی مات کړی خو پدې ورځو کې د ده او زموږ تر منځ دڅه مودې لپاره سوله ده؛ معلومه نده چې به پکې څه وکړي؟

ابوسفيان وايي: ددې يوې خبرې پرته راته دبلې يوې خبرې د ور ننويستلو چانس په کوتو رانغلو. د ابن اسحاق روايت کې دي ( فوالله ما التفت اليها مني)

قیصر چې بیا په ټولو سوالونو او جوابونو تبصره کړې نو ددې پوښتنې او جواب په باره کې یې وویل: وسألتک هل یغدر فذکرت ان لا ، وکذلک الرسل لا تغدر.

یانې په معاهدو باندې وفا د ټولو پیغمبرانو کار دی او د معاهدو خلاف کول هیڅ پیغمبرانه شیوه نده.

دخپل دین؛ناموس؛ ملت او سیمو نه د دفاع او د اعلاء کلمة الله لپاره جهاد کول او دجهاد لپاره د وخت د تر ټولو قوي او پرمختللو وسایلو او د ټولو جایزو تدابیرو نه د کار اخستلو په جواز کې د یو مسلمان لپاره هم دشک ځای نشته او هر مسلمان پدې پوهېږي چې

د وسایلو دساتلو، دېرولو او قوي کولو او نورو جنګي تیاریو حکم موږ ته شویدی نو پرې مکلف یو خو زموږ تاریخ ګواه دی چې موږ کله د وسایلو پر مټ فتحې ندی کړې او کله مو چې پر خپلو تدابیرو او وسایلو اتکا کړیده دشکست سره مخامخ شوي یو.

مسلمانانو تل د الله په نصرت فتحې کړیدې او دالله تعالی نصرت هغه وخت وي چې د الله تعالی دشریعت اتباع وي؛ دشریعت له اتباع پرته د الله نصرت او د دښمن په مقابل کې دمسلمان کامیابي ناشونې ده؛ د دښمن سره چې د مسلمانانو امیر یو تړون وکړي په ټولو مسلمانانو لازمه ده چې لحاظ یې وکړي؛ دتړون نه پس په شریعت کې د دښمن سره د چل او فریب او په پټه د معاهدې نه دمخالفت اجازه قطعاً نشته؛ دې کار ته په شریعت کې غدر ویل کېږي چې دا کبیره ګناه ده او په هکله یې ډېر وعیدونه راغلي دي؛غدر چې کبیره ګناه شوه پکې د ګټې فکر ډېره ستره خطا ده؛ که راتـه پکې سل ګټې ښکاري دا ګټې نه شي کېدای؛

دا هم ډېره مهمه ده چې موږ د شریعت په اتباع مکلف یو؛ دنتایجو او ګټو په ترلاسه کولو مکلف نه یو اود تړون باره کې دخپل فکر او خپل طبیعت له مخې دځه شي دخیراو شر پرېکړې او عمل کول لوی افراطیت دی؛ دخپل دښمن سره چې یو ځل معاهده وکړو بیا یې ساتنه د ټولو شرعي مسئولیت دی

او د دې معاهدې نه دهر فرد مخالفت غدر دی چې دا ګناه کبیره او له ځانه سره بد نتایج لري.

امام بخاري رحمه الله تعالی د (باب اثم من عاهد ثم غدر) تر عنوان لاندې د سیدنا عبدالله بن عمرو رضی الله عنه په روایت د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو حدیث راوړی چې زموږ لپاره ډېر دتوجو وړ دی؛ هغه فرمایي: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اربع خلال من کن فیه کان منافقا خالصا من اذا حدث کذب و اذا وعد اخلف و اذا عاهد غدر و اذا خاصم فجر من کانت فیه خصلة منهن کانت فیه خصلة من النفاق حتی یدعها.

څلور خویونه چې په چاکې وي هغه سوچه (عملي)منافق دی، هغه څوک چې خبرې کوي دروغ وایي، چې وعده وکړي وعده خلافي کوي، چې معاهده وکړي غدر کوي، او چې خصومت کوي بدې ردې وایي ؛ په چا کې چې له دې خویو نو ته یو وي هغه کې به یو خوی د نفاق وي تردې چې ترک یې کړي.

نو دمعاهدې نه پس د غدر کولو له امله چې سړی منافق ګرځي او دا کار په شریعت کې نفاق ګڼل کېږي؛ نو که د نفاق له لارې یو کار تر سره کېږي او په ښکاره لویه لاسته راوړنه هم وي څه خیر به ولري؟

دا یوه ډېره ښه موکه ده چې الله تعالی موږ ته راکړیده؛ که مو دغدر نه ځان وساتلو د الله تعالی حکم به پر ځای شي؛ نړۍ ته به خپل پیغام ورسوو؛ زموږ په اړه شوي منفي او پوچ تبلیغات به رد او زموږ په اړه دنړۍ منفي فکر به بدل کړو؛ نړۍ ته به مو مسلمانه، صادقه او ژمنه څېره ښکاره او اعتماد به یې را جلب کړو.

هو! که ددښمن له لورې دخیانت قوي احتمال و نو بیا دعهد ماتول جایز دي پدې شرط چې مقابل لوري ته دعهد ماتولو په هکله پوره علم وي؛ خو تړون ختمول او غدر کول ډېر فرق لري باید یو له بل سره خلط نه شي.

عبدالستار سعيد

# د افغانستان په نږدې تاريخ کې

## د اشغال د خاتمې تړونونو ته لنډه کتنه

زموږ هېواد افغانستان د خپل ځانګړي ستراتيژيک اهميت له امله د تاريخ په اوږدو کې هميشه د بهرنيو يرغلونو هدف ګرځېدلی دی. که له يوې خوا د دې هېواد موقعيتي خصوصيت او مادي ثروتونو د يرغلګرو زړونه وړي، بل اړخ ته په دې خاوره د مېشت ولس ديني، جهادي او د حريت طلبۍ خاصيت بيا هميشه د سترو نيواکګرو په سترګو کې اغزی ګرځېدلی دی.

په تېرو سلو کلونو کې افغان ولس د نړۍ درې ستر زبرځواکونه او نړۍ نيوونکې امپراطورۍ د خپل ايماني عزم او مېړانې په برکت د جګړې په ډګر کې له شکست سره مخامخ کړې او هغوی يې د خپل شکست منلو د وثيقې په لاسليک ار کړي دي.

دا چې نن موږ د امريکايي اشغالګرو لخوا د اشغال د خاتمې د تړون د امضاء د لومړۍ کليزې په مناسبت راټول شوي يو. غواړم تر دې وړاندې له انګريزي استعمار او وروسته د شوروي يرغلګرو لخوا د خپلو اشغالګرو ځواکونو د ايستلو او د اشغال د خاتمې د قراردادونو په اړه هم لنډ معلومات مجلس ته ارائه کړم، تر څو وکولای شو د حوت د لسمې تړون د تاريخ په هنداره کې وارزوو.

### د انګريزي اشغالګرو شکست او د افغانستان استقلال منل

انګريزي استعمار چې په اتلسمه او نولسمه ميلادي پېړۍ کې د خاورينې کرې تر ټولو ځواکمن نيواکګر بلل کېده او په اصطلاح د واکمنۍ په قلمرو کې يې لمر نه ډوبېده، د افغانستان له مؤمن ولس سره له اتيا کلنو زور ازموينو وروسته يې په ۱۹۱۹ ميلادي کال کې د افغانستان استقلال په رسميت وپېژاند.

افغان ولس له انګريزانو څخه استقلال د توري په زور وګاټه. کله چې د دريم افغان ــ انګليس جنګ په پايله کې افغان مجاهدين وتوانېدل چې د پکتيا او کندهار په محاذونو کې انګريزانو ته شکست ورکړي. په خاص ډول سپهسالار نادر خان او ورور يې مارشال شاولي خان د وانه، کورمې او ټل په شمول ډېرې سيمې له انګريزانو ونيولې. انګريزان مجبور شول چې د افغان ولس د حريت غوښتنې داعيه ومني. نو ځکه يې د جنګ په ډګر کې د متارکې غوښتنه وکړه او د ښکېلو اړخونو ترمنځ د سولې مذاکرات پيل شول.

خو د مؤرخينو په قول د هغه وخت افغان حکومت لکه څومره چې په نظامي ډګر کې بريالی و، د مذاکراتو په بهير کې ونه توانېد چې د افغان ولس ټولې غوښتنې په انګريزانو ومني. دا چې هغه وخت افغان ولس په فاتحانه موقف کې و، بالمقابل انګريز اشغالګر په لومړي نړيوال جنګ کې ځپل شوي او د پخوا په نسبت په کمزوري موقف کې ول، نو افغانستان ښه فرصت درلود چې له انګريزانو څخه پخوانۍ اشغال شوې سيمې هم بېرته ترلاسه کړي. اما د مذاکراتو په مېز انګريزانو يوازې د افغانستان استقلال تسليم کړ او په مقابل کې يې د افغان حکومت استازي په دې قانع کړل چې له نورو ټولو غوښتنو تېر شي او د ډيورند د کرښې بل اړخ ته ټولې نيول شوې سيمې بېرته خوشې کړي.

مشهور مؤرخ محمد ابراهیم عطایي وایي چې د امان الله خان اشتباه دا وه چې د لومړي پړاو مذاکراتو لپاره یې د علي احمد خان په نوم یو کمزوری او خپلسری دیپلوماټ ټاکلی و. علي احمد خان چې د امان الله خان په حکومت کې داخله وزیر و له امان الله خان سره یې خپلوي هم درلوده. د ۱۹۱۹ کال په جولای کې چې کله نوموړی له انگریزانو سره د مذکر اتو لپاره راولپنډۍ ته روانیده نو د افغان حکومت لخوا ورته یو طرز العمل ترتیب شوی و تر څو د هغه په رڼا کې مذاکرات مخته یوسي. خو علي احمد خان د مذاکراتو له پیل وروسته دغه طرحه هیره کړه او په خپل سره یې له انگریزانو سره توافقات وکړل.

د علي احمد خان لخوا د شوي توافقنامې په پنځمه ماده کې راغلي وو چې د افغانستان او انگریزي هند تر منځ پولـه چې پخواني امیر ( حبیب الله خان) منلې وه اوسنی امیر ( امان الله خان) یې هم مني او په کومو سیمو کې چې پوله نه ده تعین شوي د یوه انگریز هیئت لخوا به تعین کیږي او د افغانستان امیر به یې تسلیموي.

د مؤرخ شاغلي عطایي په وینا د دې توافقنامې ځینې مادې د افغانستان لپاره تر وخت مخکې او ډیرې تاواني وې چې د مذاکراتو په راتلونکو پړاوونو کې یې بیا کله هم افغان لوری په جبیره کولو ونه توانید. همدا لامل و چې کله د هیئت مشر علي احمد خان کابل ته ورسید او امان الله خان ته یې توافقنامه وړښکاره کړه، هغه ورته دومره غوسه شو چې د ده د اعدام فیصله یې وکړه. خو دا چې علي احمد خان د امان الله خان د مور وراره و، نو د خپلې مور په سپارښ یې له اعدامه تیر شو خو دوه کاله یې په خپل کور کې نظر بند وساته. له دې وروسته امان الله خان خپل د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي له انگریزانو سره د مذاکراتي پلاوي مشر وټاکه. محمود طرزي د مذاکراتو په راتلونکو پړاوونو کې ډیره هڅه وکړه چې د استقلال له خپلولو نه علاوه نورې غوښتنې هم په مقابل ارخ ومني خصوصا د شرق او جنوب پر خوا د افغانستان د قلمرو پراخول او د پخواني لوی افغانستان اروند سیمې را خپلول د افغان حکومت ستر ارمان وو. خو افغان مذاکراتي پلاوی ونه توانید چې د علي احمد خان لخوا شوې اشتباه جبران کړي.

په دې ډول انگریزانو د افغانستان اشغال په رسمیت وپیژاند، خو هغه مهمې لاسته راوړنې چې افغان حکومت د مذاکراتو په میز ترلاسه کولای شوې په بشپړه توگه ترلاسه نه شوې.

## د شوروي اشغالگرو شاتګ او د جنیوا توافقات

له اوس نه څلویښت کاله وړاندې د هغه وخت ستر جابر ځواک شوروي اتحاد پر افغانسنان یرغل وکړ. شوروي اتحاد په افغانستان تر یرغل وړاندې د نړۍ هغه اشغالگر بلل کیده، چې له خپلې هیڅ مستعمرې څخه یې شاتګ نه و کړی. اما دا د افغان ولس د ایمان او عقیدې ځواک و چې د الله تعالی په نصرت یې د شوروي اتحاد ځواکمن پوځ له شکست سره مخامخ کړ.

له څو کلنو نظامي تجربو او زور ازموینو وروسته د شوروي اتحاد وروستی مشر گورباچوف دې نتیجې ته ورسید چې په افغانستان کې بریا ناشونې ده. نوموړي د افغانستان جگړه د شوروي اتحاد لپاره ناسور ټپ وباله او په دې ډول یې د خپلو ځواکونو د ایستلو په پلان کار پیل کړ. گورباچوف د آبرومندانه وتلو لپاره د سیاسي حل له وړاندې پیل شوې پروسه په پوره جدیت تعقیب کړه، تر دې پورې چې د ۱۹۸۸ کال په اپریل میاشت کې د جنیوا مذاکراتو او توافق ته لاره هواره شوه. د جنیوا مذاکرات او توافقات د هغه وخت د نړیوال نظم ( دوه قطبي جهان) له چوکاټ او تقسیم بندۍ سره سم ترسره شول. که څه هم د مذاکراتو د پروسې اصلي متصدي د ملگرو ملتونو سازمان وو خو د مذاکراتو اصلي او مؤثر اړخونه شوروي اتحاد او د امریکا متحده ایالات وو. دغه راز د پاکستان خارجه وزیر زین نوراني او په کابل کې د ډاکټر نجیب په مشرۍ د کمونیست رژیم د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر عبدالوکیل هم په کې گډون درلود.

د تعجب او تأسف خبره دا وه چې د شورویانو په وړاندې د منازعې اصلي اړخ ( د افغانستان ولس او مجاهدینو) په دې مذاکراتو کې برخه نه درلوده. په جهادي صف کې د تنظیمي اختلافونو او تشتت له امله مجاهدین نه و توانیدلي چې د نظامي بریا تر څنگ ځواکمن او متحدانه سیاسي موقف هم ترلاسه کړي. د مجاهدینو له سیاسي

ضعف او غیر حاضری څخه په استفاده امریکا هڅه کوله د افغانستان قضیه له شوروي اتحاد سره د نړیوالو قضاياوو په نوملړ کې تضمین او د خپلو مطقوي ګټو په تناظر کې حل کړي. د جنیوا مذاکرات چې په ترڅ کې یې د شاملو څلورو اړخونو ترمنځ بیلابیل توافقات امضاء شول، شورویانو د ځان لپاره یو فرصت وباله تر څو ددوی په خبره د افغانستان له جګړې آبرومندانه شاتګ وکړي. له دې پرته یادو توافقاتو هیڅ عملي جنبه او د پام وړ نتیجه نه درلوده بلکې کاملا یوه نمایشي پروسه وه. د افغانستان لپاره د ملل متحد ځانګړی استازی دیګو کوردوویز په خپلو یاداشتونو کې لیکلي چې دغه توافقنامه په سره او بې روحیې فضاء کې امضاء شوه. دغه وړ توافقات چې همیشه له ګرمو احساساتو او تاوده هرکلي سره مخامخ کیږي اما د جنیوا د توافق د امضاء په وخت د مجلس فضاء لکه د جنازې مراسم بې روحه او بې خوږه وو. وروسته هم ولیدل شول چې دې توافقنامې د افغانستان د ستونزې په حل کې هیڅ رول اداء نه کړ.

## د کب پر لسمه د امریکایي اشغال د خاتمې توافق نامه

د ۱۳۹۸ لمریز کال د حوت په لسمه د قطر په دوحه کې د اسلامي امارت د سیاسي استازو او د امریکا د متحده ایالاتو د نمایندګانو تر منځ د اشغال د خاتمې تړون امضاء شو. لکه څنګه چې ثمه ده که د افغانستان اشغال د دې تړون سره سم پای ته ورسیږي او زموږ ولس د خپلواک اسلامي نظام څښتن شي نو شک نشته چې د حوت د لسمې توافق به زموږ په تاریخ کې په ډیرو درنو کانو وتلل شي.

د امریکایي اشغال د خاتمې په مقصد ترسره شوی دغه توافق ځکه په خپل ډول کې بې ساری دی چې له مخې یې زموږ مجاهد ولس د پخوا هرکله په نسبت په یوه نامتوازنه جګړه کې د نړۍ د یوه څواکمن هیواد څخه د اشغال د شکست او د استقلال د ګټلو سند ترلاسه کړی.

د مذاکراتو او دیپلوماتیکي مراوده یوه ساده تعبیر دا بلل کیږي چې د یو څه د ترلاسه کولو لپاره باید یو څه له لاسه ورکړل شي. اما که موږ د حوت د لسمې توافق په دقت سره وګورو رامعلومه به شي چې دغه توافق کاملا یو اړخیز او د جهادي صف په ګټه دی. همدا لامل و کله چې تیر کال د حوت په لسمه د دې توافقنامې جزئیات رسنیو ته راووتل نو نړیوالو څارونکو او د نظر خاوندانو هغه د اسلامي امارت سیاسي فتحه او ستره بریا وبلله. د بي بي سي رادیو یوه نړیوال تحلیلګر دغه توافق د طالبانو لپاره د ده په اصطلاح ( بُرد بُرد) یعني سراسر ګټه وباله، چې دا د اسلامي امارت د مذاکراتي ټیم په بریالۍ کارکردګۍ یوه مهمه ګواهي وه.

بله دا چې له امریکایانو سره په مخامخ مذاکراتو کې د افغانستان د جهادي مقاومت واقعي استازو ګډون درلود. هغوی له بشپړ استقلال او د تصمیم او پریکړې له خپلواکۍ څخه برخمن ول. دغه توافق نه څو د نړیوالو ابرقدرتونو له منطقوي ستراتیژیو څخه اغیزمن و او نه هم د سیمې او ګاونډ د کوم هیواد سیوری وربانډې پروت وو. حتی چې په دې مذاکراتو کې کوم دریمګړې هم حضور نه درلود بلکې له اشغالګر اړخ سره د افغانانو مخامخ مذاکرات ول.

د اسلامي امارت د مذاکراتي پلاوي همدا خپلواکي د دې سبب شوه چې د دنیا له عالمګیر څواک امریکا سره په میاشتو میاشتو سخت او پیچلي بحثونه وشول. له هغوی سره په هره خبره اوږدې چنې ووهل شوې او ټول موارد زموږ د ولس د دیني ارزښتونو او ملي ګټو په تناظر کې نهایي شول.

د کب د لسمې د توافق بل خصوصیت دا و چې د دې توافق ټول مواد د اسلامي شریعت د علماء کرامو له نظره هم تېر او تائید شوي دي. خلاصه دا چې په دې توافق کې د زموږ د مجاهد ولس د څو لسیزو د جهاد او قربانیو ستر اهداف ( اسلامي نظام او خپلواکي) دواړه تسجیل شوي دي، چې دا خورا مهمه او تاریخي لاسته راوړنه ده.

خو دغه توافقنامه لکه څومره چې زموږ د هیواد او ولس په ګټه ده، همدومره د مقابل اړخ لپاره هم د موضوع د حل تر ټولو منطقي او یوازینۍ عملي لاره ده. نو ځکه که امریکایي څواکونه غواړي چې په افغانستان کې نور ابرو ونه رژیږي باید چې د همدې توافق سره سم د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کیږدي.

## د حوت ۱۰ مې په یاد

تپاند زهاد

آدم خوره نړۍ خوره ماته شوه
امریکا شوله نسکوره ماته شوه

چې د سوپر دعوه ګېروه په دنیا کې
زور یې سِفر شو مخ توره ماته شوه

زورور خداي د طالِب په لاس کړه ماته
ها بې شرمه او سرزوره ماته شوه

د الله پاک په نصرت شوه دړې وړې
متعال رب کړه بې زوره ماته شوه

اوس له جنګه د میدانه ده لوېدلې
شوره پشته شوه بې شوره ماته شوه

اتوم خیل او ناټوخیل په منډه سر دي
شوه ناکامه په هر لوره ماته شوه

اې تپاند زُهاده ته‌یې سترګي تښتې
هسکه غاړه ورته ګوره ماته شوه

## نصیحت

انس حقاني

په سیف د ژبې دهیچا په پټ حمله مه کوه
د چا له ښو اخلاقو سوء استفاده مه کوه

د ژبې توره د چوپتیا په تیکي پټه ساته
د خلکو زړونه پرې ټپي نه کړې غصه مه کوه

د عرش ځښتن دې ګام په ګام ګوري او څار دې کوي
د معصیت د ارتکاب هیڅ اراده مه کوه

چې د زړه سترګې دې ړندې نشي د حرص په غشو
د دنیوي فاني ښکلا مراقبه مسه کوه

اول پرې فکر کوه، خیر شر یې معلوم کړه درته
بې فکره هیڅکله هیچا ته هم کیسه مه کوه

له ناکامۍ او ندامت که ځان ساتل غواړې
په وخت د قهر او شهوت کې فیصله مه کوه

که د احسان غشي دې وار کړل د حاسد په لوري
بس ترې بې غمه شه، د شر یې اندېښنه مه کوه

ستا له شرف سره انسانه حقیقت ښایېږي
د زړه نظر دې د مجاز په آئینه مه کوه

چې ملګرتیا پاللی نشې نو بیا مه جوړوه
چې د تعمیل ورتیا یې نلرې وعده مه کوه

د محبت راج که د خلکو په زړو غواړې اشنا
د بل په کار کې بې اړتیا مداخله مه کوه

انسه! مرسته تل له خپل پروردګاره غواړه
په مادیاتو خو هیڅکله هم تکیه مه کوه

# د یتیم ازار

عبیدالله علم

خــدای خــبر چــي دا د کــوم یتــیم ازار دی
مــونږ تــه نــه راځــي لــه مــونږه چــې بیــزار دی

نــور مــو معــاف کــړه توبــه ګــار یــو پاکــه ربــه
ســولې راشــه رحــم مــوږ بانــدې پکــار دی

دا د وینــــو ســــیلابونه چــــي بهیــــږي
د مرګــي کــټ مــو اوږو بانــدې تــل بــار دی

روغ کورونــه مــي چــي تــا وه ســم لیــدلي
راشــه اوس وران دي هــــر یــــو بمبــــار دی

هغــه خــوان چــې یــې پــرون د واده ورځ وه
نــن پــرې جــوړ د تــورو خــاورو لــوی انبــار دی

مشــــالونه مــــو د علــــم وژل شــــوي
څکــه اوس تــورتم کــې ډوب کلــی او ښــار دی

ســولي راشــه د (علــم ) د ژونــد لمــر لــویږي
ښــکاري روغ خــو پــه زړګــي بانــدې بــیمار دی

## پیوستون کډه راوړي

خالقیار احمدزی

یــو نــوی اواز خپــور دی، پیوســتون کــډه راوړی
زمــونږ او د هغــوی تــرمنځ تــړون کــډه راوړې

دې چــم تــه رقیبــان، هــم دي راغــلي ډیــر بیشــماره
یو یو اوس چې تړې نـه باسو، اوښتون کډه راوړې

جانانــه وریځــې ګرځــي د وصــال بــاران دې وشي
د افغــان وطــن جــوړیږي، بیــا پښــتون کــډه راوړې

غـزاوې وې، جګـړې وې د نـړۍ سـتوری نسـکور شـو
دلته هر اشغال مات شوی، چې یې شتون کډه راوړې

د افغان د فغان خوګ وه، ته خبر یې چې څه حال وه؟
دلتــه هرکــانی زخمــي شــو، کفــري یــون کــډه راوړې

دلتــــه ټکنــــده غرمــــه وه، د ظلمونــــو تیلــــی بــــل وه
دلتــــه ورانــــه میکــــده وه،یــــو جنــــون کــــډه راوړې

دا افغــان د تــورې شرنــګ وه، د طالــب دشــملي زور وه
اشــغالګر چې شــول سرټیټــي؛ چې تــړون کــډه راوړې

دا کــوهی دی او سراب دی، دا د نــوې مــاتي بــاب دی
دلتــه ورک او تبــاه شــوی، هــر آزمــون کــډه راوړې

چــا چــې بــد راتــه کــتلی، خالقیــاره مــونږ ویشــتلي
چــا کــه نــن کــډه راوړې، چــا پــرون کــډه راوړې

حافظ نور احمد سعید

# د دوحې تړون؛

## د افغانستان او امریکا امنیت تضمینولای شي

د ۱۳۹۸ل. کال د کب پر ۱۰مه دوحه کې داسلامي امارت او امریکا ترمنځ دافغانستان د اشغال د خاتمې تړون لاسلیک شو.د تړون د لاسلیک مراسم د ملګرو ملتونو، اسلامي کنفرانس، اروپایي ټولنې، چین، روسیې او دافغانستان د ګاونډیو هیوادونو داستازو او خارجه وزیرانو په حضور کې ترسره شول. د دوحې تړون څخه همدې هیوادونو او بنسټونو ملاتړ اعلان کړ او دایې دافغانستان د روانې کشالې د سوله ییز حل یوه ښه لار نقشه وبلله.

### د افغانستان او امریکا د اړیکو پس منظر:

د امریکا او افغانستان دغیر رسمي روابطو پیل له ۱۸۲۸م. کال څخه شوی، څه باندې یوه پیړۍ افغانستان او امریکا په همدې شکل غیر رسمي اړیکي پالل، په یاده شوې موده کې ګڼ امریکایي اتباع په بیلابیلو نومونو او دمختلفو موخو لپاره افغانستان ته راغلي،جوزیاه هرلان لومړنی امریکایي دی چې دامیر دوست محمد خان په واکمنۍ کې افغانستان ته راغلی او دلته یې مختلفې دندې ترسره کړي دي.

په ۱۹۳۶ کال چې ظاهرشاه د افغانستان واکمن و، افغانستان او امریکا رسمي او ډیپلوماتیکي اړیکي پیل کړي او تر دې مهاله له مختلفو پړاونو تېر شوي.کله یې مثبت اړخ غالب شوی او کله یې بیا منفي اغېزو افغانستان ته خورا درانه زیانونه اړولي دي. امریکاله افغانستان سره د رسمي سیاسي روابطو د پیل څخه وروسته د افغانستان د بیارغونې، آبیارۍ او زراعت په برخو کې ځینې لویې او وړې پروژې تطبیق کړي، لکه هلمند کې د کجکي بند او بغرا کانال جوړول، کندهار کې د دهلې بند او لویې ویالې برابرول او د کابل- کندهار د لویې لارې جوړول.

۱۹۷۹کال چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، امریکا د افغان ولس تر څنګ ودریده، شوروي تېری یې وغانده، دافغان ولس د جهاد ملاتړ یې وکړ او له مجاهدینو سره یې مالي او تسلیحاتي مرستې جاري وساتلې. خو شوروي چې ۱۹۸۹ کې ماته وخوړه او له افغانستانه یې پښې سپکې کړې، د افغانستان له قضیې سره د امریکا لېوالتیا کمه شوه.

د ۱۹۸۹ څخه تر ۱۹۹۶ پورې چې طالبانو کابل نیوه، د لیکوال په نظر امریکا د یو ناظر او بې طرفه جهت په توګه افغانستان څاره، خو کله چې طالبانو کابل ونیو، امریکا یو وار بیا متحرکه شوه، د افغانستان په قضیه کې مداخله شروع کړه، د طالبانو د مخالفینو سیاسي او اخلاقي ملاتړ یې پیل کړ، د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې یې د طالبانو پر حکومت سیاسي او اقتصادي بندیزونه ولګول او له مختلفو لارو یې په بیلابیلو پلمو د طالبانو حکومت تر ۲۰۰۱ کال پورې په انزوا کې وساته او د همدې کال د سپتمبر له پېښې وروسته یې پر افغانستان د پوځي تېري اعلان وکړ او د اکتوبر پر ۷مه امریکا او متحدینو یې زموږ پر ګران هیواد ظالمانه او وحشیانه یرغل و کړ.

### پر افغانستان دامریکا یرغل لویه اشتباه:

پر افغانستان دامریکا یرغل افغانستان او امریکا دواړو ته بې حسابه بشري،سیاسي او اقتصادي تاوانونه ورسول. د امریکا یرغل افغانستان او افغان ولس ته خورا درانه زیانونه واړول، په لکونو افغانانو شهیدان، ټپیان او اسیران شول، عام المنفعه تاسیسات،مذهبي،تعلیمي او روغتیایي اداري، کلې او بازارونه

بمبار او ویجاړ شول، په نړیواله کچه افغانستان اداري فساد کې جایزې وګټلې، اخلاقي فساد شرمونکي حالت ته ورسيد، د مخدره موادو کر، قاچاق او تجارت اوج ته ورسيد او د معتادينو شمېر تر دوه مليونه اوښتی دی، قومي او سمتي توپيرونه راپورته کړل شول، د مقدساتو توهين تکرار شو، په افغان فرهنګ او عنعناتو ملنډې ووهل شوې، دملي اتلانو د شخصيتونو او کارنامو د سپکاوي کمپاينونه ترسره شول اوپه ټوله کې دافغانستان پرمځکني او هوايي حريم د يرغلګرو ولکه، د ملي استقلال له منځه وړل او افغان مجاهد ولس د محکوميت په دايره کې را ايسارول د نمونې په ډول يادولای شو.

همداراز امريکا هم د افغانستان په جګړه کې خير نه دی ليدلی، په زرګونو امريکايي پوځيان ووژل شول، لسګونه زره ټپيان شول، په زرګونو محاربوي او ترانسپورتي ثقيله وسايط يې له خاورو سره خاورې شول او په لکونو هغه بهرني عسکر چې افغانستان کې يې دندې ترسره کړې په رواني او نفسياتي مهلکو ناروغيو مبتلاء شوي چې څينو يې د همدې مريضيو له امله ځان وژنې هم ترسره کړې دي او امريکا دې جنګ کې تر يو ټريليون ډير ډالر يې مصرف کړي، خو ددې ټولو ځاني زيانونو او مالي مصارفو سربيره امريکا په افغانستان کې خپلو اهدافو ته ونه رسيده.

امريکا داسلامي امارت پر ضد د پراخو پوځي- وحشيانه عملياتو او دوامداره تبليغاتو سره سره، سياسي، مالي، مذهبي او ټولنيز فشارونه هم وارد کړل، هره ناروا وسيله او حربه يې وکاروله خو اسلامي امارت يې کمزوری نه کړ او د يرغل له اول کال څخه ورځ په ورځ د يرغل پر ضد ولسي-پاڅون پراخ او پياوړی شوی او د امريکا او کابل حکومت د واک ساحه محدوده شوې ده.

ډيره مهم لا داده چې دافغانستان جګړې امريکا ته پرځاني او مالي زيانونو سربيره نور تاوانونه هم ورسول، په نړيواله سطحه يې د امريکا حيثيت خراب کړ او د يکه تازی له نړيوال قوت څخه يې د څو قطبي نړۍ سره مخامخ کړه.

امريکا له افغانانو سره تر ۱۸ کلنې خونړۍ جګړې وروسته د ۲۰۲۰م،د فبروري په ۲۹ مه نېټه دوحه کې له اسلامي امارت سره له افغانستانه د وتلو توافقنامه لاسليک کړه چې مځکې هم اشاره ورته وشوه. د دوحې تړون پر څلورو مهمو او ټاکونکو برخو مشتمل دی:

امريکا او متحدين به يې د ۱۴مياشتو په جريان کې ټول عسکر، قراردايان او غير ډيپلوماتيک پرسونل له افغانستانه باسي.

اسلامي امارت به چاه ته اجازه نه ورکوي چې دافغانستان خاوره دامريکا او متحدينو پر ضد يې وکاروي.

د بين الافغاني مذاکرات پيلبدل او دافغان جهتونو سره د افغانستان د راتلونکي لپاره پر يوې سياسي لار نقشې يا ټول شموله اسلامي حکومت هوکړه ترسره کيدل.

## افغانستان او امريکا ته د دوحې د تړون ګټې

د دوحې د تړون تعميل هم د افغانستان په ګټه دی او هم د امريکا، ددې تړون په عملي کولو سره د امريکا د تاريخ تر ټولو اوږده جګړه ختميږي او له افغانستانه د امريکا امنيت ته د احتمالي خطر مخه نيول کيږي، امريکا چې د افغانستان په جنګ کې څومره بشري او مالي زيانونه ګاللي او تر اوسه چې هره ورځ څومره مصارف ترسره کوي، د دې ځاني او مالي تاوانانو مخنيوی د دوحې تړون کې نغښتی دی. د دوحې تړون په مراعاتولو سره امريکا کولای شي خپل بايللی حيثيت نسبتا اعاده کړي، له افغانستان سره ډيپلوماتيک روابط جاري وساتي او په افغانستان او سيمه کې تجارتي، زراعتي او انکشافي پروژې عملي او ګټه ترې ترلاسه کړي.

همداراز د دوحې تړون په پلي کيدو سره افغان ولس له ذکر شوو ناخوالو او کړاونو څخه خلاصيدای شي،د يو مظلوم ملت په حيث ملي استقلال ترلاسه کولای شي،له ازاد ژوند، امنيت او عدالت څخه برخمن کيدای شي او د خپلې خوښې نظام جوړولای شي.

## که د دوحې تړون عملي نشي!

که امريکا د دوحې تړون نقض کړي، جګړه به شديده شي، افغانستان کې به دامريکا پر ملکي او نظامي تأسيساتو حملې زياتې شي، ځاني تلفات او مالي مصارف به يې زيات شي، د جګړې د جريان مسؤليت به ورله غاړې وي او پام وړ داچې امريکا د دوحې د تړون له عملي کولو پرته بله لاره هم نه

لري،که هر څومره پلمې او حربې وکاروي ، خو بالاخره به بیرته همدې ترون ته رجوع کوي او له همدې مسیره به تېرېږي.

امریکا بار بار اعتراف کړی چې د افغانستان جنګ نشي ګټلای،هو دا یو واقعیت دی چې امریکا د افغانستان جنګ نشي ګټلای، امریکا به یوه ورځ خامخا له افغانستانه وځي، نو کومه پرېکړه چې سبا تر سره کوي، نن باید واقعیتونه ومني، حقایق درک کړي، له افغانستان څخه تېول عسکر وباسي او افغانان پرېږدي چې په خپل هېواد کې دخپلې خوښې نظام جوړ کړي.

افغانان د خپل باغي او غيرتي فطرت له مخې په خپل هېواد کې پردي پوځونه او لاسپوڅي رژیمونه، نه زغمي،د دې ادعاء د ثبوت لپاره تېر شل کلونه یو ژوندی مثال دی. موږ اتیا کاله له انګریزي ښکېلاک سره مبارزه وکړه، خسته نه شولو او پای مو ازادي ترلاسه کړه، له شوروي اتحاد او داخلي کمونستانو سره مو ۱۴کاله جهاد وکړ او دا دی د امریکايي یرغل پر ضد مو مبارزه شلو کلونو ته رسیږي، خو له دې دومره اوږدو مبارزو سره سره د خپل دین او وطن له دفاع ستړي شوي نه یو، په همدې مبارزوویاړو او په راتلونکي کې هم په ویاړ سره د خپلو ارزښتونو،خاورې، ګټو او..... ساتنې ته چمتو یو.

دا یو انکار نه منونکی واقعیت دی چې افغان ولس نه کوم هېواد تهدید کړی او نه یې هم د چاه حریم نقض کړی دی، خو هر مستکبر او طاغوت چې د دې ملت پر حریم تجاوز کړی، بیا یې نو له خپلو حقونو په ډېره میړانه دفاع کړې او یرغلګر قوتونه یې په مات سر او ټیټو سترګو له خپل ویاړلي تاټوبي شړلي دي.

## اسلامي امارت؛ د افغان ولس واقعي استازی:

نړیوال مخصوصا امریکا باید، اسلامي امارت افغانستان کې پر نورو سیاسي او جهادي جریانونو قیاس نه کړي،ځکه اسلامي امارت بې پرتلې ولسي-ملاتړ لري، په بل عبارت اسلامي امارت د ولسي پاڅون دوهم نوم دی، دولس په غوښتنه او ملاتړ یې پاټکسالارۍ او انارشۍ ته د پای ټکی کېښېناوه او له تېرو دوولسیزو راهیسې د یرغلګرو او لاسپوڅي رژیم پر وړاندې د ولسي جهادي بهیر مشري کوي.

نور زیاتره جریانونه موسمي او سمتي پاته شوي، خو اسلامي امارت د هېواد په سطحه هغه اسلامي-ملي تحریک دی چې مختلف قومونه او قشرونه یکې په خدمت لګیا دي، له بدخشانه تر هلمنده، له ننګرهاره تر هراته او له بلخه تر خوسته ټول وروڼه قومونه داسلامي امارت په مشرۍ د هېواد او دین ساتنې په مبارزه بوخت دي. نو بناء که هر هېواد او لوری له افغانستان سره اړیکې جوړول او پالل غواړي، د اسلامي امارت له وجود او دخالت پرته پایښت نشي-کولای، اسلامي امارت هغه یوازینی ولسي معتدل بنسټ دی چې کورنی کړنلاره او بهرنی تګلاره یې پر اعتدال بناء ده، پر سیاسي دوه مخې باور نه لري،قول یې له عمل سره مطابق دی، غدر نه کوي او دمتقابلو جهتونو سره توافقاتو ته ژمن دی.

## پایله

باور دا دی که امریکا د ۲۰۰۱ کال راهیسې جګړه پېیزه پالیسي نه وای غوره کړې، په نړۍ کې چې اوس د امریکا په وړاندې کوم اقتصادي، سیاسي او پوځي بلاکونه تشکیل شوي او د تکامل په حالت کې دي همدا به نه وای او امریکا به د اوسني وضعیت سره نه وای مواجه شوې. که فرضا امریکا د دوحې له ترونه په یوه او بله پلمه تیښته وکړي او ناکامې تجربې بیابیا تکرار کړي، د جګړې د دوام مسؤله به وي، نړیوال حیثیت او سیاسي دریځ به یې نور هم ټیټ شي او له دې وروسته به خوک له امریکا سره سیاسي تعامل او جوړجاړي ته زړه نه نیسي.د دوحې ترون دافغانستان او امریکا د امنیت لپاره مثالي-امنیتي میثاق دی، په ټولو مادو یې باید د ټاکل شوي مهال ویش سره سم عمل وشي او د دې ګټور ترون په عملي کولو کې نور بایدځنډ رامنځته نشي، ځکه د همدې ترون تعطیل هم د امریکاپه زیان دی او هم د افغانستان د جګړې د دوام سبب دی.

یادونه: دغه مقاله د دوحې ترون د لومړۍ کلیزه په مناسبت جوړ شوي سمینار کې اورول شوې.



# د دوحې تړون لومړنی کلیزه، هیلې او اندیښنې

فاتح افغان:

پوره یو کال وړاندې د حوت په ۱۰ مه نېټه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو تر منځ افغانستان ته د سولې راوستو تړون لاسلیک شو.

د دوحې د تړون له لاسلیک سره سولې ته د افغانانو مراوې هیلې راوټوکیدلې،دوی هیله لرله چې نور به د اشغال خپسکه له افغانستان څخه پورته او غلامان به یې د کفارو له ملګرتیا څخه توبه وباسي او افغانان به سره غاړه غړی شي، افغانان خوښ وو چې نور به له چاپو او بمبارونو خلاص شي، نور به د ګران هیواد په فضاء کې بنګنې او بي ۵۲ الوتکې پروازونه نکوي، دوی تمه لرله چې ټول بندیان به راخلاص او د اسلامي حکومت او سولې په راتګ سره به د څلویښت کلن جهاد اهداف متحقق او د شهیدانو ارمانونه به پوره شي.

د دوحې تړون د سولې لپاره ښه زمینه مساعده کړه او په دې کې شک نشته که د توافقنامې سره سم عمل شوی وای اوس به په هیواد کې له یوې پایدارې سولې څخه برخمن وای، خو متاسفانه په دې برخه کې په قصدي ډول له ټېل متول څخه کار واخیستل شو چې ورسره د سولې پروسه هم ټکنی او د توافق شوي خط سیر سره سمه په مخ نه ولاړه.

لاندې لیکنه کې د تړون تیر یو کال ته ځغلنده کتنه کوو ترڅو جوته شي څوک تر څومره اندازې پر او چا ترڅومره بریده په خپلو کړیو ژمنو باندې وفا کړې؟

تړون له څلورو برخو جوړ او پکې هر لوري یو لړ ژمنې کړې وې چې په عملي کولو یې مکلف وو، چې اسلامي امارت د لاندینیو ژمنو د عملي کولو مسوولیت درلود.

له افغانستان څخه امریکا او متحدانو ته یې ګواښ نه پیښول.

بین الافغاني مذاکرات پیلول.

اوربند د بین الافغاني مذاکراتو د اجندا د یوې برخې په توګه منل.

**له افغانستان څخه ګواښ:**

اسلامي امارت په تړون کې ژمنه کړې وه چې افغانستان کې به داسې ډلو یا کسانو ته ځای نه ورکوي چې امریکا او د هغوی متحدینو ته ګواښ پیښوي، اسلامي امارت پر خپله دغه ژمنه مکمل وفاء وکړه هاغه دی د تړون یو کال په پوره کیدو ده خو د افغانستان له خاورې څخه امریکا او متحدانو ته یې هیڅ ګواښ نه دی پیښ شوی، اسلامي امارت لکه څرنګه چې په تړون کې ژمنه کړې ده، نه یې پخوا چاته اجازه ورکړې چې د افغانستان خاوره د چا په ضرر وکاروي او نه به یې په راتلونکي کې ورکړي.

**اورکم او د عملیاتو کچه ټیټه ساتل:**

سره له دې چې اسلامي امارت د دوحې د تړون له مخې د عملیاتو د کچې په ټیټ ساتلو باندې مکلف نه و، خو د حسن نیت په خاطر یې د دوحې له تړون وروسته له خپل لوري د عملیاتو کچه ډیره راټیټه کړه، پسرلني عملیات یې اعلان او پیل نه کړل، دفاعي حالت یې غوره او د ولاناتو او ولسوالیو په

مراکزو یې بریدونه وکړل، خپل مجاهدین یې کنټرول او له سترو حملو څخه یې راوګرځول.

موږ شاهدان یو د ټول کال په جریان کې په کابل او نورو سترو ښارونو کې ستر برید نه د شوی، همدغه راز په افغانستان کې هیڅ امریکایي عسکر نه ده وژل شوی.

خو له بده مرغه مقابل لوری په دې مورد کې هم خپلو تعهداتو ته ژمن پاتې نه شو، یوازې د امریکا له لوري د تیر کال په جریان کې ۱۱۰۰ ځله څخه زیات له تړون څخه تخلف او سرغړونه کړې، دا یوازې د امریکایانو سرغړونې دي د کابل اداري تخلفات له شمیره وتلي دي.

**اوربند د بین الافغاني مذاکراتو په اجندا کې:**

اسلامي امارت له خپلې ژمنې سره سم بین الافغاني مذاکرات پیل کړل او اوربند هم د بین الافغاني مذاکراتو د اجندا د یوې برخې په توګه ومنل شو، خو د کابل اداري پلاوی بې خایه په لومړی سر کې په اوربند ټینګار کوی چې په لوی لاس د خیرو د زیانمنیدو سبب ګرځي.

**بین الافغاني مذاکرات او د بندیانو خلاصول ځنډول:**

د اسلامي امارت اړوند هغه ۵۰۰۰ بندیان چې باید د تړون په لسمه ورځ راخلاص او متصل وریسې بین الافغاني مذاکرات پیل شوي وای، د امریکایانو او کابل اداري له لوري یې قصدا خلاصول تر شپږ میاشتو وځنډول شول چې ورسره بین الافغاني مذاکرات هم وځنډیدل.

امریکایانو او کابل اداري له لومړي سره د سولې له پروسې سره دلچسپي نلرله او پکې د قدم اخیستلو لپاره زړه نازړه وو، د کابل اداري د مرکچي پلاوي په جوړولو کې له بې ساري ځنډ څخه لاس واخیست، له اوږده ځنډ وروسته یې داسې پلاوی تشکیل کړ چې د ټولو احزابو او ګوندونو نمایندګي یې نشوه کولای او نه یې هم اختیارات او واکونه لرل، خو بیا هم اسلامي امارت له اغماض څخه کار واخیست او له همدغه پلاوي سره یې مذاکراتو ته زړه ښه کړ.

اسلامي امارت له خپل اړخ څخه د بین الافغاني مذاکراتو لپاره له ډیر پخوا څخه آمادګي ونیوله، قوي مذاکراتي ټیم - چې ګڼ شمیر د رهبری شورئ غړي پکې و- یې اعلان کړ.

**تورلیست او د جایزې لیست ختمول:**

همدغه راز د تړون له مخې امریکا مکلفه وه چې د ۲۰۲۰م کال د اګست میاشتې تر ۱۵ مې نیټې پورې هغه بندیزونه لرې کړي چې د دوی له لوري په ظالمانه ډول د اسلامي امارت په غړو باندې لګول شوي وو او په دې توګه باید تور لیست او د جایزې لیست مکمل ختم شوی وای، خو ملل متحد او امریکا نه یوازې دا چې د دې بندیزونو په لرې کولو کې عملي ګام پورته نکړ بلکه د بندیزونو د څار د کمیټې مشري یې څه موده وړاندې هند ته وسپارله.

**د منفي تبلیغاتو څپه:**

د متخاصمو جهتونو ترمنځ د تړون له لاسلیک کیدو وروسته داسې ګامونه اخیستل پکار وي چې د باور فضاء رامنځته او زړه بداوی له منځه یوسي.

اسلامي امارت له خپله اړخه په دې برخه کې هم کامل انعطاف وښود او د امریکایي اشغالګرو او د کابل اداري اداري پر ضد یې په خپل مطبوعاتي اسلوب کې نرمښت راووست،

خپل ليکوالان يې له ستوغو خبرو او ناوړه القابو له کارولو څخه منع کړل.

خو متاسفانه چې مقابل جهت په دې برخه کې هيڅ انعطاف ونه ښود د تړون په جريان او وروسته د امريکايي جنرالانو او چارواکو له لورې په تنده لهجه افغانانو او اسلامي امارت ته د تهديدنو او ګواښونو لړۍ شدت وموند.

همدغه راز اشرف غني او مرستيالانو د اسلامي امارت پر ضد د ناوړه تبليغاتو کمپاين تيز کړ، تبليغاتي غونډې او جلسې يې پيل کړي دي، د اسلامي امارت د مشرانو تخريب او سپکاوی يې خپله دنده وګڼله.

په دغه تبليغاتي کمپاين باندې يې په مليونونو ډالر مصرف وکړ خو هيڅ پايله يې ورنکړه بلکه په افغان ولس کې دغه سوله ضد ځيرې نورې هم منفورې وګرځيدلې.

### د تړون ارزونه:

د امريکا په انتخاباتو کې د بايډن له کاميابيدو وروسته امريکايي چارواکو دې خبرې ته زور ورکړی او دا ډنډوره يې پيل کړې چې اسلامي امارت تړون ته ژمن نه دې پاتې شوی او موږ غواړو چې تړون له سره وارزوو، خو په دې برخه کې دا بايد جوته وي چې امريکايان حق نلري په تړون کې نوي شرطونه کيږدي، ځکه هغوی سلهاو ځله له تړون څخه سرغړونه کړې، يوازينی اړخ چې د نويو شرطونو وړاندې کولو حق ورسره دی د افغانستان اسلامي امارت دی، ځکه د دوحې په تړون کې کړيو ژمنو باندې يې وفاء کړې او د پام وړ سرغړونه يې ورڅخه نه ده کړې.

### د خارجي ځواکونو مکمله انخلا:

د دوحې په تړون کې د ژمني له مخې امريکا مکلفه ده چې د تړون له لاسليکيدو وروسته تر څوارلسو مياشتو پورې خپل ټول پوځي ځواک له افغانستان څخه وباسي، تر يوه وخته پورې دا پروسه په ښه توګه روانه وه، خو اوس د امريکايي چارواکو او جنرالانو له لورې داسې اشارې ورکول کيږي چې ګواکې امريکا نه غواړي په خپله دغه ژمنه وفاء وکړي.

په افغانستان کې د اشغالګرو ځواکونو شتون د روانې جګړې لپاره ستر لامل دی او مکمل وتل يې دسولې پر پروسه ډير مثبت اغيز پريباسلی شي، اما که خدای ناخواسته امريکايي چارواکي بيا هم له سرتمګی څخه کار اخلي او د ځواکونو په ايستلو کې په خپله ژمنه وفاء نه کوي، دا به د جګړې په اور باندې د تيلو د پاشلو په مانا وي، چې له امله يې جګړه نور هم زور واخلي او ډير خلک به پکې ووژل شي.

نو ښه دا ده چې امريکايان په خپله ژمنه ودريږي د ځواکونو په ايستلو کې عجله وکړي دا د افغان او امريکايي ولس دواړو په ګټه ده.

متاسفانه د امريکا او کابل اداري د ناغيرو، له تړون څخه سرغړونو او تخلفاتو د سولې پروسه له ځنډ او ځنډ سره مخ کړې، په دې مورد کې د پړې ګوته زياته امريکا ته نيول کيږي چې په تړون کې کړيو خپلو تعهداتو باندې کلکه ونه دريده.

خو اوس هم اوبه له ورخه تيرې نه دي امريکا او کابل اداره بايد په خپلو ژمنو کلک ودريږي، پاتې ټول مجاهد بنديان راخلاص، بنديزونه ختم او د منفي تبليغاتو لړۍ بنده او په صادقانه توګه د سولې لپاره لاس په کار شي، اسلامي امارت سولې ته کاملا ژمن دی او هيڅکله په جګړې ټينګار نه لري.

# مانعین صلح و ثبات در کشور کیها اند؟

نویسنده: مفتی نورمحمد متوکل

الحمد لله الذي أنجز وعده، ونصر عبده، وهزم الأحزاب وحده والصلوة والسلام على من لا نبي بعده.امابعد فاعوذبالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم . {والصلح خير}

نویسندگان، ادیبان، صاحب نظران، مهمانان گرامی، مجاهدین غیور واشتراک کنندگان محترم سمینار تحلیلی صلح!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته! خوشحال هستم که امروز بمناسبت یک روز تاریخی نظر خود ره بشکل یک مقاله با شما شریک میسازم. خداوند متعال می فرماید{والصلح خیر} صلح خیر و سعادت است.

حضّار محترم!صلح بدون عدالت معنی نمی دهد؛ عدالت زمینه ساز صلحی حقیقی و پایدار است و از سویی این صلح و امنیت گسترش دهنده عدالت بوده و تربیت انسان ها و سعادت بشر را که هدف انبیای الهی است، تحقق می بخشد. ساختار ضدانسانی و ناعادلانه روابط بینُ المِلل را مخل صلح و امنیت جهانی می داند. این ساختار ناعادلانه، ساختارهای فرعی ناعادلانه را شامل می گردد که هر کدام با شاخص های خود تامین کننده منافع ابرقدرت ها و مستکبران و ضایع کننده حقوق مظلومان است. مهمترین هدف انبیای الهی و یکی از اهداف دین مبین اسلام، برقراری عدالت و صلح جهانی بوده است.

### مانعین صلح وثبات درکشور کیها اند؟

پس از آنکه پیمان تاریخی دوحه میان امارت اسلامی افغانستان و امریکا، بعد از یازده دور مذاکراتِ رسمی، در دهم حوت 1398ش توسط محترم «ملا عبدالغنی برادر»معاون سیاسی امارت اسلامی و«زلمی خلیل زاد» نماینده ایالات متحده آمریکا با حضور داشت وزیران خارجه ونمایندگان بیش از 30کشور منطقه وجهان، وهمچنین نماینده های ویژه برخی از کشورها برای افغانستان در دوحه پایتخت قطربصورت رسمی امضا شد،از یکسو امیدها برای رسیدن به صلح وپایان جنگ درکشور زیاد شد،و ازطرف دیگر برخلاف توافق نامه، تحرکات برای سبوتاژ پروسه صلح از سوی بعضی حلقات وچهرهای جنگ طلب،خود غرض ،جاه طلب ونشسته بر اریکه قدرت درداخل وخارج کشور آغاز گردید وهمواره جریان دارد. اینها از هر راه ممکن تلاش می ورزند که به پیمان دوحه صدمه وارد کنند وبه اشغالگران قناعت بدهند که حضور شان در افغانستان لازمی است وبیرون شدن آنها از این کشور اشتباه بزرگ می باشد.

به تعقیب همین تلاش های نافرجام، یکعده چهرهای جنگجو در قلب کابل و بعضی ولایات دیگر انفجارات وترورها را شدت دادند ، تا به جهان نشان بدهند که ، طالبان به توافق نامه دوحه متعهد نیستند. در حالیکه امارت اسلامی

پیمان دوحه را بطور احسن عملی نموده است واز جانب مقابل هم میخواهد که به معاهده پایبند بماند، واز افواهات حلقات مغرض وضد صلح متاثر نشوند.

هنگامیکه گفتگو ها بین تیم مذاکراتی امارت اسلامی و جهت امریکای جریان داشت وامید برده می شد که در آینده نزدیک توافق نامه صلح امضاء شود، در پهلوی دیگر تلاشهای ناکام مانعین صلح، یک نامه رئیس ارگ به بیرون درزکرد که به ترامپ رئیس جمهور آمریکا فرستاده بود، در آن نامه از رئیس جمهور ترمپ مطالبه شده بود که نیروهایش را از افغانستان بیرون نکند یعنی به اشغال خود ادامه بدهد و ما مصارف خود را کاهش میدهیم، به عوض هژده قسم گوشت به هشت قسم گوشت قناعت می کنیم ! لکن ایالات متحده آمریکا عساکر خود را بیرون نکند!.

پس از افشاء نامه مفکر اراده شوم حلقه حاکم در قبال صلح برای مردم آشکار گردید؛نگرانی ها وتشویش های مردم نیز در مورد صلح زیاد شد. واقعاً رئیس ارگ وتیم آشتی ناپذیراش، آهنگ ناخوشایند تخریب پروسه گفتمان صلح را همواره می نوازد و در قبال صلح عملاً اقدام به ایجاد موانع و دست به اظهارات ضد ونقیض زده اند.این نماینگر اعمال زشت واراده شوم این کتله سخیف در برابر اراده ملت بزرگ وصلح خواه کشور می باشد.

علاوه بر این ،همه روزه بیانیه ها واظهارات جنگ طلبانه،عقده ای ونفرت برآنگیز از سوی آن حلقه کوچک ارگ که اصلاً به تقدس صلح هیچ باور واعتماد ندارند ادامه دارد، اینها میخواهند که با حرف های غیر منطقی خویش اراده افغانها در قبال صلح را تضعیف کنند، اما اینچنین

نیست، اینبار ملت افغان پس از چهار دهه جنگ طولانی فقط وفقط به صلح وآشتی باور دارند وبس،ان شاءالله بعد از این اهداف شوم هیچ کس در اینجا عملی نخواهد شد.

معاون اول رژیم کابل امرالله صالح که در چهرهای ضد صلح مقام اول را دارد، تمامی سخنان وکانفرانس های خبری اش پر از حساسیت وجنگ طلبانه می باشد،این چهره جنگ طلب در ادامه حرف های تخریبی خود میگوید اگر زندانیان طالبان اعدام شوند کشتارهای هدفمند متوقف می شود. من از این اقا می پرسم که شما بارها لاف زدید که: تمام نقاط شهر کابل تحت پوشوش دوربین ها وکامره های مخفی وکشفی قرارد دارد،پس چرا پلان طالبان را خنثی نمی کنید؟

چرا عاملین ترورها را مستند به ملت نشان نمی دهید؟ حتی وارثین بعضی مقتولین بارها خواستند که جی پی ایس وحافظه کامره های مخفی چیک شود چرا آماده نیستید؟ چرا قناعت شانرا فراهم نمی کنید؟

چرا علماء واستادانی ترور می شوند که برعلیه رژیم کابل موضوع گیری می کنند، جنایات وفساد ارگ نشینان را برملا می سازند وصدای صلح خواهی را بلند می کنند؟

آیا این را عقل سلیم تقضی می کند که طالبان کسانی را ترور کند که در قلب دشمن وبرعلیه دشمن شان بیانیه می دهند؟ اینرا هیچ انسان با وجدان نمی پذیرد.

بناءً بصراحت تام گفته میتوانیم که درعقب اینهمه قتل های زنجیره ای ومرموز و ترور کدرهای علمی، علماءکرام، استادان پوهنتون ها وفعالان صلح، حلقه ارگ وبطور خاص امرالله صالح قرار دارد وملت هم اینرا میداند،باز باکمال

چشم سفیدی نسبت آنرا به مجاهدین می کند، همینگونه او با بلند پروازی زیاد آنهم در اوج غلامی، توافقنامه دوحه میان آمریکا و امارت اسلامی را "پر از نقایص" می‌داند ومیگوید توافقنامه دوحه را به دو برگ توت هم نمی‌خرد ،این درحالیست که بارها از امریکا خواستند که در خروج نیروهایش عجله نکنند ورنه یک زلزله سیاسی رخ میدهد(رژیم کابل سقوط می کند). اگر شما سخنان انرا بشنوید برایتان بوضوح معلوم خواهد شد که موصوف اصلاً طرف دار صلح نبوده، و هیچ یکی از اظهارات وعمل کرد هایش امیدوار کنند نیست ،او میخواهد که به نحوی از انحا پروسه صلح را به مخاطره مواجه وناکام بسازد! اما این آرمان وهدف شوم آن هیچگاه پوره نخواهد شد.

همچنین معاون دوم ارگ سرور دانش ،چنان گمان می کند که گویا صدفیصد خاک افغانستان را در کنترول دارد ودر هر سخنرانی اش اخطار به جنگ می دهد، در حالی که در قلب کابل، آشکار ومطمئن گشت وگزار کرده نمیتواند و هنگام بیرون شدن در وسط ده ها موترهای زرهیدار وشیشه سیاه پنهان می شود.

همینگونه مشاور امنیت ملی قلعه جنگی(ارگ) محب هم هر سخن اش خالی از جنگ وشمشیرزدن نیست، در هر سخنرانی به عوض سخنان مؤثق ومدلل اظهارات بی منطق واتهامات دور از حقایق می بندد،او دریکی از اظهارات مغرضانه خویش گفت : باید ملل متحد برطالبان تحریمات وضع شده را ادامه دهد وبرآنها(طالبان) فشاروارد شود، تا به خواسته های نامشروع ما تن بدهند ،مانند این ...دیگر یاوه سرای ها .

علت این همه یاوه گوی ها اینست که موصوف از لحاظ سن هم خورد است وآن وقت اندک راهم در دامن بادارانش درخارج سپری نموده است،در مورد افغانستان از معلومات درست وتجربه پخته برخوردارنیست، لذا خود برایش ستاره قلمی معلوم می شود،باید بداند! که این مستی در افغانستان برای هیچ کس دوامدار نیست،هرگاه محب در مورد کشور وملت افغان از حقایق ومعلومات معتبر آگاه شود مستی مؤقتی اش دور خواهد شد.

اگر اینها میخواهند که با چنین اظهارات غیر موجه پروسه جاری صلح را سبوتاژ کنند، ویا میخواهند که آمریکا را از اراده خود ( بیرون ساختن عساکر اش از افغانستان) منصرف بسازند،یاخواهان تداوم اشغال امریکای باشند و فکر می کنند که آمریکا ومتحدین اش برای همیش در افغانستان بماند، غلط کرده اند، زیرا امریکا وایتلافیانش نزدیک به بیست سال دراینجا جنگیدند وبهای سنگین جنگ را پرداختند، و در مقابل هیچ سودی بدست نیاوردند، لذا دیگر نمیخواهند که جنگ، بیش ازاین به درازا بکشد.

## آمریکا ومتحدین اش فقط دو گزینه دارند.

اول : اینکه آمریکا و متحدینش پیمان دوحه را نقض نموده وبه یک جنگ طولانی وطاقت فرسای دیگر کمر ببندند،که این نه به آمریکا مفید تمام خواهد شد ونهم برای متحدین اش، زیرا استراتیژی جنگ در افغانستان نا کام است، واگر بجنگ اصرار کنند، باز هم مانند سابق ملت مجاهد افغانستان موفق وبرنده میدان خواهند شد.ان شاءالله.

دوم: اینکه امریکا همراه بامتحدین اش طبق معاهده دوحه نیروهای خود را از افغانستان بیرون سازند وافغان ها را بگزارند که به رضایت خود یک نظام خالص اسلامی وهمه شمول برپا نمایند،این همان آرمان دیرینه ای است که بخاطر پوره ساختن آن قربانی های فراوانی داده شده است.

در اخیریکبار دیگر یاد آور می شوم که مانع اصلی فرا راه صلح، همین رژیم کابل است،باید از مخالفت با پروسه صلح دست بردار شود، دیگر حلقه حاکم بر ارگ نباید ملت را قربانی اهداف نامشروع خود ساخته وبه سخنان بیهوده وتلاش های ناکام وتخریبکارانه ادامه دهد،من متیقنم که امریکا وناتو ازاین کشور رفتنی هستند وخواهند رفت. ان شاءالله .

# اسلام کې له کافرانو سره شوي تړونونه!

دکتور محمد حسین

پوره یو کال وړاندې په همدې نیټه د قطر په پلازمینه دوحه کې د افغانستان د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د لسګونو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو د استازو په حضور کې یو تاریخي تړون لاسلیک شو، چې له مخې به یې د افغانستان اشغال پای ته رسیږي او د یو ځواکمن، خپلواک او اسلامي حکومت جوړېدو ته به لاره هوارېږي. په همدې مناسبت مو د اسلام په تاریخ کې ځینې هغه تړونونه را اخیستي چې په بېلابېلو وختونو کې د اسلامي واکمنانو او کافرانو ترمنځ شوي دي.

اسلام د انسانیت لپاره د امن، پرمختګ او سوکالۍ دین دی، اسلام د ټولې نړۍ لپاره رحمت دی، اسلام د یوې بشپړې ډاډمنې او پر امنه ټولنې په رامنځته کېدو باور لري، داسې ټولنه چې هر وګړي ته یې خپل حقونه ورسیږي. که یو څوک په ځلانده اسلامي تاریخ نظر وکړي، ورته څرګنده به شي، چې اسلامي تاریخ کې څومره وسله والې مبارزې او جهادونه شوي. هغه د کافر له ذات سره د دښمنۍ په اساس نه دي شوي، بلکې د کافر د یرغل په دفاع او یا د اسلامي دعوت پر وړاندې د هغوی له لوري جوړو شویو خنډونو له منځه وړلو لپاره شوي دي.

له همدې امله چې اسلام پر جګړه ټینګار نه کوي، د کافرانو له لوري سولې او خبرو ته د راګرځېدو په صورت کې د الله تعالی حکم دی، چې تاسې هم د خبرو لار غوره کړئ: وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ.[الانفال].....

د اسلام په تاریخ کې کافرانو سره ډېر تړونونه شوي دي، چې د اسلامي امت لپاره په دې لاره کې د لارې مشالونه دي او د هغو په رڼا کې خپلو موخو اهدافو ته رسېدلی شي. همدا تړونونه دي، چې موږ ته د مذاکراتو او خبرو پر مهال د وصل او فصل نقطې رانښيي.

د اسلام په پیل کې چې کله د زور له لارې کافران د اسلامي دعوت په مخنیوي، کې پاتې راغلل، هڅه یې وکړه، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خبرو له لارې ستونزه حل کړي او په همدې موخه یې څو ځله ابو طالب ته جرګې ورولېږلې، په وروستي ځل چې ابو طالب ته ورغلل د پرېکنده او غوڅ ځواب غوښتنه یې وکړه ، او ورته کړل یې: موږ څوځله درنه وغوښتل چې د وراره د کارونو مخه دې ونیسه، خوتا سر پسې ونه ګرځاوه، اوس موږ د الله پاک په نامه قسم کوو چې نور صبر نشو کولی، هغه به زموږ پلرونه کنځي، په عقل اوپوهې پورې به یې خاندي، په خدایانو به مو ملنډې وهي او موږ به ورته همداسې رنې ګورو، یا دې د وراره لاس ونیسه اویا اړ یو چې داسې خونړۍ جګړه وکړو چې یو لوری پکې له منځه ولاړ شي .

ابو طالب اړ شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې را وغوښت او ورته یې وویل: «وراره! قام دې راغلی و، داسې خبرې یې راته وکړې، اوس نو زما او د ځان غم وخوره، داسې درونډ پېټی مې پر اوږو مه را ږده چې زه یې نه شم وړلای )).

رسول الله صلی الله علیه وسلم پوه شو چې تره یې له ملاتړه ستړی دی او نور نه غواړي، چې ملاتړ یې وکړي . په ډیره ډاډمنه لهجه ورته وویل: «کاکا جانه ! په الله قسم ، د اسلام د ښمنان مې که په ښي لاس کې لمر او کیڼ کې سپوږمۍ راکیږدي (ټوله دنیا راکړي) او په بدل کې یې ددې ستر کار پرېښودلو غوښتنه رانه وکړي، زه به تر هغه دا کار پرېنږدم، چې یا اسلام خواکمن شي او یا مې په دې لار کې سر لاړ شي. » له دې خبرو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژړا او اوښلنو سترګو روان شو. ابوطالب پسې غږکړل: «وراره ! ورځه ! څه دې چې زړه غواړي هغه وایه، په الله قسم یوازې دې نه پرېږدم».

خو کله چې د زور له لارې د دعوت د مخنیوي هڅو مثبته پایله ورنه کړه، د دوی یو مشر ـ عتبه بن ربیعه هڅه وکړه، چې د ځینو دنیوي امتیازاتو په بدل کې رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانان اسلام ته د دعوت له لارې راوګرځوي. عتبه د مشرکانو په استازیتوب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی او لاندې وړاندېزونه یې ورته وکړل:

۱ : که مال غواړې، دومره مال به درکړو چې مکه کې به تر بل شتمن نه وې.

۲: که عزت غواړې، خپل مشر به دې وټاکو.

۳: که پاچاهي غواړې، پاچا به دې کړو.

۴: که ښځه غواړې، تر ټولو ښایسته نجلۍ به درته په نکاح کړو.

5: او که دا خبرې د ناروغۍ له امله کوې، درملنه به دې وکړو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ټول وړاندېزونه له دې امله رد کړل چې د ده د بعثت له موخې او اسلامي ارزښتونو سره سره په ټکر کې وو.

## لومړی: له هجرت وروسته یهودانو سره تړون

هغه مهال چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت کاوه، د مکې مکرمې په پرتله مدینه منوره کې سیاسي وضعیت یو څه پیچلی و، ځکه چې مکه مکرمه کې یوازې له مشرکانو سره تعامل و؛ خو مدینه منوره کې د یهودانو په شمول ګڼ قومونه اوسېدل، چې هر یوه یې بېلابیلې عقیدې او معتقدات او ارزښتونه درلودل، رسول الله صلی الله علیه وسلم له دغه وضعیت سره په ډېر تدبیر چلند وکړ او په یو وخت کې یې په څو محاذونو کې له ښکېلتیا ډډه وکړه، له یهودانو سره یې یو داسې تړون لاسلیک کړ، چې چې هغوی به له خپل دین سره کار لري، مال به یې خوندي وي،پرهغوی یې هم ځینې شرطونه کېښوول او د هغوی له لوري پرځان هم ځینې شرطونه ومنل.

## دوهم: د حدیبې تاریخي تړون

رسو ل الله صلی الله علیه وسلم خوب ولید، چې د مسلمانانو په ملتیا کعبې مبارکې ته ننوځي، طواف وکړي او نور ارکان پرځای کړي ، دغه خوب یې مسلمانانو ته ووایه او زیری یې ورکړ، چې عمرې لپاره به کعبې ته ځي، هماغه و چې د هجرت په شپږم کال د نږدې پنځلس سوه صحابه کرامو په ملتیا د عمرې په نیت مکې مکرمې ته روان شو. که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې د عمرې اراده درلوده؛ خو قریشو یې مخه ونیوله . رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې ستونزې د هواري لپاره حضرت عثمان رضي الله عنه د خپل استازي په توګه مکې مکرمې ته ولېږه. او دغه راز د مشرکانو له لوري هم څو استازي راغلل لاړل.

په پای کې (سهیل بن عمرو) د قریشو په استازولۍ راغی ، د پیغمبر ﷺ سترګې چې پرې ولګیدې نو وې فرمایل : (د دغه سړي را لیږل د دې نښه ده چې قریش سوله غواړي) له خبرو اترو پیغمبر ﷺ د تړون لیکلو لپاره حضرت علي رضی الله عنه راوغوښت.

لـه دې امله چې دغـه تـړون د مسـلمانانو لپـاره ډېـر ارزښتناک و، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښېنو داسې برخو کې چې اهدافو او ارزښتونو ته يې کې زيان نه رسيدی، يو لړ تنزلات هم وکړل.د بیلګې په توګه: حضرت علي رضي الله عنه د توافقنامې په پیل کې (بسم الله الـرحمن الـرحیم) ولیکل. سهیل وویل : رحمن او رحیم ؛ خو موږ نـه پېژنـو، د دې پرځای ((باسمک ا للهم )) ولیکـه! د حضرت علی رضي الله تعالی عنه له انکار سره سره ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: سمه ده ((بسمک اللهم)) ولیکه!

حضرت علي رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عیه وسلم په لارښوونه د تړون سرلیک داسې ولیکه: «دا تـړون د الله پـاک د رسول محمـد (ﷺ) او سهیل بـن عمـرو تـرمنځ لاسلیک شوی». سهیل وویل: « په الله تعالی قسم که موږ د پیغمبرپه توګه منلی؛ نو بیامونه کعبې نه منع کولې؟ او ولې به مو جګړه درسره کوله. بلکې تړون کې به یوازې خپل نوم او د پلار نوم لیکې». رسو الله صلی الله علیه وسلم ورتـه وویل : « زه دالله پـاک رسـول او استازی یم ؛ خـو دا جلا خبره ده چې تاسو مې نه منئ» بیا یې حضرت علي h ته وویل : « محمد بن عبدالله ولیکه او د (رسـول اللـه) تـوری رنـګ کړه!» حضرت علي h وویل : زه یې نه شم رنګولای. پیغمبـر ﷺ په خپله د (رسول الله) توری رنګ کړ

## د حدیبې تړون بندونه:

۱: قریش به راتلونکی (د هجرت اووم) کال رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو ته درې ورځې حـرم تـه د ورتګ اجازه ورکوي.

۲: له قریشوڅې څوک مدینې منورې تـه لاړ شي، کـه څه هم اسلام يې منلی وي، مسلمانان به يې بېرتـه قریشـو تـه سپاري، خو که کوم مسلمان مکې تـه لاړ شي، مکـه وال یـې په سپارلو مکلف نه دي.

۳ د تړون له مخې به د مسلمانانو او مشرکانو تـر مـنځ لس کاله اوربند وي.

۴: هر څوک کولی شي، چې د مسلمانانو او یـا قریشـو په پنا کې ژوند وکړي او تړونونه ورسره وکړي.

کـه څـه هـم پـه ښـکاره د تـړون بندونـه تـر ډېـره د مشرکانو پـه ګټـه معلومېـدل او پـه مسـلمانانو کـې یـو لـړ اندېښنې راوپارولې، تر دې چې حضرت عمر رضي اللـه عنـه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته وویل: رسول اللـه صـلی اللـه علیه وسلم نه و ویلي چې د کعبې طواف به کوو ؟

ابوبکرصدیق ﷺ: هو، ويلي و. خـو ایـا سـږ کـال يـې ښوولي و؟

عمر ﷺ. نه . ابوبکرصدیق ﷺ : يو وخت بـه ورشـې او طواف به يې هم وکړې.

خو الله تعالی ستره بریا او فتحه وبلله او په هکله کې دغه مبارک ایتونه نـازل شـول . اِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحًا مُّبِيۡنًا ۙ‏ لِّيَـغۡفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنۡ ذَنۡۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَاطًا مُّسۡتَقِيۡمًا ۙ‏ وَّيَنۡصُرَكَ اللّٰهُ نَصۡرًا عَزِيۡزًا [الفتح: 1- 3] .ژباړه : موږ ستر بری درکړ. ترڅو الله پاک ستا تېرې اوراتلونکې ګنـاوې تـولې درتـه وبښـي او لـورینې دربانـدې بشپړې کړي اوتاته نېغه لاره دروښيي اوالله پاک دې پـه ښـه ډول مرسته وکړي.

## د حدیبې تړون ګټې:

د حديبې تړون لومړی ګټه دا وه، چې قریشو مسلمانان د خپل لوی سیال او داسې ځواکمن سیاسي او نظامي جهت په توګه ومنل چې تړونونـه ورسره کېـږي. دوهمـه ګټـه يـې داوه چې مسلمانانوله هغو سترو جګړو وروسته د آرام سـاه واخیسته چې پیل اوپای يې نه معلومیده او د اوربند موده کې یې د اسلام بلنه د سولې او امن په داډمنه فضا کې پـه خـلاص مټ نورو خلکو ته ورسوله .

دريـمه ګټـه دا وه، چـې د هـمـدې تـړون لـه برکتـه مسلمانانواو مشرکانو دواړه ته د دې موکه په لاس ورغله چې له یوبل سره کښيني، لـه نـږدې سره ووینـي، د یوبـل خبـرې



واوري او مشـرکان هم د اسلام ښـېګڼې پـه خپلـو سترګو ووينې.

په دې هکله امام ابـن شـهاب زهـري رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايـي:((د اسلام تاريخ کې د حديبې تړون په څېر بلـه سـتره بريـا راتـه معلومه نه ده، تر دې مخکې د مسلمانانو او مشـرکانو تـرمنځ جنګونه وو؛ خو د حديبې له تـړون وروسـته خلـک ډاډمـن شول او موکه په لاس ورغله چې نظرونه سره شريک کـړي، له نږدې سره ووينې او وغږيږي؛ نوڅوک چې پـه ښـه اويـد ډېر کـم ژ پوهـېدل او د اسـلام ښـېګڼې ور معلومې شـوې، سمدلاسه يې ايمان راووړ)).

دغه راز رسول الله عليه وسلم له بېلابېلـو قومونـو سره معاهدې او تړونونه کړي دي، چې ځينې يـې پـه لانـدې ډول دي:

۱: د نجران له نصاراوو سره.

۲: بني ضمره قبيلې سره.

۳: بني مدلج سره.

## درېيم: له رسول الله صلی الله عليه وسلم وروسته تړونونه

### ۱: المعاهدة العمرية

د دوهم خليفه اميرالمؤمنين حضرت عمر رضي الله عنـه په خلافت کې مسـلمانانو ډېـر زيـات فتوحـات وکـړل او د اسلامي دعوت سيمه پراخه شوه. د هجرت پـه پنځلسـم کـال چې کلـه مسـلمانانو بيـت المقـدس فتحـه کـړ، اميرالمـؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه د ايلياء(بيت المقدس) اوسېدونکو سره معاهده وکړه، چې د هغوی مـال، سر او مـذهبي ودانـۍ به محفوظې وي او دغه راز يې ځينې شرطونه په هغـوی هـم وضع کړل.

### ۲: سوډانيانو سره تړون:

د درېـم خليـه حضرـت عـثمان رضي اللـه تعـالی عنـه د خلافت پرمهال د مصر والي حضرـت عبداللـه بـن سـعد رضي الله عنه له لوري د سوډانيانو سره تر سختې جګړې وروسـته هغوی د سولې غوښتنه وکړه، حضرت عبداللـه بـن سـعد يې غوښتنه ومنله او ترمنځ يې تړون وشو، چې نږدې شپږ سوه کاله دغه تړون ته دواړه لوري ژمن پاتې شول.

### ۳: قبرصيانو سره تړون:

پـه ۲۸ هجـري کـال کـې مسـلمانانو د قـبرص لـه اوسېدونکو سره يو تړون لاسليک کـړ، ې لـه مخې بـه يې هغوی جزيه نه ورکوي او نه به هم ذميان ګڼل کيږي؛ خو په کلني ډول به (۷۲۰۰) دينار خراج مسلمانانو ته ورکوي. څو کله وروسته قبرصيانو دغه تړون مات کړ او له روميـانو سره يې د مسلمانانو پرضد جګړه پيل کړه، چې پـه بـدل کـې يـې حضرت معاويه رضي الله عنه پر کـال ۳۳ هجـري پـر قـبرص حمله وکړه او فتحه يې کړ.

دغـه راز پـه امـوي او عبـاسي دولتونـو او ورپسـې د صلاح الدين ايوبي په زمانه کې او تر هغه وروسـته د عـثماني خلافت پر مهال د مسلمانانو او کافرانو ترمنځ ډېـر تړونونـه شوي دي. خو کـه يـو څـوک پـه دقيـق نظـر دغه تړونونـه وګوري دوه عمده نکتې مخې ته راځي:

لومړۍ: د دغـو تړونونـو پرمهـال اسـلامي واکمنـانو د ديني ارزښتونو او معتقداتو په برخه کې هـيڅ راز تنـازل او بې غوري نه ده کړي.

دوهمه: مسلمانان په بشپړه توګـه تړونونـو او تعهداتو ته ژمـن پـاتې شـوي دي، چـې همـدا پـه نړيوالـو اړيکـو او ډيپلوماسۍ کې د مسلمانانو د بريا ستر لامل دی.

# د ترون نه تنفیذ به سیمه

# او نړۍ دواړه بې ثباته کړي!

عابد

په ۱۹۷۹ کې چې شوروي لښکرې افغانستان ته راغلې او دغه مستقل اوخپلواک هیواد یې اشغال کړ، نړدې ټوله اروپا او امریکا په دې عقیده وه چې د شوروي له دې اشغال سره به سیمه اونړۍ ټوله په خطر کې شي له همدې نارو سورو سره یې چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت د دې خطر د خپرېدو طبیعي لامل دی؛ د سیمې دهیوادو په ګډون یې ټول یو لاس په وراندې ودرېدل او د دې خطر دمخنیوي لپاره د مجاهدینو ملاتړ ته په ټوله معنی را وراندې شول آن چې په مټ یې په ډېره اسانۍ سره دسرې جګړې ډګر په توده جګړه وګاټه .

همدا سرې سترګې وې چې له مخې یې د اروپا نظامي اتحاد او امریکا دواړه پخپله هم همدې اشغال ته راوراندې شول او نور یې چې د ځان په وراندې خنډ او ترپور نه ترسترګو کېده، نو دوی هم له هر ژور فکر او سنجش پرته پرې راپربوتل ټول هغه طبیعي لاملونه یې هم له سترګو پنا شول چې په وجه یې د دې خاورې بې ثباتي د نړۍ بې ثباتي بلله .

خو له شلو کلونو ټولو سیاسي او نظامي تکتیکونو سره سره ببرته د هماغې نظریې خپلولو ته مجبور شول چې د شوروي اشغال په وخت به یې پرې ټول مطبوعات په سر اخیستي وو، همدا لامل و چې له طالبانو سره یې د دوحې ترون لاسلیک کړ او د دې ترون د ترسره کېدو او عملي کېدو لپاره یې اتلس میاشتې مذاکرات او همدومره موده په سیمه اونړۍ سیاسي منډې ترړې ترسره کړې .

اوس چې په امریکا کې د جوبایډن په مشرۍ نوي اداري حکومت ترلاسه کړ او د دوحې دترون د بیا ارزونې او په افغانستان کې د امریکایي عسکرو دپاته کېدو خبرې کیږي او یا ویل کیږي چې د دوحې دترون دلغوه کېدو امکان هم شته، ایا سیمه اونړۍ یې له اغېزو پاته کېدلی شي ؟ ؛ همداد بحث وړ موضوع ده .

ولې ټول هغه لاملونه له منځه ولاړل اویا له پامه وغورځول شول چې له مخې یې پر نړۍ خپل عسکر خپرول او د دغو عسکرو خپرولو ته یې دنړیوالو پر سترګو همدا اسباب اوعلتونه وړ موښل ؟ یابه دا وي چې دا هسې دخلکو غولونه او تېر ایستل دي او په اصل کې پر نړۍ د پراختیاغوښتنې هوسي تیري او حملې دي چې له مخې یې کمزوري هیوادونه لاندې کیږي اویا داچې امریکا اومتحدین یې اصلاً په سوله باوري نه دي او ټوله اتکا یې پرجنګ او تروریستي اعمالوده، که داسې وي، دلته په افغانستان کې شل کلنې اوږدې مودې ته په کتو خو موهم په جنګ او د وسلو په زور څه ونه کړل او بیا د دوحې ترون ترسره کولو ته ولې په دومره نړیواله او سیمه ایزه پیمانه سیاسي هڅې او منډې ترړې ترسره کېدلې ؟

که امریکا یوځل بیا دجنګ لار نیسي او د دوحې تړون ته اعتبار ور نه کړي، دسیمې په سطحه ترکیې، امارات، پاکستان، قطر، سعودي، ترکمنستان، تاجکستان، هند، چین او نورو هیوادونو ته دخلیلزاد منډې ترړې او نړۍ ته دامریکا له لوري په سوله دیاور ورکولو هڅې به څنګه تعبیرېږي ، د افغانستان لپاره د امریکا د بهرنیو چارو خاص استازي خلیلزاد د امنیت دنړیوالې شورا یوې خبر پاڼې ته په مرکه کې وایي : " چې نړۍ د سولې له خبرو پراخ ملاتړ کوي او د امنیت نړیواله شورا د سولې له روانو خبرو او هغه سیمه ایز تړون څخه هم ملاتړ کوي، چې د نړۍ او افغانستان سیاسي هوکړې په بر کې نیسي..." د ښاغلي خلیلزاد دې وعدو او سیاسي هلو ځلو اعتبار او انجام په څه وي ؟

له دې سره په څنګ کې به امریکا دخپلو شل کلنو ماتو اوناکامیو جبران په څه کوي چې په افغانستان کې ورسره مخ ده او بار بار یې په خپله خوله په دغو ماتواو ناکامیو اعتراف هم کړی ؟

که چېرته امریکا او متحدین یې په هغو وعدو او سیاسي باورونو وفا ونه کړي چې د سیمې هیوادونو ته یې په بار بار ورکړي دي، نو څه فکر کیږي چې دسیمې هیوادونه به بیا په افغانستان کې له مداخلو او لاسوهنو په شا شي ؟ هیڅکله نه ! بلکې تر پخوا به لازیات شي او هغه هیوادونه به هم زړه ورته ښه کړي چې تر دې دمه یې په افغانستان کې مخامخ لاس نه درلود، په تېره بیا دسیمې هغه هیوادونه چې دسیمې او نړۍ په سطحه مقتدر قوتونه بلل کیږي، نه تنها داچې دلته به دخپلو ګټو د خوندیتوب په غرض لاسونه راوږده کړي، بلکې د نورو قوتونو د هرډول وجود او اغېز دمخنیوي او د خپل اثر د شیندلو لپاره به له هیڅ ډول وسیلې لاس په سر نه شي .

داخو به دسیمې په سطحه دا حال شي، په خپله طالبان چې بیا په افغانستان کې څه کول وغواړي امریکا او متحدینو ته دخطر لپاره به هم ډېر څه وکړي، او دا قوت یې ځکه له پامه نه شي غورځول کېدای چې تر دې دمه ورسره امریکا اونړۍ د جنګ او خبرو په مېز څه کړي؛ د دوی په همدغه صلاحیت اوقدرت اعتراف دی .

په افغانستان کې د نورو هغو ډلو دمخنیوي تضمین بیا څوک ورکولای شي چې د دوحې په تړون کې یې د ځان دخوندیتوب لپاره لاسته راوړنه بولي اوله طالبانو یې غوښتي چې که له افغانستان څخه مونږ ته د نورو بهرنیو مجاهدینو څخه د نه خوړېدو ضمانت راکړای شي نو مونږ له افغانستان څخه خپلې لښکرې باسو . د دوحې دتړون دنه تنفیذ په صورت کې به له دې چارې دخلاصون لاره څه وي او امریکایي پالیسي جوړوونکي څه فکر کوي چې بیا به څه وشي او څه به کیږي ؟؟

د دوحې د تړون نه عملي کېدل له دې سره سره چې په نړۍ کې به امریکا له سیاسي لحاظه ډېره بې اعتباره کړي، دا پورته ټولې ناخوالې به هم له ځان سره راوړي او هیڅ داسې تضمین بیا هم نه شته چې ددغه پېښو دنه رامنځته کېدو ته تېر ووهي، په دې ډول به د دوحې تړون نه تنفیذ له شک پرته چې سیمې اونړۍ ته رنګارنګ بې ثباتي خپره کړي .

نو که رښتیا هم سولې ته ژمنتیا موجوده وي او رښتیا هم په سیمه او نړۍ کې د امن برقراري غوښتل کیږي نو نه باید چې په لوی لاس د سولې او امن ستر چانس له لاسه ورکړل شي، په کار ده چې د دوحې تړون ټول په ټوله عملي شي او ناقضین یې وغندل شي .

# از ۲۶ دلو تا ۱۰ حوت

حبیبی سمنگانی

اگرچه بین ۲٦ دلو و ۱۰ حوت تنها سیزده روز حائل است، اما این سیزده روز را ملت رنجدیده و آزرده افغان‌زمین از ۱۳٦۷ تا ۱۳۹۸ خورشیدی در ۳۱ سال متمادی پیمود، بلکه سفر هنوز باقی‌ست، یا به‌گفته‌ی ضرب المثل هندی؛ هنوز دهلی دور است.

بلی، افغان‌ها با پیروزی در جنگ ۹ ساله در برابر استعمار شرقی، باید به تاریخ ۲٦ دلو ۱۳٦۷ به آرمان‌های والای شان، که همانا حاکمیت نظام واقعی اسلامی و آرامش کلی در سراسر کشور بود می‌رسیدند، اما هرگاه در نتیجه‌ی خیانت و جنایت بعضی رهبرنماهای اغواگر و خودخواه، فرصت را از دست داده و از مسیر منحرف شدند، امرور با پیمودن ۳۱ سال و با دادن صدها هزار قربانی، باز هم چراغ امید شان برافروخته است. بلی، افغان‌ها خوشحال‌اند که با پیمان دهم حوت، سراغی از منزلِ گم‌گشته را دوباره یافته‌اند. منزلی که بخت زبون ایشان را دگرگون سازد.

اما مراحل آزمون هنور تمام نشده‌است. می‌گویند مار گزیده از ریسمان می‌ترسد، سرگذشت عبرتناک سه دهه پیش درس می‌دهد که افغان ها باید برای حراست از متاع گران‌بهای کاروان عزیمت، هوشیار و بیدار باشند، که رهزنان سنگدل هنوز در کمین هستند.

این سفر که در حقیقت پس از تهاجم استعمار غربی به‌رهبری امریکا و ناتو در میزان سال ۱۳۸۰ خورشیدی از سر گرفته‌شد و درین دو دهه از مراحل دشوارگذاری عبور کرد، فصل باورنکردنی را در تاریخ معاصر استقلال و آزادی‌خواهی ثبت نمود و چشم‌های جهانیان را خیره ساخت. ماجرای این سفر ابعاد و زوایای مختلفی دارد. از رهبری پر ابتکار کاروان تا فداکاری‌های بی‌نظیر فرد فرد کاروان، هزاران ابواب این فصل را رقم می‌زند.

حقیقت اینست که افغان‌ها با جاده و مسیر حریت و آزادگی نا آشنا نبوده‌اند، نه، هرگز نه. آن‌ها این جاده و مسیر را بارها پیموده و به‌خوبی پیموده‌اند. فرق این بود که این بار شرایط کاملا متفاوت بود. این بار افغان‌ها این سفر را نه تنها به تنهایی پیمودند، بلکه از همسایه و منطقه تا تمام جهان با کمال بی‌مروتی گام به گام و هر آن و هر لحظه، به هدف نابودی این کاروان، سر راه ایستاده بودند.

بلی، آن‌هایی که در دوره‌ی تهاجم شوروی‌ها با شعارهای بشر دوستی و اخوت اسلامی از سفر جهادی افغان‌ها هرگونه حمایت می‌کردند و کاروان جهادی افغان‌ها را از سه طرف حراست می‌نمودند (تنها یکطرف در اختیار شوروی ها بود)، و حتی تریبون‌های سازمان ملل متحد و سازمان همکاری اسلامی را در خدمت زعمای آن دوره‌ی جهاد گذاشته‌بودند، اما اکنون اراده‌ی دیگری داشتند.

بلی، اکنون بلاک شرق یا کمونیسم نمانده بود، چیری که غربی‌ها از ترس آن به کمک افغان‌ها شتافته‌بودند و در هر میدان از مجاهدین افغان به بانگ بلند حمایت می‌کردند. اکنون غربی‌ها باید از رخ دادن بلاک اسلامی، پیش از پیش جلوگیری می‌کردند، تا مبادا فردا مثل بلاک شرق به درد سر دیگری تبدیل شود.

بلی، اکنون امریکا با خمار تک‌قطبی بودن جهان «نظم نوین جهانی» را به اجرا گذاشته بود و قرار بود که کشور و نظام اسلامی افغانستان را، برای آنانی‌که فکر ایستادگی در برابر نظم جدید جهانی را در سر می‌پرورانند، درس عبرت بگرداند. پس در چنین روزگاری چه کسی جرات می‌داشت که در پهلوی افغان‌های بیچاره و تهیدست ایستاده شود. بلی، هیچ دیوانه‌ای در جهان نمانده بود. کالین پاول، وزیر امور خارجه آن وقت

ایالات متحده امریکا در یک تماس تلفونی به پرویز مشرف، حاکم وقت پاکستان هشدار داده بود که با ما هستید و یا اینکه شما را به عصر حجر برگردانیم؟ چیری که پس ازان رخ داد ثبت تاریخ است. عیان را چه حاجت بیان.

موضوع بحث این مقاله چگونگی سفر جاری جهادی افغان ها نیست. در سطور بالا، تنها اشاره‌ای شد به اینکه اصلا آغاز این سفر از نگاه همگان، بسیار بعید معلوم می‌شد، چه برسد به کامیابی آن. اما این فضل پروردگار و عزم پولادین افغان ها بود که این سفر آغاز هم شد و اینک با گذشت دو دهه به آستانه‌ی منزل هم رسیده است. للهالحمدوالمنه

پیمان دوحه، که به تاریخ دهم حوت ۱۳۹۸/ ۲۹ فبروری ۲۰۲۱ بین امارت اسلامی افغانستان و ایالات متحده امریکا در حضورداشت مقامات ده ها کشور و سازمان های جهانی امضا شد، بسیاری ها را انگشت به دندان ساخت. این در حقیقت نشان دهنده این بود که مبارزه و مقاومت افغان ها توانسته است رخ سیاست جهان را تغییر دهد. تعجب‌آور برای جهان این بود که عامل این حادثه باورنکردنی یک کشور و دولت نه، بلکه به زعم آن ها یک گروهی بوده است که آن‌ها جزو تجرید شده از ملت می‌دانستند. اما امارت اسلامی ثابت ساخت که واقعا نیروی مردمی بوده، و حمایه ملت را با خود دارد.

اما بر خلاف جهانیان و بازیگران جهانی، برای طالبان مهم این نبود و نیست که جغرافیا و نقش و نگار سیاسی آینده‌ی جهان چگونه می‌باشد. طالبان پس از امضای پیمان، با روش و عملکرد خود در یک سال گذشته نشان داده‌اند که آن‌ها هرگز نمی‌خواهند پیمان دوحه، که یگانه راه حل سیاسی برای معضل افغانستان است، شکار سیاست‌ها و توطئه‌های شود، که افغان ها دران به جای رسیدن به اهداف علیای شان، حیثیت ابزاری داشته باشند.

مهم‌تر از همه برای افغان‌ها اینست که گلیم اشغال از کشور برچیده شود و افغانستانِ آزاد و مستقل، صاحب نظام اسلامی گردد. طالبان به همین هدف با امریکایی‌ها مذاکرات کردند و اکنون مشغول مذاکرات با جهت‌های مختلف افغانی هستند. اگر این اهداف به‌دست آید پیمان دوحه و دهم حوت به‌حیث روز سرنوشت‌ساز و تاریخی در تاریخ کشور ما ماندگار می‌ماند، و الا این هیچ معنای ندارد که چه تغییراتی در سیاست جهان رخ می‌دهد. درین صورت، ۱۰ حوت مانند ۲٦ دلو، تنها نقش سمبولیک و نمایشی در تاریخ ما خواهد داشت.

طالبان که فرزندان راستین و نمایندگان واقعی ملت هستند خوب می‌دانند که افغان‌ها از ۲٦ دلو تا ۱۰ حوت چه روزگار هولناکی را سپری نموده‌اند و اکنون سزاوار چه روزگار شایسته‌ای هستند. بلی، اگر ذره‌ای از وجدان جامعه جهانی و افغان‌نماهای بیگانه‌پرور هنوز باقی مانده‌است، باید دیگر از سنگ‌اندازی بر سر راه افغانستانِ مستقل و اسلامی دست بگیرند و بگذارند که این ملت بسیار رنج‌دیده، از نظام واقعی اسلامی که آرمان دیرینه شان است، برخوردار و بهره‌یاب شوند.

اکنون که میعاد عملی‌شدن پیمان دوحه رو به پایان یافتن است، سراسیمگی مخالفان پیمان قابل درک است. این حلقه مغرض به تلاش‌های خود برای سبوتاژ کردن پیمان بیش از پیش شدت بخشیده‌اند. افغان‌ها این دشمنان داخلی و خارجی خود را می‌بینند و دیروز هم می شناختند و امروز هم می‌شناسند.

اما باید فراموش نشود که افغان‌ها اگرچه سالیان زیادی را در سفر پیموده‌اند، اما آن‌ها خسته و وامانده نشده‌اند، آن‌ها در دوراهی و سردرگمی به سر نمی‌برند و دچار تردد و ابهام نیستند، آن‌ها با این سفر خو گرفته‌اند و هنوز با تمام توان و مورال آماده‌اند همه موانع حقیقی و ساختگی را از سر راه بردارند و به گودال نابودی و زباله‌دانی تاریخ بیاندازند. این درس را از هر فصل تاریخ افغان‌ها می‌توان آموخت و عبرت گرفت.

حقیقت همین‌است که حل معضل از راه تفاهم و مذاکرات، موقف دائمی طالبان بوده‌است، اما امریکا زمانی به میز مذاکره حاضر شد که همه استراتژی‌ها و پالیسی‌های جنگی آن ناکام و نابکار شد و به‌گفته‌ی مقامات امریکایی؛ این طولانی‌ترین و پر هزینه‌ترین جنگ تاریخ امریکا راه حل نظامی ندارد. این پیمان دوحه بود که پس از مذاکرات هجده ماهه، زمینه بیرون رفت آبرومندانه‌ی امریکا از افغانستان را فراهم نمود. بنابراین عملی‌شدن این پیمان، تنها ضرورت افغان‌ها نه بلکه گزینه‌ی ناگزیر برای امریکایی ها نیز است.

# که د دوحې تړون مات شي!

فاتح افغان

د جو بایډن د اداري له لوري د تړون د بیا ارزونې له اعلان او د امریکایي چارواکو د ګډو وډو څرګندونو وروسته داسې تحلیلونه ډیر شوي چې افغان ولس ته د تړون د ماتیدو متوقع زیانونه څیړي او لیکوالان د خپلو اندیښنو څرګندونه کوي.

په دې کې شک نشته چې د دوحې تړون ماتیدل افغان ولس ته ډیر زیان لري او خدای مکړه که مات شي جګړه به ورسره ژبغړانده او چټکه شي چې له امله به یې د ډیرو افغانانو وینې توی شي.

خو دا هم باید ساتل پکار دي چې د تړون د ماتولو به خارجي اشغالګر هم درنه بیه پرې کوي، د امریکا له غدر څخه ډک تاریخ ته په کتو شاید طالبانو لا له وړاندې څخه داسې یوې ورځې ته پوره تیاری نیولی وي، حالات دا شاهدي وایي چې افغان ولس او طالبان لاس تر زنې ندي ناست بلکه په ټولو برخو کې یې خپلې هلې ځلې چټکې کړې دي، حالاتو ته په کتو موږ په لنډه توګه ویلای شو چې که د دوحې تړون له منځه لاړ شي.

خارجي ځواکونه به په افغانستان کې له سختو مرګونو بریدونو سره مخامخ شي، دا ځواکونه په ټول هیواد کې د طالبانو تر مستقیم ځار لاندې دي او د تړون له ماتیدو وروسته د طالبانو تر کاري ګذارونو لاندې راتلای شي.

په خارجي ځواکونو به نفوذي بریدونه بیا ځلي پیل شي، هغه چې په مخنیو کې د غربیانو پرمختللې ټیکنالوژي پاتې راغلې او په تیر کې یې برغلګرو ځواکونو ته د سر درانه زیانونه اړولي دي.

داسې معلومیږي چې طالبانو د تړون په موده کې د تخنیک او پوځي صنعت په برخه کې هم د پام وړ پرمختګ کړی چې د یې پیلوټه الوتکو کارونه یې بشکاره بیلګه ده، که دا ځل جګړه له سره تونده شي، خارجي ځواکونه به یې له لمبو څخه خونډي پاتې نشي- طالبان به وکولی شي هغوی د محفوظو کلاګانو په منځ کې په نښه او هدف وګرځوي.

له خارجي یرغلګرو او پلویانو څخه یې ورځ په ورځ د افغانانو کرکه زیاتیږي که چیرې هغوی بیا هم په جګړه ټینګار کوي. افغان ولس مجبور دی چې په وړاندې یې سرتاسري پاڅون او قیام وکړي او د وسلې په زور یې له هیواد څخه وتلو ته اړ کړي.

د تړون په موده کې د جګړې د ګراف راټیټولو سره طالبانو خپل ډیر پام دعوت او مطبوعاتي جګړې ته اړولی دی او په مټ یې هغوی وکولای شو، تیروتي هیواد وال په دې قانع کړي چې د دښمن له صف څخه لار جلا کړي او په کور کښیني.

بل لور ته د طالبانو افرادي قوت هم ورځ تر بلې په زیاتیدو ده. لیکې یې تر هر بل وخت پیاوړې. مورال یې لوړ او جهادي جذبه یې ځپڅپانده ده.

امریکا که هرڅومره زور ووهي نه د تاریخ مخ بدلولی شي او نه افغان ولس ایل کولی شي، له اشغال کرکه د افغانانو په خټه کې اغږل شوې، تاریخ ثابته کړې چې افغانانو هیڅ کله ښکیلاک ته سر نه ده ټیټ کړی، د خپلواکۍ جګړو وخت په بر کې نیولی خو آخر بری بیا هم د مسلمانو افغانانو په برخه شوی.

په لنډه توګه ویلی شو چې د دوحې تړون ماتول به امریکایي ځواکونو ته په ډیره درنه بیه تمام شي او داسې وخت به راشي چې بیا به طالبانو ته د ډیرو سترو امتیازاتو په منلو د تیښتې لار غواړي خو دا غوښتنه به یې نه منل کیږي



# د دوحې تړون د یوه کال په اوږدو کې

عبدالولي خلیل

یو کال وړاندې(۱۳۹۸ل) د کب په لسمه د امریکا او طالبانو تر منځ د قطر په دوحه ښار کې له افغانستانه څخه د اشغالګرو قواوو د وتلو تاریخي تړون وسو، د تړون اساسي موضوعات دا وو چې په راتلونکو څوارلس میاشتو کې به ټول راغلي اشغالګر بتدریج په کامله توګه افغانستان تخلیه کوي،په لسو ورځو کې به د طالبانو پنځه زره بندیان خوشې کیږي او په بدل کې به طالبان د کابل اداري زر تنه بندیان ایله کوي،له دې وروسته به بین الافغاني مذاکرات شروع کیږي او د سولې پروسه به نوره هم په چټکۍ سره پر مخ بیایي تر څو په هیواد کې د امن فضاء رامنځته سي او یو همه شموله اسلامي حکومت جوړ سي.

دا چې اوس د یادې هوکړې یو کال پوره کېدونکی دی،اوس له کوم جریان سره مخ ده او مخته یې څنګه وارزوو، په لاندې کرښو کې به یې ولولو.

## د تړون اهمیت او لاسته راوړنې یې

د امریکا د شکست او د افغانستان اسلامي امارت د خپلواکۍ تړون د دواړو لوریو لپاره نهایي مهم او مثبت ګام و، امریکا دلته شل کاله خپل ټول قوت صرف کړ، نه یې کوم هدف تر لاسه کړ او نه خپلو موخو ته ورسېده، د یاد یرغل په وړاندې یې حوصله نوره ماته او زور یې اوبه و، تړون دوی ته ډېر مهم او له افغانستان د وتلو یوه آسانه لار وه چې دوی د ځان لپاره غوره کړه.

او د افغانستان اسلامي امارت لپاره هم خورا ارزښتناکه موقع وه چې ترې استفاده یې وکړه: ځکه د شل کلنو قربانیو په نتیجه کې خپل هدف ته ورسېدل او له خپل هیواده یې د اشغال تور تغر ټول کړ چې د یاد تړون له مخې به ټول راغلي تاړاکګر افغانستان پرېږدي او خپل یرغل ته به د پای ټکی ږدي.

د دوحې تړون د دواړو لوریو ته مهمې لاسته روړنې لري،له لویو لاسته راوړنو څخه یوه همدا چې د افغانستان اسلامي امارت پنځه زره بندیان ( چې کلونو کلونو یې د بګرام، څرخي او نورو کرغېړنو زندانونو کې شپې او ورځې تیرولې) د یاد تړون له مخې خوشې سول، د دې په شمول د تړون په پایله کې د امریکایانو سره اوربند رامنځته سو چې مجاهدین او افغان مظلوم اولس مو د شپنیو بې رحمه چاپو او رندو بمباریو څخه په امن سو، په سیاسي برخه کې طالبان له یوه ستر برم سره نړیوالو هیوادونو ته مطرح سول،سیمییزو هیوادونو ته یې د سیاسي دفتر د غړیو سفرونه وسول چې له شک پرته مثبتې پایلې لري، او داسې نورې ګټې....

## د تړون په عملي کولو کې د دواړو لوریو رول

د افغانستان اسلامي امارت له خپله اړخه د کب د لسمې د تړون هره ماده په خورا صداقت، ریښتینولۍ او ایفاء عهدۍ سره عملي کړې ده، د تړون را وروسته لومړی پړاو کې د کابل اداري دزرو تنو بندیانو خوشې کول وو چې د افغانستان اسلامي امارت د حسن تعامل لامله مخکې تر دې ټول آزاد کړل چې خپل بندیان یې لا د دښمن په زندانونو




کې وو، له دې وروسته بین الافغاني مذاکراتو ته چمتوالی و چې د افغانستان اسلامي امارت ټیم بشپړ تیار وو خو د مقابل لوري د ټیم غړي لا نه و تعین سوي.

له امریکایانو سره اوربند ته د توافقنامې په چوکاټ کې خورا ژمن پاتې سوو چې د امریکا د وزیر خارجه په اعتراف چې له توافقنامې وروسته زموږ کوم امریکایي فوځي په افغانستان کې نه دی وژل سوی، همدا راز نورو مادو ته ژمنتیا یې...

مقابل لوری (امریکا) هم تر یوې اندازې تړون ته ژمنه پاتې سوې ده چې د هیواد په ګڼو ولایتونو کې له پنځو تر لسو پورې ستړې فوځي اډې تخلیه کړي او لا یې د انخلاء لړۍ جاري ساتلې خو متأسفانه ځینو ځایونو کې له توافقنامې څخه ښکاره سرغړوني هم کړي دي چې په غیر جنګي سیمو او جنګي حالاتو کې پر مجاهدینو او عام اولس باندې بمباري کړې او هغوی یې په شهادت رسولي، ډېر خله یې د داخلي ګوډاګیانو سره په شپنیو چاپول کې هم ونډه اخیستې او داسې نور.... چې دا تړون د عملي کولو په وړاندې منفي ګامونه دي او په وار وار د ا.ا.ا. له ویاندویانو له لوري دوی ورته متوجه کړي او دا ډول کړنې یې غندلې هم دي.

اوس دا چې طالبانو یې په وړاندې کوم نظامي اقدام ولې ونه کړ نو په خپل اند سره ویلای سو چې طالبانو دغه ۱۴ میاشتني موده کې له ډېر صبر، زغم او حوصلې کار واخیست دا ځکه چې امریکا د تړون په ماتولو کې بې ساري مخینه لري او تر اوسه یې له چا سره پر تړون وفا نه ده کړې، که طالب یې په وړاندې اقدام کړی وای نو دوی ته د تړون د نقض بهانه په لاس ورتله او دې سره به د سولې بهیر هم زیانمن سوی وای او د طالبانو په سیاسي بهیر کې به هم منفي پایلې رامنځته کړي وای.

## دتړون په وړاندې خنډونه

د کابل غلامه اداره چې د اشغال د ملاتړ په پایله کې پر افغانانو تپل سوې ده او خپله بقاء هم د اشغال په سیوري کې ویني، دوی هیڅکله نه غواړي چې دا هیواد دې د امن ساه واخلي او تل دې خپلواک سي؛ ځکه که اشغالګر ولاړ سي نو د یادې اداري واک به هم ورسره ختم سي، دوی د خپل واک د غځولو لپاره د تړون په وړاندې له هیڅ یو ډول خنډونو، دسیسو او سوله ضد کړنو دریغ ونه کړ، په مسلسل ډول یې په ډېره سپین سترګۍ تکرار کړې.

دوی د بندیانو آزادول په یوه او بله بهانه ځنډول، جرګې یې پرې راوغوښتلې، نورو کفري هیوادونو ته خبرداری ورکړ چې که دا بندیان خوشې سي نو هیوادونه به مو د نشیې توکو مراکزو جوړ سي، ترڅو هغوی را وپاروي.

په درست هیواد کې د سولې داعیان او ملاتړي ترور کړل، مسجدونه، مدرسې او مکتبونه یې په یوه او بله بهانه تر بریدونو لاندې راوستل. په اولسي ـ مجموعو،میلو او هوټلونو باندې ړندي توغندي وار کړي او بیا به یې د شومو تبلیغاتو په وسیله پړه پر طالبانو واړوله.

هر کله چې د سولې د سبوتاژ دغه هڅې ناکامه سوې نو بیا یې د بهرنیو قوتو د راپارولو هڅې پیل کړې آن تر دې

چې غني په واشنګټن پوسټ کې یوه اوږده مقاله خپره کړه او اشغالګرو ته دا تأثر ورکړ چې که دوی افغانستان پرېږدي نو لوی خطرونه به ورته پېښ شي.

لا هم دغه د واک تږي او د سولې دښمنان لا ستړي نه دي اوس یې د امریکا د نوي اولسمشر جوبایډن په وړاندې دغه دریځ نیولی چې باید د دوحې توافقنامه بانـدې لـه غـور وشي.

خو لله الحمد لکه څنګه چې د سولې پـه وړانـدې د مکارې اداري د تېر یو کال ټولې پلانونکي دسیسې شنډې سوې همداسې به را روان پلانونه هم کومه مثبته ګټه ورته ونه کړي.

### که خدای مه کړه تړون مات سي

له شک پرته د دوحې تـاریخي تـړون د دواړو لوریـو لپاره د یوې سترې خونړۍ جګړې څخه د وتلو یو آسـان حـل دی، او د دواړو لوریو علیـا ګټـې کـې نغښـتې دي، البتـه د طالبانو پـه نسبت امریکـا تـه لا نـور هـم ګـټمن او مـؤثر تمامېدلای سي؛ ځکه امریکا د یوه ستر غرور پر نـیلي سپره دلته راغلې وه او خپل ټول خبرخواک یې دلته وازمویې چې کوم اهداف یې تر لاسه نه کړل، بل لوري تـه د نـړۍ د سپر پاور دعوه ګیره هم ده، پـر ځـای د دې چـې لـه نظـامي لاري شرمنده، شکست خوړلي ولاړه سي، سیاسي حل به ورته په عزت تمام سي.

خـو دا چـې د امریکـا حکومـت د نویـو انتخاباتو په نتیجه کـې نـوی سـو او د ټرمپ ځای ته جوبایډن راغلی، د دغه له عقله خلاص مشرـ څخـه یـې کلـه داسې بـابولالي اوړېدل کیږي چې د تړون شرائط په ټاکلې موده کې نه سي پوره کولای، حالات څه داسې هم برېښـوي چې بایډن او ائتلافیان بـه د تـیرو اولسمشرانو سرتمبګي بیا تکرار کړي او د تړون د تطبیق پولې بـه مـاتې کړي،یو ځل به بیا اشغال ته دوام ورکړي.

پـه بـاور سره ویـلای سـو چـې د افغانسـتان اسـلامي امارت سولې ته په هره معنا ژمن دی او تر اوسه پوري هـیڅ کوم جهت د تړون د نقض داغ نه سي باندې ثابتولای، که بیا هم مخالف جهت تړون مات کړي،چـې همـدومره مـوده نـوره جګړه وغځوي لابه هم د دغه اسهاني ځواک مورال مـات نـه کړي، طالب لا وسله په غاړه پر سنګره مبارزه کوي، لـه هـره پلوه ورځ تر بلې قوي کیږي، لا هم د تړون د نقض په صورت کې د جګړې کلک هوډ لري، د تـړون نقـض بـه د امریکـې د نړیـوالي شرمنـدګۍ لامـل جـوړ سي، امریکـا دي دلتـه لـه شکست خورده انګریزانـو، شـورویانو او د خپـل اشـغال لـه تیرو شلو کلنو پند واخلي چې افغانستان هضمول خورا ګران دی، پر تېر عمر دي غور وکړي چې دلته یې له افغانانو هغـه درسونه واخیستل چې نسلونه تسلونه به له روعبه لړزیـږي، نه په هوا کې ترې خوندي سول او نه پر ځمکـه، نـه پـه پټـن ځایونو کې او نه پر هواره؛بلکې تر هره ځایه د غازیانو د ځار او ګذار ښکار سول، لا هم د افغانانو مورال مـات نـه دطب نور که پر خپل اولس او قوځونو رحم وکړئ نو د جنګ ترخه تجربه بیا مه تکراروئ، که تکرار هم کړئ نو د هرڅه مسـؤل به یاست او درنه بیه به پرې کړئ. پـای



# د لویو لارو غمیزې موکوم عصر ته ورګرځوي ؟

یوځل چې په یوه هیواد د اشغال لویه بلا رانازله شي او جنګ جګړې داصلي کارونو ځای ونیسي، بیا نو دهغه هیواد دغمیزو او ناخوالو شمېر نه کیږي، د یوې په پای پسې بله اوبله تر هغې بدتره وي، همدا راز چې انسان هم یوځل وحشي شي بیا یې وحشي اعمال حتی د وحشت دتعریف له محدودې هم دباندې وځي او شیطان هم پناه ترې غواړي .

له نږدې یوې میاشتې راهیسې د بار وړونکو لاریو موټر چلوونکو په اعتصاب لاس پورې کړ، که څه هم چې دغه اعتصاب لومړی په کندهار کې دکابل - کندهار د لویې لارې موټر چلوونکو پیل کړ، خو وروسته چې په ټول هیواد کې ستر تاسري شو او دهیواد ټولې لویې لارې د ترانزیټ په مخ تړلې وې . د دوی اعتصاب داسې اعتصاب نه دی چې هسې وګڼل شي او له پامه وغورځول شي، بلکې سمدستي یې د ژوند داړتیا د ټولو توکو بیې لوړې کړې او خلک له ستونزو سره مخ شول .

زه یې نورې اقتصادي ستونزې نه څېړم او نه مې کار دی، خو دا چې موټر چلوونکي ټول په یوه خوله په لویو لارو کې د پوستو له عسکرو شکایت کوي او دهغوی باج او بد چلن نور له حوصلې وتلی بولي ، په خپلو اعتراضیه غونډو کې یې چې رسنیو ته کوم څه په ګوته کړي؛ زه یې اندېښمن کړی یم اوهو بهو یې دنویمو کلونو دفساد او ټوپکسالارۍ یاد راتازه کړی هغه چې د طالبانو دظهور او راپورته کېدو عمده لامل و.

هغو ملیاردونو ډالرو ته په پام چې داشغال له پیله تر دې دمه هیواد ته را وارد شول، په کار وه چې تر بل هر څه وړاندې په دې هیـواد کې تجارت ډېر پرمخ تللی او لویې لارې له پوره خوندیتوب سره ډېرې عصري او اساسي جوړې وای، خو دریغه چې تر بل هر چا د تجارانو ژوند په خطر کې دی او د لویو لارو خو دا حال دی چې نن یې خبره تر دې حده ورسیده چې په ټول هیواد کې ترانزیټ په تپه ولاړ دی .

هو! خبره د ډالرو او وارداتو نه ده بلکې خبره له ستر اداري فساد سره په څنګ کې یې مهاره اخلاقي فساد دی چې ببرته یې حالات دنویمو کلونو ټوپکسالارۍ ته ګرځولي دي ، په معترضینو کې یو موټر چلوونکي د خپل شکایت پرمهال وایي : " په لاره د پوستې عسکر موټر و دروواه په موټر کې کډه بار وه له هغوی نه یې د ډېرو پیسو غوښتنه وکړه کله چې هغوی عذر ورته وکړ چې غریب یو د دومره پیسو وس نه لرو! په ډېر جسارت او سپین سترګۍ یې ورته وویل چې ښه نو ها زنانه راښکته کړه..."

دا په لویو لارو د بې ساره ناخوالو یوازې یوه نمونه ده، او دا خو خورا عادي معمول دی چې کم عمره هلکان پوستو ته ولې ببرته یې د ډېرو لویو پیسو په مقابل کې پرېږدي ، وهل، ټکول، بدرد ویل او حتی وژل خو یې داسې عمل دی چې خلک ورسره عادي شوي دي .

تر دې ها خوا به نور څه کیږي او نور به د څه تمه وشي چې څه به پېښیږي، په دې ډول حکومتدارۍ هم خلک افتخار کوي او ځان د خلکو منتخب حکومت بولي، زه خو وایم که په دې خلکو کې لږ هم د انسانیت او همدردۍ خواږه وای، ډېر مخکې به یې له حکومتدارۍ استعفا کړې وای، ځکه خلکوته مخ نه لري، خو پر خلکو مسلط دي .

دتمدن او ترقي له هاغه سترو دعوو سره چې د دیموکراسي نني حاکمان یې کوي دغه ډول کړنې په کوم ډول تمدن او ترقي تعبیروي، ځکه دحکومت په رسمي چوکاټ کې ترسره کیږي او دډیموکراسۍ د پلي کوونکو عسکرو له خوا ترسره کیږي. دا هغه عمل دی چې پرون ټوپکسالارانو د انارشیزم اوملوک الطوایفۍ په دوره کې ترسره کاوه او نن یې د دیمکراسي مخکښان دنړیوالو او بین المللي ملاتړو په مټ ترسره کوي .

جمهوریت او دیمکراسي که ربښتیا هم ولسواکي وي نو دې ولس خو له دې نظامه په وار وار خپل برائت ښودلی د دې هیواد سوداګرو، صرافانو، موټر چلوونکو او د نورو اصنافو کارګرو کار بندیزونه او اعتصابونه تر میاشتو رسولي خو چا یې غږ ته دی اوربدلی او نه یې کوم ځای نیولی

داچې په هر څه باندې حکم دهغه په پایله او نتیجه باندې کیږي موږ ته زموږ په هیواد کې دیمکراسي همدا نتیجه نغده په لاس راکړې او ولس مو له ورته پایلو پرته نور خواږه ترې نه دي لیدلي هغه چې په نویمو کلونو کې یې د طالب غږ ته پنا ترې وړه وه .

# د دوحې له تړون څخه مو څه تر لاسه کړل؟

ليکنه: رحمت الله نړيوال

ځيني ملګري دا پوښتنه کوي چې د دوحې د تړون څخه نو طالبانو څه تر لاسه کړل؟ په داسي حال کې چې د امريکا نوی حکومت يې د ارزوني په نتيجه کې ممکن لغوه کړي!

د دوی په ځواب کې به ووايم چې داسي پوښتنې دوه ډوله کسان کوي، يوه هغه ډله ده چې د دوی د پوښتنې هدف ذهنونه مغشوشول دي، دا هغه خلک دي چې د تړون له عملي کېدو سوځي، اوس غواړي چې په يوه نه بله بهانه تړون تخريب کړي، دا خلک خو په ځواب نه ارزي او نه د دې ارزښتمن وخت په ضايع کېدو ارزي.

پاته سول هغه ملګري چې د دې تبليغاتو تر اغيزې لاندې راتلو له امله او يا د نه خبرتيا له امله دا پوښتنه کوي، د هغوی لپاره مې يو څه معلومات را غونډ کړي، چې د دوی د تسلی تر څنګ به د سولې تخريبوونکو تبليغاتو مخه هم په ډب سي.

تاسو ته معلومه ده چې د دوحې د تړون هدف زموږ څخه د اخيستل سوي خپلواکۍ بيرته راګرځول، اشغال ختمول، اسلامي نظام قائمول او له هيواد څخه د فساد او نا امنۍ تغر تولول دي،د تړون په بشپړ عملي کېدلو سره به طالبان ډېر دغو اهدافو ته ورسېږي او دوه مياشتې وروسته به د ټولو اشغالګرو ځواکونو په وتلو سره افغانستان يو خپلواک هيواد وي او د ټولو افغانانو په خوښه به د يوه بشپړ اسلامي نظام د جوړښت او نفاذ لپاره به ګرندۍ هڅې پيل کړي ان شاء الله!

خو که بالفرض د امريکا نوی حکومت تړون مات کړي نو امريکا به خپل حيثيت ته تاوان واړوي او نړيوالو ته به پر ثابت سي چې دوی پر خپل سوي تړون ونه درېدل، بر عکس طالبان چې د خپلو اسلامي اصولو سره سم تړون ته ژمن پاته سول؛ نړۍ ته به متعهد، بامسئوليته او سوله غوښتونکي ور وپېژندل سي.

ددې تر څنګ طالبانو د دوحې تړون په کولو سره يو شمېر داسي اهداف تر لاسه کړل چې له تړون مخکې يې تر لاسه کول ناشوني برېښېدل، په لاندې ډول د دوحې تړون د لاسته راوړنو لنډ معلومات وړاندې کوو:

۱ـ د دوحې د تړون له مخې ۵ زره اسيران مجاهدين د دښمن له کرغېړنو زندانونو څخه ازاد سول.

۲ـ له دوحې تړون وروسته هغه مظلوم هيوادوال چې هره شپه به د اشغالګرو په چاپو کې له وحشت او ړندو بمباريو څخه کړېدل، نور هوسا او په امن سول.

۳ـ په تېر يوه کال کې د کابل اداري څخه (۱۳۶۵۱) تنه عسکر او دولتي کارمندان را بېل او طالبانو ته تسليم سوي دي.

۴ـ د امريکا په شمول د نړۍ هيوادونو طالبان د يوه نظام په توګه په رسميت وپېژندل، اوسمهال ډېری هيوادونه ورسره رسمي اړيکي لري او ډېر نور ورسره د اړيکو جوړولو هڅه کوي.

۵ ـــ که څه هم د دوحې تړون موافق طالبانو پر لويو ښارونو او مراکزو بريدونه نه کول خو مظلوم هيوادوال يې د هغو عسکرو له ظلم او وحشت څخه خلاص کړل چې په ولسواليو کې يې ډېرې قرارګاوې او پوستې درلودې، په دې سره د طالبانو د حاکميت ساحه پراخه او پر کابل اداري د محاصرې کړۍ نوره هم تنګه سوه، د بېلګې په توګه: د کندهار په ارغستان ولسوالۍ کې د تړون څخه مخکې لسګونه پوستې موجودې وې خو اوسمهال تر ولسوالۍ پورې ټولې پوستې طالبانو نيولې ،يواځې يوه قومنداني او يوه قرارګاه پاته ده.

۶: د دوحې له تړون وروسته د هيواد سياسي وضعيت د طالبانو په ګټه روان دی، هغه سياسي څېرې چې طالبان به يې يو وخت په ترهګرو او پرديپالو يادول؛ اوسمهال ټول د طالبانو د برحقې داعيې مدافعين دي او د هيواد د استقلال او اسلامي نظام لپاره خپله مبارزه په ازاد ډول مخته وړي.

۷ـ افغانستان کې له تړونه مخکې د اشغالګرو امريکايانو شمېر ۱۳۰۰۰ تنه وو چې اوس ۲۵۰۰ تنو ته را ټيټ سوی دی او هيله ده چې په راتلونکو دوو مياشتو کې به دا دوه نيم زره هم افغانستان پرېږدي.

ددې هر څه سره سره که څوک بيا هم وايي چې د دوحې تړون هيڅ کومه ګټه ونه کړه او هيڅ لاسته راوړنه نه لري؛ نو دا به په دوو ګوتو لمر پټول او له واقعي حقايقو تېښته وي.

# د ترون ساتنه راته ولې مهمه ده؟

حسن زوی

دا زموږ ایمان او عقیده ده چې دجهاد لپاره د وسایلو درلودل، دېرول، قوي کول او د دښمن په مقابل کې نوري جنګي تیارئ زموږ شرعي مکلفیت دی؛خو زموږ تاریخ ګواه دی چې موږ کله د وسایلو پر مټ فتحې ندی کړی او کله مو چې پر خپلو تدابیرو او وسایلو اتکا کړیده دشکست سره مخامخ شوي یو.

مسلمانانو تل د الله په نصرت فتحې کړیدي او دالله تعالی نصرت هغه وخت وي چې د الله تعالی دشریعت اتباع وي؛ دشریعت له اتباع پرته د الله نصرت او د دښمن په مقابل کې دمسلمان کامیابي ناشوني ده.

دشرعي اصولو اتباع که په جنګ کې شویده هم مسلمانان کامیاب شویدي او که په سوله کې شرعي اصولو ته مسلمانان ژمن پاتې شویدي بیا یې هم کامیابي په برخه شویده. چې دحدیبې سوله او سولې ته دمسلمانانو ژمنتیا یې ډېر ستر دلیل دی.

پدې سولې او دسولې په شرطونو عام مسلمانان خوښ نه وو خو چې د رامنځته کېدو نه پس یې چې پرې عمل وکړ نو څومره ښه اثار پرې مرتب شول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له عمرې ادا کولو پرته بله هیڅ اراده نه درلوده؛ دمسلمانانو شمېر ۱۵سوه ته رسېدلو خو په وسلو داسې نه وو سمبال لکه جنګیالي چې جنګ ته ځي بلکې همدومره وسلې ورسره وې لکه مسافر یې چې دځان دساتنې په هدف له ځانه سره وړي خو قریش چې خبر شوي وو نو لښکرېې تیار او کلکه اراده یې وکړه چې مسلمانان به عمرې ته نه پرېږدو او دمقدمة الجیش په حیث یې دخالد بن ولید (چې لامسلمان شوی نه و) په مشرۍ کې یوه دوه سوه کسیزه ډله رالېږلې وه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم دقریشو د ارادې نه خبر شو او له دې هم خبر شو چې دخالدبن ولید په مشرۍ کې دا ډله غمیم مقام ته را رسېدلې ده نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه لار پرېښوده او له بلې لارې یې حدیبې ته ځان ورساوه.

یانې قریش پدې پوه وو چې دجنګ نه بلکې یواځې دعمرې په اراده مسلمانان راغلي دي خو بیا یې هم په ډېر تکبر ښکاره کړ؛ دمسلمانانو پرضد یې لښکر تیار کړ او عمرې ته د مسلمانانو د نه پرېښودلو کلکه اراده یې وکړه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیبې نه قریشو ته خراش بن امیة خزاعي رضی الله عنه ور ولېږلو تر څو یې خبر کړي چې موږ دجنګ لپاره نه بلکې یواځې د بیت الله دزیارت لپاره راغلي یو.

قریشو دخراش رضی الله عنه اوښ ذبح او دده د وژلو اراده یې وکړه خو ترې الله تعالی وساتلو؛ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم عثمان رضی الله تعالی عنه ورولېږلو خو قریشو خبره ونه منله.

دا تولې د قریشو دکبر او ظلم خبرې وې خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وزغملې او په مقابل کې یې کوم جدي عکس العمل ښکاره نکړ.

بیا چې کله دسولې دترون خبره راغله نو کوم شرطونه چې هغوئ وړاندې کړل هغه ټول هم په ښکاره د منلو نه وو خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ومنل.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او قریشو ترمنځ چې کله د سولې او دسولې دشرطونو په هکله اتفاق رامنځته او حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته یې ددې سولې دترون دلیکلو حکم وکړ نو درسول الله صلی الله علیه وسلم دحکم په اساس یې په سر کې بسم الله الرحمن الرحیم ولیکله.

دعربو زوړ رواج دا و چې دخط په سرکې به یې باسمک اللهم لیکلو نو دقریشو نماینده سهییل بن عمرو وویل څه بسم الله الرحمن الرحیم نه پېژنم دزوړ رسم او رواج له مخې باسمک اللهم ولیکه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل همدا ولیکه! بیا یې وفرمایل: ولیکه! (هذا ما قاضی علیه محمد رسول الله) دا هغه عهدنامه ده چې پرې محمد د الله رسول سوله کړی.

سهیل وویل که ته موږ د الله رسول ګڼلای نه به مو د بیت الله نه منع کړی وای او نه به مو درسره جنګ کړی وای؛ دمحمد رسول الله پرځای محمدبن عبدالله ولیکه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: سره له دې چې تاسې زما تکذیب کوئ، په الله مې دې قسم وي څه د الله رسول یم.

بیا یې علی رضی الله تعالی عنه ته وفرمایل: دا لرې او ددوئ دغوښتنې سره سم مې نوم ولیکه!

علي رضی الله عنه ته د (رسول الله) الفاظ ورانول ډېر ګران و نو یې د ورانولو معذرت وړاندې کړ؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل لاس مبارک دا لفظ وران کړ او پرځای یې علي رضی الله تعالی عنه ته د محمدبن عبدالله لیکلو حکم وکړ.

په سوله کې قریشو دا دظلم نه ډک شرط شامل کړ چې محمد(صلی الله علیه وسلم) او ملګري به یې اوس د عمرې ادا کولو پرته بېرته ځي؛ راتلونکې کال ته به دعمرې ادا کولو او په مکې کې یواځې ۳ ورځې دپاتې کېدو اجازه ولري؛ مسلمانانو سره به له تورو پرته نورې وسلې نه وي؛ تورې به هم په تېکو کې وي.

۱۰ کلونه به جنګ بندي وي؛ دبادار او ولي د اجازې پرته که دقریشو کوم تن مدینې ته ولاړ بېرته به راوستل کېږي خو که له مدینې نه مکې ته څوک راغلو بېرته به مدینې ته نه بوتلل کېږي.

خط لا نه و پوره شوی چې دسهیل زوی ابو جندل( چې دمخه په مکې کې مسلمان شوی او دقریشو له لورې ورته سخت تکلیفونه رسېدل) په زنځیرونو کې تړلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته حاضر شو؛ سهیل وویل دا رومبنی هغه شخص دی چې د ترون له مخې باید موږ ته راوسپارل شي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لا خو د سولې خط ندی پوره شوی (یانې دخط پوره کېدو او امضاء نه پس پرې باید عمل پیل شي) خو سهیل ونه منله؛ ابو جندل سهیل ته په داسې حال کې ور وسپارل شو چې دحسرت او افسوس نه په ډک انداز یې مسلمانانو ته مخ راواړاوه او ویې ویل: مسلمانانو! څه کافرانو ته ور سپارل کېږم؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې دابو جندل خبره واورېدله ور ته یې وفرمایل: (یا ابا جندل اصبر واحتسب فانا لانغدر و ان الله جاعل لک فرجا ومخرجا) ابو جندله صبر کوه او د اجر امید لره؛ موږ وعده خلافي نه کوو او الله تعالی به خامخا تا ته دتجات او خلاصون لار برابره کړي.

کفارو ته د ابو جندل سپارل مسلمانان سخت وځړدول عمر فاروق رضی الله تعالی عنه خو بیخي احساساتي شو او رسول

الله صلی الله علیه وسلم او ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه په حضور کې یې خپل احساسات ښکاره هم کړل.

په صحیح مسلم شریف کې د سیدنا انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چې صحابه وو عرض وکړ: یا رسول الله پدې شرط څرنګه سوله وشوه چې زموږ نه څوک ورشي هغوئ به یې موږ ته نه راسپاري او چې دهغوئ نه څوک راشي موږ به یې ورسپارو ؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل څوک چې زموږ نه ولاړ زموږ ورته اړتیا نشته؛ هغه به الله تعالی دخپل رحمت نه لرې کړی وي او له هغوئ نه چې څوک اسلام قبول او موږ ته را شي نو د معاهدې له مخې به یې ورسپارو خو دا دخفګان خبره نده، الله تعالی به ورته ژر د نجات لار راوباسي.

لنډه دا چې د پورتنو شرطونو سره سم ترون رامنځته او جانبینو امضاء کړ.

دسولې دمکمل کېدو نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین ته د څاروو د ذبح کولو او سرونو خریلو حکم وکړ خوصحابه کرام ددې شرطونو له امله دومره غمجن اودردمن وو چې د حکم تکمیل یې نه شو کولای؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم ۳ کرته حکم وکړ خو څوک پورته نه شو. رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې بی بی ام سلمة رضی الله تعالی عنها ته ورغلو او دیو شکایت کونکي په څېر یې ورته دا خبره وکړه؛ هغې عرض وکړ: یا رسول الله خلک ډېر غمجن دي ځکه یې د حکم تعمیل ونه شو کړای، تاسې چاته څه مه وایئ؛ بېرون ووځئ قرباني او سر کل کړئ دوئ به مو پخپله اتباع وکړي.

همداسې وهم شوه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دقربانۍ کولو سره ټولو صحابه وو دخپلو څاروو ذبح پیل کړه.

په حدیبیې کې د کابو دوه اوونیو دقیام نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم دحدیبیې نه مدینې منورې ته روان شو؛ په لار کې سورة فتح نازل شو؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اصحاب راجمع او انا فتحنا لک فتحامبینا یې د سورة تر آخره تلاوت کړ.

صحابه کرامو چې داسوله یې لکه خپل شکست داسې بلله په ډېر تعجب یې وپوښتل؛ یا رسول الله آیا دا فتح ده ؟! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل؛ قسم مې دې وي په هغه ذات چې زما روح یې په قبضه کې دی بې له شکه چې دا عظیمه فتح ده.

هو! د حدیبیې سوله په ښکاره مسلمانانو ته خپل ذلت ښکارېده خو په حقیقت کې دا ډېره ستره فتح وه؛ الله تعالی دحدیبیې سوله فتح مبین او د سکون او اطمینان موجب وګڼله؛ په عربي کې د کوم بند شي خلاصول د فتح معنی لري؛ دعربو دمخالفت له امله د اسلام د دعوت او د احکامو دتبلیغ دروازه بنده وه؛ ددې ترون په برکت د دعوت لار خلاصه اوعالم ته د اسلام د پیغام رسولو موکه ترلاسه شوه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم د نړۍ دستر طاقت روم بادشاه هرقل؛ دنړۍ دوهم ستر طاقت فارس بادشاه کسرا؛ دحبشې بادشاه نجاشي؛ دمصر بادشاه مقوقس؛ دبحرین بادشاه منذربن ساوا؛ دعمان بادشاه جیفر؛ دیمامې مشر هوزه بن علي او د دمشق امیرحارث غساني په څېر دنړۍ ټولو لویو طاقتونو او مشهورو حاکمانو ته اسلام ته د را داخلېدلو لپاره خطونه ولېږل.

نورو خلکو ته د قرآنکریم اورولو؛ ورسره دخبرو او د اسلام داحکامو په هکله د بحث او مناظرې موکه ترلاسه شوه؛ اثر یې دا شو چې د بعثت له پیل نه د حدیبیې تر سولې پورې دومره خلک نه وو مسلمانان شوي څومره چې د حدیبیې دسولې نه تر فتح مکې پورې مسلمانان شول ؛ او هغو خلکو چې خپل اسلام یې نه شو ښکاره کولای د دې سولې نه پس یې په علني ډول د اسلام احکام عملي کړل.

اسلام چې دمکارم اخلاق او محاسن اعمال معدن دي، د رسول صلی الله علیه وسلم ژمن یاران ددې ژوندی تصویر و خو د اسلام سرسختو دښمنانو یې د بدنامولو لپاره په ټولو نېږدې سیمو کې دومره تبلیغات کړي وو چې ډېرو کمو خلکو

به يې په نېکو اعمالو او عالي اخلاقو يقين کولای شو خو دسولې نه پس چې نورو خلکو ته د نېږدېکت او ورسره د ديالوګ موکه په نصيب شوه نو دصحابه کرامو نېکو اعمالو او عالي اخلاقو ډېر زيات خلک متأثره کړل؛ او تولو ذي شعوره خلکو ته ددې حقپالونکو خلکو د تندو نور راښکاره شو؛ ګڼ خلک يې ملګري شول.نو داسوله خو عامو مسلمانانو خپل شکست ګانه خو په حقيقت کې ډېره ستره فتح وه.

زموږ لپاره ډېره اړينه ده چې څمکني حقايق له پامه ونه غورځوو؛ زموږ جنګي وسايل ،مادي څواک، عسکري قوت د امريکا او د امريکا د سترو اتحاديانو سره دپرتلې ندی؛ بس دا خو دالله تعالی لوی فضل او زموږ دځوانانو بې دريغه قربانۍ وې چې دښمن مو شکست وخوړ او زموږ دغوښتنو سره سم يو داسې تړون ته تيار شو چې دوستان يې په اړه هيڅ تشويش نه لري او زموږ دښمنان په هغې کې هيڅ کومه داسې نقيصه او کمی نه شي په ګوته کولای چې موږ پرې بدنام کړي.

بلکې ملت شاهد دی چې تول لاسپوڅي ددې تړون سره خپل سخت مخالف وو اول يې دمخنيوي هڅې وکړې اوبيا يې پدې تړون کې دمنل شويو مادو په تنفيذ کې دموانعو د ايجادولو سخت زيات کوښښونه وکړل چې الله تعالی سخت ناکام کړل خو شکايتونه يې تر ننه روان دي او وايې چې دا تړون طالبانو ته له امتياز ورکولو پرته هيڅ نه لري.

بې له شکه چې دا زموږ فتح عظيمه او فتح مبينه ده؛ په هغو هېوادونو کې چې زموږ نوم اخستل به پکې ستر جرم و اوس له هماغو هېوادونونه موږ ته دعوتونه راکول کېږي او زموږ سياسيون ورته کامياب سفرونه کوي؛ الله تعالی راته موکه راکړه چې نړۍ ته خپل پيغام ورسوو؛ زموږ په اړه شوي منفي او پوچ تبليغات رد کړو؛ زموږ په اړه دنړۍ منفي فکر بدل او نړۍ پدې پوه کړو چې خپلو عالي اهدافو ته د ژمنتيا ترڅنګ هم دنړۍ سره ښه روابط لرلای او دخپل ولس نمايندګي کولای شو. زموږ يو، دوه ، لس يا شل نه بلکې ۵ زره بنديان آزاد شول او پرون چې خليلزاد افغانستان ته په سفر راغلی و د ۷ زره نورو بنديانو د آزادۍ خبره يې هم کړېده.

موږ بايد پدې پوه شو چې ددې تړون بقا زموږ لپاره بې حده زيات ارزښت لري؛ نو په هر قيمت چې وي بايد دبقا لپاره يې هڅې وکړو او مشران او کشران تول دداسې هر حرکت نه ځان وساتو چې دې تړون ته پرې ادنی تاوان رسېدای شي؛ الله تعالی راته ډېره ستره موکه راکړېده چې ساتنه يې يواځې دګټې خبره نه بلکې زموږ دتولو فريضه ده .

# د طالبانو ليک

## او د امریکا د دوو اندېښنو پر وخت ځواب يې!!

سعد کټوازی

دا چې افغانستان او افغانان پر نړۍ او نړيوال تاريخ کې د توري او ننګ نوم لري، د هر وخت امپراطور او امپراطوري چې خپله يکه تازي ثابتول وغوارې، نو له همدې ځايه يې ور پيلوي او ازمايي، امريکا هم چې پر نړۍ د خپل راج چلولو خوبونه ليدل له همدې ځايه يې ور پيل کړه او اوس يې په نظامي، سياسي او فرهنګي ډګرونو ماتې خوړلې، منلې، د تېر لمريز کال کب مياشتې پر۱۰مه يې د دوحې د تړون په بڼه رسماً لاسليك کړې، د زرګونو ځواکونو پر عملي ستنولو بشپړه تائيد او يقيني کړې هم ده چې پرې د هېواد او ولس ياد نوم نور هم لوړ او د نړۍ په کنارو کې و ځلېده.

خو ښکاري چې پر افغانانو او طالبانو يې دا ستره او تاريخي بريا او وياړ نه دي پېرزو او د هغو پټو موخو لپاره چې له کورنيو پرديپالو په استفاده يې تمه لري ترلاسه کړي لاهم د دوی له لارې په نامستقيم ډول لګيا دي د ځينې تزويرونو ترشا خپلې تمې بشپړې کړي چې له امله يې د ياد تړون په توافقاتو کې د ځنډ سربېره له هغه څخه په مکرر ډول سلګونه سرغړونې هم کړې او ور پسې اوس يې د کاليزې په رانږدې کېدو سره د امريکا نوې اداره او نوماند چارواکي بېلابېلې د تړون ضد څرګندونې او اټکلونه کوي ترڅو دغه وياړلی او تاريخي تړون له مبهم راتلونکي سره مخ او په راتلونکي کې د يو وياړ په توګه ونه پېژندل شي.

تازه د دوحې تړون له شتون سره سره له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو ايستلو يا همدلته پاتې کېدو په اړه د پرېکړې لپاره په بلجيم کې د ناټو دوه ورځنۍ غونډه را غوښتل شوې وه، خو ونه توانيدل کومه پرېکړه وکړي او ينس ستولتنبرګ په ډاګه وويل چې په دوه کې نښتي، نه په پاتې کېدو سره د نورو زيانونو تاب لري او نه هم د هغو ګټو د تضمين او خونديتابه چانس لري چې پر سر يې۲۰کاله جګړه کړې.

پرديپال خو چې هسې هم خپلې شخصي- او ګونديزې ګټې په پرديپالۍ کې نغښتې ويني دوه ګامه تر هغه وړاندې ځي چې اشغالګر يې ورته وايي او په دې چل چې هغو ته ګټې، دوه برابره (د پرديپالۍ او دوه ګامه ورهاخوا تلو) يې له خپل هېواد او ولس څخه د چور، غلا، له هغو سره د خيانت او غدر او دلته د فساد، مرګونو، ويرونو او... په بڼه د خپلو شخصي ګټو په فکر کې وي.

دوی ته په دې وروستو کې د امريکا نوې ادارې چارواکو څرګندونو هم روحيه ور کړې او ځينې داسې اټکلونه کوي چې د امريکا د ادارې له بدلون سره د هغې بهرنۍ پاليسي پر بل مخ اوړي او خدای مکړه له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو نه وتل ياهم يې له ټاکلې مودې هاخوا پاتې کېدل د دوحې پر تړون هم منفي اغېز وکړي او ياهم مات شي چې پرديپال افغانان تر بل هرڅه همدېته خوښ او

خوشاله او په هر ډول لاپوشاپو، ستاینو، هرکلیو او ترپکو یې بدرگه کوي.

خو دېته نه گوري چې امریکايي چارواکي او ملاتړي یې زیاتر اصلي موقف د دا ډول ځرگندونو تر شا پټ ساتي، خپله د یادو ځرگندونو موخه هم نه په ډاگه کوي، بلکې هر وخت د فشار او تبلیغاتي هڅو په توگه ترې کار اخلي او بیا په نورو پلمو ترې اوړي او خپل موقف ته را گرځي، د ټرمپ هغه ټویټ یې ښه مثال دی چې پکې د سولې خبرې یې لغوه اعلان کړې او دلته غرب نمك ورته په گډا ستړي شول او اوس په ټرمپ پسې- جوبایډن هم د لومړیو ځرگندونو او د هغو پر استیناد اټکلونو خلاف د مونیخ غونډې ته د وینا پر مهال د سولې له پروسې او د دوحې له تړون څخه ملاتړ او ورته هرکلی ځرگند کړی.

د امریکا د نوې ادارې چارواکو لومړنۍ ځرگندونې او سرگرمۍ تر ډېره بریده له ټرمپ سره پر شخصي- گوندیز او سیاسي مخالفت ولاړې وې چې د یادې ادارې مشر جوبائډن د خپل گوندیز او ټاکنیز رقابت او ځینې نوماند چارواکي یې د دې ترڅنگ له افغانستان څخه د ځواکونو ایستلو پر سر له ټرمپ سره رامنځته شوې رخې او دندو بایللو له امله د ټرمپ ادارې د پالیسیو لغوه کولو، د هغه له لوري گوښه شویو چارواکو بیا ځل گومارلو، د هغه پر ضد تور پوستو ته په اداره کې لوړې څوکیو ور کولو، د ټرمپ اداره- شخصیت- گوند او پلویان له دغه هېواد سره پر خیانت او غدر داغلو او... ته کار ویلی ترڅو د هغه او د هغه د ادارې کړنې او پالیسۍ خپل هېواد او ولس ته پر زیان ور وپېژني.

په دې برخه کې یو هم له طالبانو سره د دوحې تړون او له مخې یې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو ستنولو موضوع ده، په دې اړه که څه هم جوبایډن بشپړ مالومات او مثبت نظر درلود او د دوحې تړون او د ځواکونو ستنولو پلوی و او هم دی، خو له ټرمپ سره د رخې له امله، له پیله لا د خپلې ادارې ځواکمنې ښوودلو، په خپلو دندو کې یې د نوماندو چارواکو بشپړ خپلواك-ځواکمن او پېرې واکمن را پېژندلو، افغانستان کې د جگړې ختمول د ټرمپ ادارې نه، بلکې د خپلو هڅو د پایلې تلقی کولو او د ځواکونو ستنولو د ابتکار په لاس کې اخیستو لپاره بایډن او د هغه د ادارې هر نوماند چارواکي خپلې لومړنۍ ځرگندونې د دوحې پر تړون، د افغانستان او طالبانو په اړه خپله پالیسي، د افغانستان پر کشاله او د هغې د حل تگلارې پـه اړه پـر غـور کولو راڅرخوي.

دا چې طالبانو او د هغوی سیاسي، ډیپلوماتیکو او تبلیغاتي پرمختگونو او د دوحې تاریخي او ارزښتمن تړون یې د نړیوالو پام ځانته اړولی؛ له یوې خوا دا یواځینی هغه سوژه ده چې پکې په چون او چرا ویلو سره جوبایډن خپل شخصیت او اداره یې د امریکا د وروستیو۲۰کلنو ادارو له منځه مطرح وښیي او تر ممکن حده د افغانستان کشالې سیاسي حل او ځواکونو ایستلو ته د ټرمپ ادارې له رنگ څخه په بشپړ مغایرت نوی رنگ ور کړي او تر همغې کچې دا ابتکار هم له ټرمپ څخه واخلي او له بل لوري ښایي د افغانستان د معضلې په اړه د پنځ وشش ترمنځ نښتې بایډن د خپلې ادارې، د دوحې تړون پـه تـړاو خپلو ځرگندونو او د افغانستان او طالبانو په اړه یې د پالیسۍ اړوند د طالبانو د سیاسي، پوځي او تبلیغاتي غبرگون جاج اخلي ترڅو افغانان او طالبان یې سربدالۍ و ارزوې، تحلیل یې کړي، غبرگون وښیي او بیا له دې په اخذ هغوی خپل غوراوی و ټاکلای شي.

جوبایډن او اداره یې پوهېږي چې امریکا له روانو کورنیو او بهرنیو نړیوالو ناخوالو څخه د وتو یواځینۍ لاره د باندینۍ جگړه ییزې پالیسۍ په یوه سوله ییزه حل لاره اړولو او نه یواځې په افغانستان کې، بلکې زیاترو هغو سیمو کې

هم د خپلو ځواکونو جګړه ییز ماموریت ختمول دي چې د بوش، اوباما او ټرمپ ادارو نورو هېوادونو کې پیل کړي، دا به هم یاد لري چې امریکا د دوحې د تړون ډېرې هغه لوړې بیې پرېکړې چې یواځې همدې تړون ته د ژمنتیا پر مټ یې رأس المال او ګټه ترلاسه کولای شي او په ماتولو یې په هیڅ صورت کې د بېرته ترلاسه کولو خیال نه کېږي.

د امریکا نوې اداره که د دوحې په تړون کې ځان پر زیان او طالبان پر ګټه ویني، نو دېته یې هم باید پام وي چې په افغانستان کې یې د جګړې پیل لا همداسې و چې د دوی پر زیان او له دوی پرته د ټولې نړۍ په ځانګړې د رقیبو هېوادونو چې پکې خپله افغانستان هم راځي په ګټه و او د امریکا د بشپړ زوال او نړیوال برم له منځه تللو پیلامه وه، دا د خپل زیان او مقابل د ګټې سرچپه پرېکړه همدوی لا شل کاله وړاندې کړې وه، اوس نو که سوله وي که جګړه یا په نورو ټکو امریکا که د جګړه ییز او که هم سوله ییز ماموریت له غوراوي سره را وړاندې کېږي ګټه نشي کولای او پړه یې هم په خپله غاړه ده، خو دا چې که تړون ته ژمنه پاتې شي، نو کړي زیانونه به یې دومره هم بې ګټې شوي نه وي چې پرې د تاریخ له تر ټولو اوږدې او هغې ته له زیانه ډکې جګړې ونشي وتی او د لازیاتو زیانونو مخه ونشي نیوی.

د دوحې تړون د شرائطو په رڼا کې د ټرمپ ادارې د چارواکو په ګډون زیاتر پخوانیو چارواکو، د امریکا ملاتړو هېوادونو، مخکښو څېړونکو او د نړیوالو بېلابېلو وضعیتونو متخصصینو د هغو موندنو، تجربو او ارزونو په ترڅ کې را منځته شو چې له مخې یې دوی د ټرمپ اداره اړه ګڼله څو د دې مبهمې جګړې له اوږدې او نا کامې تجربې وروسته د هغې پای ته رسولو او له افغانستانه د ابرومندانه وتلو په پار له طالبانو سره د مذاکرې غوراوي ته را وړاندې شي او په هره بیه چې وي له همدې لارې افغانستان کې د امریکا متحدو ایالتونو په مشرۍ روانه کړې جګړه پای ته ورسوي ترڅو امریکا او ولس یې له لازیاتو زیانونو څخه خوندي او کورني امنیت، اقتصاد، ابادۍ، تجارتي ودې او... باندې خپل ټول پام متمرکز کړي.

له طالبانو سره د امریکا مذاکرات او بیا په افغان جګړه کې په دومره لوړه کچه د خپلې ماتې منل او لاسلیکول خو نه کوم تصادف، نه د ټرمپ ادارې خپل سرې پرېکړه او نه هم وړوکی او بې ګټې غوراوی و، بلکې د شرائطو، د امریکا د ملي او سیاسي ګټو او له ۶۷٪ سلنې د لوړې کچې امریکایي ولس پر غوښتنه امریکا ته مذاکرات او د دوحې تړون تر هغو موخو ډېر ګټور او له اهمیته برخمن و چې د ترلاسه کولو ارمان یې په تېروتنې سره امریکا په مستقیم ډول د ۲۰۰۱زېږدیز کال په افغان جګړه کې ښکېله کړه او په۲۰کاله دوام کې یې له هره اړخه وزیېښله، د امریکا د ملي او سیاسي ګټو او پورتنۍ سلنې ولس یاده غوښتنه اوس هم پر ځای او لا د دوحې تړون، د طالبانو هر اړخیزو پر مختګونو او د هغوی پر لور شرائطو په سیوري کې د یو کال په تېرېدو نوره هم داغوښتنه زیاته شوې چې د جوبایډن اداره باید ورته جدي پاملرنه ولري.

دا چې له بایډن وړاندې د ټرمپ او د هغه ادارې هم په لومړیو کې د افغان جګړې د دوام زړه نه وه او له امریکا یې ولس سره یې کړې ژمنې ته هم تمه وه د خپلو ځواکونو ستنولو او د افغان جګړې پای ته رسولو ته کار وکړي، خو بیا کرار یې ولس تېر ایسته او د اوسني ډانفورډ په څېر جګړه مارو قوماندانانو او استخباراتي کړیو په اشاره یې دلته د ۶میاشتینۍ ستراتیژۍ تر سرلیک لاندې جګړه نوره هم پسې وغځوله، اوس چې پر هغه سربېره د یو هېواد او ولس په حیث امریکا او طالبانو ترمنځ مذاکرات او بیا د دوحې تړون له مخې د ځواکونو ستنولو پرېکړه هم شوې؛ د بایډن د ادارې له پیله لا د امریکایي ولس د متوجې کېدو اړتیا وه

چې له نیکه مرغه د طالبانو سیاسي مشر- ملا عبدالغني برادر د یو پرانیستي لیك په څو لنډو ټکو کې هغه مخاطب او متوجې کړی دی.

د طالبانو دغه لیك چې تېره اونۍ په بلجیم کې د ناټو له دوه ورځنۍ غونډې یوه ورځ وړاندې خپور او پراخ ستایل شوی، د مثبتو غبرګونونو سربېره پرې تر اوسه ګڼې تبصرې هم شوې دي او د ناټو غونډې په جام کولو کې یې هم د مهم نقش په اړه ګڼ نظرونه وړاندې شوي دي. یاد لیك د ټکو له اړخه نرمې او د مانا له اړخه بشپړې او ژورې محتوا ترځنګ پر وخت هم و او د امریکا ولس او د بایډن اداري چارواکو ترمنځ په داسې مهال لاس پرلاس شو چې نوموړو د افغانستان په اړه د مهمې او ستراتېژیکې پریکړې تابیا نیوله، په عین حال کې له یوې خوا خپله دې پرېکړې ته په دوه کې نښتي او له بلې خوا یې په دې اړه د یواځیني ملاتړي (ناټو) موقف او دریځ روښانه نه و ترڅو تر یو حده پر هغه ډاډ ترلاسه او تکیه وکړي.

د طالبانو لیك یې دا دواړه اندېښنې ورته پر وخت او لنډې خواب کړې چې نه باید د بایډن، امریکا نوې اداري او د دوحې تړون په تمه له افغانستان څخه د خپلو اولادونو ور ستنېدلو ته سترګې پر لاره امریکایي ولس دغه ګډه او کورنۍ ستراتېژیکه پرېکړه د دوحې له تړون سره په ټکر کې وي او نه هم نور په ناټو باندې اتکا وکړي چې هغه هم د خپلو ځواکونو په اړه له ورته برخلیك سره مخ ده او باید دېته متوجې وي چې د دوحې تړون ته د امریکا ژمنتیا د هغې د ټولو اندېښنو او ورته متوجې ګواښونو یواځینی ځواب او د بشپړ ډاډ ضامن دی. له دې ور هاخوا بله هره ستراتېژي د جګړې د دوام او د امریکا د مطلق زیان په مانا او بالآخر ناکامه ده. د دې لیك او د هغه تر اغېز لاندې ناټو غونډې په تعقیب جوبایډن هم د مونیخ غونډې ته په وینا کې له ځینې

لومړنیو ځرګندونو راستون شو او د دوحې تړون ته یې تمه څرګنده کړه.

اوس چې طالبان عملي هم پر ټولو ډګرونو مطرح پېژندل شوي، شرائط هم د هغوی پر لور دي، د دوحې تړون ته هم ژمن دي او خپله ژمنتیا یې لکه چې دوی پر اثبات رسولې، پر نړیواله کچه هم پېژندل شوي، اعترافونه پرې شوي او ستایل شوي هم ده او له دې وروسته داسې څه شته هم نه چې امریکا یې په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د پاتې کېدو پلمه او یا هم یې د یاد تړون د ماتولو د اړتیا دلیل وګرځوي، نور هرڅه پر امریکا او د امریکا په نوې اداره اړه لري.

که امریکا اټکل کوي چې تر ټاکلې مودې د ځواکونو په نه ایستلو، په نورو ټکو د دوحې تړون پر ماتولو به د افغانستان په جګړه او بیا سوله کې بایللی حیثیت، ور کړې بیې او پر ځان ورې زیانونه پټې کړي، نو دا یې د خپلو هر اړخیزو کمزوریو، وتلي زیښتن او ترځنګ یې د طالبانو پر مختګونو ته پر کتو هم ناشونې برېښي، که د امریکا نوې اداره د دوحې تړون پر خپل زیان او د طالبانو پر ګټه وینې او دا ځل د بیا ځل مذاکراتو په تمه تړون ماتوي ترڅو سوله بیز حل په خپله ګټه را وګرځوي، نو دا به هم هغه ستره اشتباه وي چې نه تر اوسه ازمایل شوې، نه به یې په تاریخ کې ساری وي او نه به تر دې د لوړې اشتباه خیال کېږي، ورسره د تېرې شل کلنې جګړې، اتلس میاشتنیو مذاکراتو او د سوله بیز ماموریت یې ټولې خوارۍ، پرې کړې بیې او شته باور سربېره راتلونکې له اټکل پورته بیې، طالبانو ورکړې د جګړې اوسولې غبرګ چانسونه او هم د جګړې او ډیپلوماسۍ غبرګ ډګرونه پر یوه خیالي او بایللي موخه (سوله بیز حل په خپله ګټه را څرخول) له لاسه ور کړي او پاتې باور به یې هم په صفر کې ضرب شي.

اوس مهال په داسي حال کې چې اشغالګر له جګړې د سولې غوراوي ته راغلي او بايډن په يو خورا حساس نزاکت کې را ګير دی، زياتره جګړه خوښې کړی طالبان د دوحې تړون ته پر نه ژمنتيا تورنوي، د ۲۰ کلنو لاسته راوړنو څخه يادونه کوي، دلته جګړه د امريکا او د هغې ملاتړو د ګټو او امنيت د خونديتوب لپاره تلقی کوي، له افغانستان څخه وتل او دلته د سولې راتګ وروسته د ګواښونو پيښېدو اټکلونه کوي او له دې لارې امريکا نوره هم په جګړه کې ښکېله غواړي.

خو تړون ته د طالبانو پر نه ژمنتيا هيڅ دليل نلري او نه يې ترې د سر غړونې کومه بېلګه وړاندې کولای شي. بلکې سرچپه يې د نړۍ په کچه سوله خوښو دولتونو، ملتونو، څېړونکو او متخصصينو ژمنتيا منلې او ستايلې هم ده، شل کلنې لاسته راوړنې هم لومړی خو يواځې خوب او خيال دی، که وي هم، نو خپلو ولسونو ته خو دې په اړه وضاحت او ډاډ ورکړي ترڅو بيا يې د ساتنې لپاره د څو برابره لازياتو زيانونو تابيا هم ونيسي او جګړه به د ګټو لپاره وي او دا يو منلی حقيقت هم دی، خو امريکا او ناټو يې خپلو ولسونو ته له دې امله وضاحت نشي- ور کولای چې ګټې د دوی شخصي، ګونديزې او دولتي دي او په دومره جګړو او ځاني زيانونو نه ارزي، خو چې بيې يې هېواد او ولسونه پرېکوي، نو څکه ورته وړه ګټه هم پر لويو زيانونو ارزي، له همدې امله په افغانستان کې د امريکا روانه جګړه کې تر اوسه لا ابهام دی او هيڅوک نه پوهېږي چې دا جګړه د څه لپاره او ادعا چې يې کېږي هغه ګټې کومې دي؟.

او کومه چې د امنيت خونديتوب او د اټکلو ګواښونو پيښېدو بهانه ده، نو لومړی خو دا په افغانستان د ننه روزلو او د ډالرو او واک معتادو پرديپالو را ولاړه کړې اندېښنه ده چې خپلې ګټې په جګړه، جګړه د بهرنيو ځواکونو په حضور کې وينې او د هغوی حضور ته له اندېښنو را پارولو پرته کوم موجه لامل نشته او بيا د دوحې تړون له مخې له افغان خاورې نورو ته هر ډول خطر په اړه ډاډ هم ور کړل شوی او ورته د طالبانو ژمنتيا هم يقيني او باوري ده، خو که بالفرض المحال خطر وي هم، دومره نه دی کوم چې دلته په افغانستان کې د بهرنيانو له شتون سره تړلی دی.

د بهرنيو ځواکونو شتون ته د سوژې او تبليغاتي لاسوند په برخه کې يو په افغانستان کې د القاعدې جنګياليو د شتون ادعا ده چې د بهرنيانو په ذهن کې يې مزدورو کابل ميشتو خيالي انځور ور جوړ کړی، خو طالبانو بيا بيا د دې احتمال لا هم رد کړی او ډاډ ور کوي، له دې ور هاخوا د دوحې تړون ته د دطالبانو د ژمنتيا غوښتنه هم همدا ده چې نور له افغانستان څخه د القاعدې په وتلو کې طالبان خپله همکار وي.

که بايډن، د امريکا نوې اداري چارواکي او ناټو په دا ډول پلمو او جعلي اندېښنو ځان غولوي او تر مئ مياشتې د ځواکونو ستنولو لړۍ بشپړه نکړي، بدې پايلې به ولري او د همدې پايلې پر ليدو به د طالبانو ژمنتيا، ادعاوې، وړانديزونه او وړاندوينې داسې په ټيټو سترګو منې لکه د سولې مېز ته چې ورته کېناستل. اشغالګر خپل ارزښتونه او لومړيتوبونه لري (چې تر ټولو لوړ يې نړيوال برم، يکه تازي او اقتصادي وده ګڼل کېږي) او صوړ خپل، زيان او ماتې هغه وي چې خپل ارزښتونه او لومړيتوبونه پکې له لاسه ورکړل شي او په دې کې شك نشته په افغان جګړه کې امريکايي چارواکو خپل او د خپل ولس ارزښتونه او لومړيتوبونه له لاسه ور کړل، زيان يې و ګاله او ماتې يې وخوړه، که د دوحې تړون ته زيان رسوي، په سياسي او ډيپلوماتيك ډګر به هم همدا پايله ترلاسه کوي او ان شاءالله موږ بياهم بريمن يو...

په همدې هيله...پای

# د حوت ۱۰ مې په وياړ
# د تحليلي سيمينار يو تأثر!!

د سهار په بانګ له خوږه خوبه بيدار شوم، د سفر تاييا مو نيولې وه، سفر مو پيل کړ، نږدې اته نيمې بجې د سيمينار تالار ته ورسېدو، دا چې غونډه د دوحې تړون لومړۍ کليزې په مناسبت د ا.ا.ا. د فرهنګي کمېسيون په ابتکار جوړه شوې وه، زما په شمول يې زيات شمېر ميلمانه او ګډونوال درلودل ، چې پکې سياسيون، ژورنالستان، علمي، فرهنګي او ادبي څېرې او شخصيتونه موجود و، د تالار په يوه برخه کې سري اشخاص هم ليدل کېده ، چې د کيمرو لوری تري اوښته ، داسې ښکارېده چې د طالبانو نظامي او پوځي څېرې دي.

موږ ته څرګنده شوه چې سيمينار به دوه ناستې او نشسته ولري:

لومړۍ به يې د تحليلي مقالو لپاره ځانګړې وي

دويم به يې د اديبانو، شاعرانو د ترنم بلبلانو ته خاص وي.

له لږ ځنډ وروسته د غونډې چوپتيا د قرآن کريم په مبارکو آيتونو سره ماته شوه ، د سيمينار دريځوال دوه درانده شخصيتونه ښکارېدل، چې يو يې پښتو او بل يې دري ويله.

د لومړۍ ناستې په شروع کې له تلاوت وروسته د حوت لسمې تاريخي ورځې په وياړ د اسلامي امارت د مرستيال ملا سراج الدين حقاني پيغام د مولوي عيق الله عزيري لخوا ولوستل شو چې ښکارېده د فرهنګي کمېسيون بانفوذه او لوړ رتبه ، درونډ شخصيت دی.

ټولو ګډونوالو د ملا سراج الدين حقاني پيغام په ډېره چوپتيا او ليوالتيا سره اورېده. بيا د تحليلي مقالو اوږدو لړۍ پيل شوه ، ګڼ شمېر قلموالو ، اديبانو او تحليلګرانو چې دريځوال به وار په وار بلل؛ هر يو ليکوال او اديب محمد ابراهيم نبيل، سياسي شنونکي سردار محمد شکيب ، علمي شخصيت دکتور محمد حسين ، تکړه ليکوال او عالم مولوي شمس الدين منصور، ديني عالم مفتي عبدالکريم، د الاماره دری پاڼې مسئول مدير انعام الله سمنګاني ، نوميالی اديب لطف الله خيرخوا او پوهاند صبغت الله وصيل خپلې ترتيب کړې مقالې او ويناوې واورولې.

د دوحې تړون په مناسبت د تحليلګرانو موضوعات مختلف او هر اړخيزه ول، د قلم پياوړتيا ، علمي آفاقيت او ادبي سبک يې له ورايه څرګندېده.

دغونډې په جريان کې د دغې تاريخي ورځې په مناسبت د ترنم بلبلانو په پښتو او دري داسې عالي معيار سره

ترانې وویلې چې د غونډې برخوال یې سم خمار او تاثیر ګذار کړل. نردې دمخه موږ په داسې آهنګ او داسې نظم نه وې اورېدلې.

له دوی وروسته د یو لړ جهادي څېرو لخوا مختصرې او ولوله انګیزې ویناوې وشوې چې د سمینار ګډونوال ورته ګوته په غاښ شول، په خانګړې توګه د فیسبوک مخکښې فعال جنرال مبین په خپله دردمنه دلخراشه وینا سره د زړونو پردې په لړزه راوستلې.

نږدې ۱۲مقالې په پښتو او دري موضوعاتو ولوستل شوې چې د محتوی له مخې یو له بله جلا او په نویو مفاهیمو او معلوماتو بنا وې، دغه ناسته دهیواد نومیالي عالم مفتي حبیب الله قاسمي په لنډه وینا او دعا سره پای ته ورسېده.

د سیمینار دویم پړاو په ۲ بجو پیل شو، دریځوال یې هم دا وار اورژبي ویناوال او شاعر مولوي عبدالصمد کوله چې د اکرام الدین مفتون، مشفق حرتمل ، لطف الله خیرخوا په شمول نږدې ۱۰ پورې ادیبانو او شاعرانو پکې شعرونه ولوستل ، داراز د ترنم بلبلانو د فقیر محمد درویش په مشرۍ په خپلو خوږو دلربایي نغمو او ذهبي حنجرو د راغلو ایماني جذبې او احساسات اغېزمن کړل.. سیمینار مازدیګر مهال پای ته ورسېد.

ما چې د سیمینار حضارو دغه پرُ کیفه او پرفیضه حالت کوت، له خوښۍ په جامو کې نه ځاییدم،چې داسې علمي او ادبي بنډار کې د ګډون سعادت راپه برخه دی. پدې غونډه کې مې هغه بـا بصیرته څېرې هم ولیدې چې د طالبانو له حاکمیت څخه تر اوسه یې د خپل قلم په ژبه د افغان جهاد قلمي سنګر ګرم ساتلی او د سرشاري قلمي مقاومت په میدان کې یې د خپلو سربښندونکو مجاهدینو په څېر یې اوږه په اوږه د فکري جګړې مقابله کړې، په سختو شرائطو کې یې د میډیا او مطبوعاتي جګړییز ډګرونه او سنګرونه خالي نه دي پرېښې، او ترڅنګ یې تل یې د افغانستان متدین ولس په خلاف د عقیدوي، کلتوري یرغلونو مخه ډب کړې او لاهم د هیواد استقلال او دیني ملي ارزښتونو ته ژمن دي...

موږ چې سیمینار کې د تحلیلګرانو او شنونکو ویناوې او د شاعرانو او ترانه خوانانو شعرونه او ترانې اورېدلې ، ماته یې هغه وخت انځورواه چې امریکایي زبرځواک غوښتل دغه اسلامپاله او آزادي خوښو غرونه په ستوني کې خپ کړي، واقعاً هغه یو دردوونکې سحنه وه چې دغه خوار ملا او طالب ترټولو یو بد حالت سره مخ و، هغه ته خمکه سره تبې وه، مګر د فرهنګ او قلم شهکارانو همداسې وخت د حق له منبره خپل غاړې هسکې کړې او د حق ندا په پورته کولو سره یې دغه مقاومت ته ساه ور وبښله ، د فرهنګي ډګر مورال ورکوونکو مبارزینو هڅې او کوششونه له هیچا پټ نه دي، زما په آند مخکښان یې باید په جهادي ادب کې په پنځه ستوریزو میډالونو ونازول شي.

د دوی د خواریو د قدرداني په موخه غونډې ته مولوي عبدالسلام مخدوم چې د اسلامي امارت پرمهال د اجتماعي امورو وزیر و، واضحه کړه چې د اسلامي امارت کامیابي او د دوحې تړون د دریو شیانو محصول و:

د هغه په وینا لومړی د افغان متدین ولس خواریو نتیجه وه خصوصاً د مجاهدینو او فدایان قرباني وې چې په خپلو غوښو هډونو یې د اشغالګرو مقابله وکړه ، ځانونه یې ټوټه ټوټه کړل.

دویم: دبرحقې جهادي داعیې دفاع کوونکو او مورال ورکوونکو خواری او هڅې وې کومو چې داسلامي امارت فرهنګپالو او قلموالو مجاهدینو وکړې.

دریم : د اسلامي امارت سالمې رهبری او پیاوړې قیادت وجه وه چې بالآخره د ټولې نړۍ ستر مستکبر او مغروره قوت اړ شو چې د مذاکراتو میز ته راشي .

د حوت د لسمې تاریخي ورځې اهمیت هرچاته څرګند دی او له هیچا یې ارزښت پټ نه دی؟ بس دومره به ووایم چې دغسې تاریخي ورځ باید په همداسې پرتمینو تحلیلي او علمي سیمینارونو وپالل شي، پکار ده چې د اسلامي امارت قیادت دهیواد په هره برخه کې داسې متفاوتې او او نوښتګرې غونډې او سیمینارونه دائر کړي چې افغان ملت او ځوان کهول پکې خپلو مسئولیتونو ته متوجه او ویده صلاحیتونه یې ویښ او تاند کړي.

د لا کامیابۍ او ودې په هیله

# شهادت، غزا او تړون
## درې واړه مو فتحې دي!

م - الیاس فاتح

د [ ۱۳۹۸ل ، کب ۱۰مې] تاریخي تړون په دوحه کې د افغانستان اسلامي امارت لخوا د امریکا ترمشرۍ لاندې د ناټو ایتلافي تړاکګرو سره په داسې حال کې لاسلیک شو، چې دغو زیبناګګرو خواکونو تقریبا په ګرده نړۍ د استعمار منګولې خښې او د استبداد توغ لوړ کړی، خو د افغان طبعي حریتمنې جغرافیې په لوړو ژورو کې یې د استکبار پڼۍ رانسکوره او د جهادي مقاومت په سکروټینو دبرو یې د پستو ارادو ماتې ککرۍ رغړیدلې دي.

هو! همدغسې حال کې چې دا مستکبره صلیبي نړۍ د طالبي لیوني مقاومت پر وړاندې د خپل تاریخ تر ټولو اوږدې ، شرېدلې او بایللې جګړې وروستۍ پولې نشي ورجوړولی.

د امریکې متحده ایالاتو پر ناکامیو پاسه د ناکامیو د عضب او عذاب لړۍ هلته راپیل شوه چې د اکتوبر تر اوومې وړاندې یې د افغان ملت د مقدسې عقیدې، وسپنیز و عزمو او بې دریغو قربانیو پرانیستی کتاب د بصیرت له مخې مطالعه نکړ؛ په دغه وېر کتاب کې یې د افغاني ننګیالې امپراتورۍ څه چې د افغانستان د پېړیو هدېرو کتبې هم ونه لوستې چې د چنګیز، ګورګین، پیرنګ او شوروي لښکرو د شرمېدلو ماتو ویرجن داستانونه پرې کنبلې وو.

بلکې هلته یې د معطلو حواسو سترګې خلاصې او د شبکور عقل هیولا یې تناوونه محسوس کړل چې د یرغلونو قبرستان افغانستان په هیبتناکو دوغلونو کې یې د خپل اشغال مری په داسې حالت کې وموند چې نړۍ پر هره لار او لورې یې د بد وړم څپې خپرې دي.

اوس یې چې د اشغال د مړي پر تابوت د خپلو اعترافونو وروستي میخونه ټک وهلي او د خپل تړون تغر یې پرې غوړولی او د څغلولو په تابیا کې سربداله پاتې دي، حال دا چې د خپلو ځناوریزو منګولو په نوکارو یې د تړون د تغر ربښې په شلېدو دي، آن که یې تر دوو میاشتو زماني واټن کې خپل بدبویه مړی خوندي نکړای شو بیا به د وطن کاني بوټي هم شاهدان وي چې د اشغال مړي خاورې او ایرې به د افغان په ګړنګونو کې باد باد وي، او یاد به یې راتلونکو انساني نسلونو ته تلپاتې وي.

خو موږ د زورور خدای په نصرت په هر حالت کې کامیاب یوو، که شهیدان شو ، ابدي ژوندي ، او په دې انعام نازولي : « وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا» [ آل عمران: ۱٦۹]

که غازیان شو نو د فتحو بریاوې به مو د پښو تناکې تلې ښکلوي، او پر خدایي عنایو به تقدیرېږو:

« لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا » [متفقٌ علیهِ]

او که شرعي تړون مو وکړ نو د رب العالمین لخوا راته همدغه د ښکاره بري زیری، اطمنان او خوښي ده: « إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا» صدق الله العظیم ... پای

# مسؤلیت!

## مولوي بدرالدین حقاني

خدایه! ته مې ساته له شرمونونه
اوس خو مې د غاړې امانت شولو
دومره به له ما څخه پوښتنه وي
څومره مې په خلکو چې قدرت شولو

اوس را په غاړه دي خاونده
د خلکو وینې او مالونه
کوم دفاع به د مظلومو
ورته به غواړمه حقونه

خیال به یې ساتم له مفاسدو نه
څکه چې مې نوم د شریعت شولو
خدایه عمل راته تک سپین کړه
څنګه لباس مې چې تک سپین دی

هسې محفوظ مې له توهین کړه
لکه د بعضو چې توهین دی
وراندې به وم هله امتحان کې
کله مې که رنګ د حقیقت شولو

وراندینی مې هم داسې پوهان وو
د اسلامیزم په درشل وو
په ظاهري تقوی لباس کې
ربه! زموږ نه مکمل وو

پښې یې د هوس په رکابو شولې
څکه بې معنا یې فقاهت شولو
په اندازه د اقتدار
خدایه عمل مې لیکل کېږي

که مې مخلوق کړلو ازار
ستا په حضور به کتل کېږي
هغه صفایي به کړي د ځان
څه د بدرالدین چې مسولیت شولو

shahamat

د دوحې تړون د لومړۍ کلیزې په مناسبت تحلیلي سیمنار
Regarding First Anniversary of Doha Agreement